بسم الله الرحمن الرحیم

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مدنی قانون

## لومړی ټوک

(۳۵۳) گڼه رسمي جريده
نېټه ۱۳۵۵/۱۰/۱۵ هـ . ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خواننده گرامی!**

افتخار داریم که بعد از نشر"مجموعه قوانین افغانستان" با شیوهٔ تنظیم موضوعی، اکنون بخاطر سهولت بیشتر در دسترسی شما به قوانین مورد نیاز، سلسلهٔ دیگری از قوانین نافذهٔ کشور را با قطع کوچک جیبی در اختیار شما قرار می دهیم.

**څارنپوه حبیب الله "غالب"**

**وزیر عدلیه**


**نام:** قانون مدنی- جلد اول

**ناشر:** وزارت عدلیه جمهوری اسلامی افغانستان

**تهیه و ترتیب:** ریاست نشرات

**مدیر پروژه:** قانونمل محمد رحیم"دقیق" سرپرست ریاست نشرات

**تدارکات و اداری:** سید محمد هاشمی رئیس امور مالی و اداری و احمد خالد عزیزی معاون واحد پروژه بانک جهانی در وزارت عدلیه

**طراح جلد وصفحه‌آرا:** امان الله صداقت(غیبی)، عباس رسولی و حسین امینی

**مصححین:** نور علم خان، حلیم سروش، محمد رفیع عمری، احسان الله نیکزاد

**مشاورین:** اسماعیل حکیمی، محمد یما قاسمیار

**تاریخ نشر:** ۱۳۹۰

**تیراژ:** ۸۰۰۰

**چاپ:** اول (قطع جیبی)

**قیمت:** ۸۰ افغانی

**مطبعه:** مطبعه طباعتی و صنعتی احمد

**تلفن ریاست نشرات:** ۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷

**ویب سایت:** www.moj.gov.af


**کلیه حقوق چاپ برای وزارت عدلیه محفوظ است.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پشتو فهرست

## مدني قانون

**تمهيدی باب** ............ ١٤
**لومړی فصل: د قانون تطبيق** ............ ١٤
لومړی قسمت: قانون او حق ............ ١٤
لومړی مبحث: د قانون د تطبيق ساحه ............ ١٤
دوه يم مبحث: د حق استعمال ............ ١٥
دوه يم قسمت: د زمانی له حيثه د قانون تطبيق ............ ١٦
دريم قسمت: د مکان له حيثه د قانون تطبيق ............ ١٧
**دوه يم فصل: اشخاص** ............ ٢٢
لومړی قسمت: حقيقی شخص ............ ٢٢
لومړی مبحث: عمومي حکمونه ............ ٢٢
دوه يم مبحث: مدنی حالت ............ ٢٤
دريم مبحث: د او سيدنی ځای ............ ٢٥
څلورم مبحث: تابعيت ............ ٢٦
پنځم مبحث: کورنی ............ ٢٦
شپږم مبحث: ازدواج ............ ٢٧
اووم مبحث: د ازدواج آثار ............ ٣٤
لومړی فرعه: عمومی حکمونه ............ ٣٤
دوه يمه فرعه: مهر ............ ٣٥
دريیمه فرعه: داوسيدلو ځای ............ ٣٩

(c) ketabton.com: The Digital Library


څلورمه فرعه: نفقه........................................... ۳۹
اتم مبحث: د ازدواج منحل کیدل.................................. ٤۲
لومړی فرعه: عمومی حکمونه..................................... ٤۲
دوه یمه فرعه: فسخ............................................ ٤۲
دریيمه فرعه: طلاق............................................ ٤۳
څلورمه فرعه: خلع ............................................ ٤۷
پنځمه فرعه: جدائی............................................ ٥۱
لومړی جزء: دعیب په سبب جدائی ................................ ٥۱
دوه یم جزء: دضرر په سبب جدائی ................................ ٥۳
دریيم جزء: د نفقی دنه ورکولو په سبب جدائی..................... ٥٥
څلورم جزء: دغیابتپه سبب جدائی ................................ ٥٥
نهم مبحث: د ازدواج د منحلیدلو آثار ........................... ٥٦
لومړی فرعه: عدت.............................................. ٥٦
دوه یمه فرعه: دعدت نفقه ...................................... ٥۹
لسم مبحث: د اولاد حقوق ....................................... ٦۱
لومړی فرعه: نسب.............................................. ٦۱
لومړی جزء: په صحیحی نکاح کی د نسب ثبوت ....................... ٦۱
دوه یم جزء: د جدائی او دمیړه د مرګ وروسته، د نسب ثبوت .. ٦۱
دریيم جزء: په فاسده نکاح کښی او دشبهی په دخول کښی د نسب
ثبوت .......................................................... ٦۲
څلورم جزء: په نسب اقرار........................................ ٦۲
دوه یمه فرعه: رضاع............................................ ٦٤
دریيمه فرعه: حضانت............................................ ٦٥
څلورمه فرعه: د نفقي ورکول .................................... ۷۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی جزء: د اولاد نفقه ........................ ۷۰
دوه یم جزء: د پلرونو او خپلوانو نفقه........................ ۷۲
پنځمه فرعه: د مالونو اداره ........................ ۷۲
لومړی جزء: ولایت ........................ ۷۲
دوه یم جزء: وصایت ........................ ۷۷
اول: د وصي ټاکل ........................ ۷۷
دوه یم: اختیاری وصی........................ ۷۸
دریم: قضائی وصی........................ ۷۹
څلورم: د وصی مکلفیتونه ........................ ۸۱
پنځم : د وصایت پای ........................ ۸٤
دریم جزء: حجر ........................ ۸٦
څلورم جزء: غایب او ورک شوی ........................ ۸۷
پنځم جزء: قضائی مرستی........................ ۸۹
شپږم جزء: نظارت ........................ ۸۹
اووم جزء: جزاګانی ........................ ۹۰
دوه یم قسمت: حکمي اشخاص........................ ۹۱
لومړی مبحث: عمومی حکمونه ........................ ۹۱
دوه یم مبحث: وقف........................ ۹۳
لومړی فرعه: په وقف کښې حق لرل........................ ۹٦
دوه یمه فرعه: د وقف تقسیم........................ ۱۰۰
دریمه فرعه: د وقف اداره ........................ ۱۰۰
څلورمه فرعه: د وقف پاي ته رسیدل ........................ ۱۰٤
دریم مبحث: جمعیتونه........................ ۱۰٦
لومړی فرعه: عمومی حکمونه........................ ۱۰٦

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه یمه فرعه: مدیره هیأت ........................................ ۱۱۱
دریيمه فرعه: عمومي ټولنه........................................ ۱۱۲
څلورمه فرعه: د جمعیت منحلیدل او تصفیه کول .............. ۱۱۵
څلورم مبحث: دعامو ښیګڼو جمعیتونه.............................. ۱۱۶
پنځم مبحث: خیریه جمعیت........................................ ۱۱۹
شپږم مبحث: فرهنګی جمعیتونه.................................. ۱۱۹
اووم مبحث: مؤسسې............................................ ۱۲۰
**دریيم فصل: مالونه**.......................................... ۱۲٤

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست (دری)

## قانون مدنی

**باب تمهیدی** ........ ۱۴۰
**فصل اول: تطبیق قانون** ........ ۱۴۰
قسمت اول: قانون و حق ........ ۱٤٠
مبحث اول: ساحه تطبیق قانون ........ ۱٤٠
مبحث دوم: استعمال حق ........ ۱٤١
قسمت دوم: تطبیق قانون از حیث زمان ........ ۱٤٢
قسمت سوم: تطبیق قانون از حیث مکان ........ ۱٤٣
**فصل دوم: اشخاص** ........ ۱٤٩
قسمت اول: شخص حقیقی ........ ۱٤٩
مبحث اول: احکام عمومی ........ ۱٤٩
مبحث دوم: حالت مدنی ........ ۱٥١
مبحث سوم: اقامتگاه ........ ۱٥٣
مبحث چهارم: تابعیت ........ ۱٥٤
مبحث پنجم: فامیل ........ ۱٥٤
مبحث ششم: ازدواج ........ ۱٥٥
مبحث هفتم: آثار ازدواج ........ ۱٦٢
فرع اول: احکام عمومی ........ ۱٦٢
فرع دوم: مهر ........ ۱٦٤

(c) ketabton.com: The Digital Library


فرع سوم: مسکن ........................................ ۱٦۸
فرع چهارم: نفقه........................................ ۱٦۸
مبحث هشتم: انحلال ازدواج................................ ۱۷۱
فرع اول: احکام عمومی .................................. ۱۷۱
فرع دوم: فسخ........................................ ۱۷۲
فرع سوم: طلاق........................................ ۱۷۳
فرع چهارم: خلع ........................................ ۱۷۸
فرع پنجم: تفریق........................................ ۱۸۳
جزء اول: تفریق به سبب عیب................................ ۱۸۳
جزء دوم: تفریق به سبب ضرر................................ ۱۸٤
جزء سوم: تفریق به سبب عدم انفاق .......................... ۱۸۷
جزء چهارم: تفریق به سبب غیاب ............................ ۱۸۷
مبحث نهم: آثار انحلال ازدواج ............................ ۱۸۹
فرع اول: عدت........................................ ۱۸۹
فرع دوم: نفقه عدت........................................ ۱۹۲
مبحث دهم: حقوق اولاد .................................. ۱۹٤
فرع اول: نسب........................................ ۱۹٤
جزء اول : ثبوت نسب در نکاح صحیح........................ ۱۹٤
جزء دوم: ثبوت نسب بعد از تفریق یا وفات زوج............ ۱۹٥
جزء سوم: ثبوت نسب در نکاح فاسد و دخول به شبهه ....... ۱۹٥
جزء چهارم: اقرار به نسب .................................. ۱۹٦
فرع دوم: رضاع........................................ ۱۹۷
فرع سوم: حضانت........................................ ۱۹۸
فرع چهارم: انفاق ........................................ ۲۰٤

(c) ketabton.com: The Digital Library

جزء اول:  نفقه اولاد ........................................ ۲۰۴
جـزء دوم:  نفـقه آبا و اقارب......................................... ۲۰۷
فرع پنجم: ادارۀ امـوال........................................ ۲۰۸
جزء اول:  ولایت............................................... ۲۰۸
جزء دوم:  وصایت........................................... ۲۱۳
اول:  تعیین وصی............................................ ۲۱۳
دوم:  وصی اختیاری.......................................... ۲۱۴
سوم: وصی قضائی .......................................... ۲۱۵
چهارم:  مکلفیت های وصی .................................. ۲۱۸
پنجم:  ختم وصایت .......................................... ۲۲۱
جزء سوم: حجر................................................ ۲۲۴
جزء چهارم:  غایب و مفقود .................................. ۲۲۵
جزء پنجم:  مساعدت قضائی.................................. ۲۲۷
جزء ششم: نظارت............................................ ۲۲۷
جزء هفتم:  مؤیدات.......................................... ۲۲۸
قسمت دوم: اشخاص حکمی .................................. ۲۲۹
مبحث اول:  احکام عمومی .................................. ۲۲۹
مبحث دوم:  وقف ........................................... ۲۳۱
فرع اول:  استحقاق در وقف................................. ۲۳۵
فرع سوم:  ادارۀ وقف ....................................... ۲۴۰
فرع چهارم:  انتهای وقف ..................................... ۲۴۴
مبحث سوم:  جمعیت ها..................................... ۲۴۶
فرع اول:  احکام عمومی ..................................... ۲۴۶
فرع دوم:  هیأت مدیره ....................................... ۲۵۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرع سوم: مجمع عمومی ........................................ ۲۵٤
فرع چهارم: انحلال و تصفیه جمعیت........................ ۲۵۷
مبحث چهارم: جمعیت های عام المنفعه........................ ۲۵۸
مبحث پنجم: جمعیت خیریه........................................ ۲٦۲
مبحث ششم: جمعیت فرهنگی ...................................... ۲٦۳
مبحث هفتم: مؤسسات............................................. ۲٦۳
**فصل سوم: اموال**............................................ ۲٦۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د عظمی صدارت د ۱۳۵۵ کال د مرغومی د میاشتې نهمې نېټې (۱۴۵۸) ګڼه فرمان

**ښاغلی دوکتور عبدالمجید عدلیه وزیر!**

د وزیرانو مجلس پخپله (۱۷۲۳) ګڼه فیصله کښې د ۱۳۵۵ کال د مرغومې د میاشتې د اوومې نېټې په غونډه کښې د عدلیې وزارت د ۱۳۵۵ کال د مرغومې د میاشتې د شپږمې نېټې (۳۸۱۷) ګڼې عرض پاڼې ته په کتنه د مدني قانون په هکله لاندني مراتب تصویب کړل:

«مدني قانون چه مشتمل دی پر څلورو ټوکو او دوه زره اوڅلور سوه او شپاړس مادو چه د دارالانشاء مهر پرې لګیدلی منظور دی».

د وزیرانو د عالي مجلس مراتب چه د افغانستان د جمهوري دولت د رئیس د حضور د منظورۍ په شرف رسیدلی او د ۱۳۵۵ کال د مرغومې د میاشتې د اتمې نېټې په (۲۴۱۸) ګڼه کښې ثبت شوی دی تاسې ته خبر درکړ شو چه په رسمې جریده کې یې خپریدو ته اقدام وشي.

**داکتر محمد حسن شرق**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مدنی قانون
## تمهیدی باب

## لومړی فصل
## د قانون تطبیق

### لومړی قسمت- قانون او حق

### لومړی مبحث - د قانون د تطبیق ساحه

**۱ ماده:**

(۱) په هغه مواردو کښې چه قانون موجود وی، اجتهاد روا نه دی، د دی قانون حکمونه د لفظ یا د هغی د فحوی په لحاظ د تطبیق وړدی.
(۲) په هغه مواردو کښې چه د قانون حکم موجود نه وی محکمه به د اسلامی شریعت د حنفی فقهی د کلی اساساتو سره سم حکم صادروی،ترڅو چه عدالت په ډیره ښه ممکنه وجهه تأمین شی.

**۲ ماده:**

په هغه مواردو کښې چه په قانون یا د اسلام د شریعت د حنفی فقهی په کلی اساساتو کښې یو حکم موجود نه وی، محکمه به د عمومی عرف سره سم حکم صادروی، خو په دی شرط چه عرف ددی قانون د حکمونو یا د عدالت د اساسونو مناقض نه وی.

**۳ ماده:**

(۱) هغه څه چه په زمانی ثابتیږی تر څو چه د هغی مخالف دلیل موجود نه شی، د اعتبار وړ ګڼل کیږی.
(۲) د قانون د حکم لغو کول بی له د اسی قانون په وسیله چه تر هغی وروسته نافذ شوی وی او په صراحت ئی د هغی د لغو کیدو یا تعدیل حکم نه وی کړی، صورت نه شی موندلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه یم مبحث – د حق استعمال

**۴ ماده:**

که څوك د حق په کسبولو د هغې د وخته ترمخه اقدام وکې، د هغې څخه په محرومیدو محکومیږي.

**۵ ماده:**

د اضطرار حالت، دبل د حق د باطلیدو موجب نه ګرځي.

**۶ ماده:**

ضرر د بالمثل عمل په وسیله، د مینځه نه وړل کیږي.

**۷ ماده:**

د مفاسدو لیری کول د ګټو په جلبولو وړاندې دي.

**۸ ماده:**

قانوني جواز ضمان نفی کوي، که څوك د قانون په حدودو کښې د خپل حق څخه ګټه اخلی د هغې څخه د پیدا شوو خسارو مسؤل نه دي.

**۹ ماده:**

(۱) که څوك د خپل حق څخه تیري وکې ضمان پرې لازمیږي.
(۲) د حق څخه تیري په لاندنیو مواردو کښې پیدا کیږي:
۱ – د عرف او عادت مخالف کارونه.
۲ – د بل په حق باندې د تیري د قصد لرل.
۳ – د شخص د ښیګڼو جزئي والي نسبت هغه ضرر ته چه بل ته ئې رسوي.
۴ – د ښیګڼې ناروا والی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه یم قسمت- د زمانی له حیثه د قانون تطبیق

**۱۰ ماده:**

(۱) د قانون حکمونه د خپریدو څخه وروسته د تطبیق وړګرځی.
(۲) د قانون حکمونه ما قبل ته رجعت نه کوی، مګر په هغه حالونو کښی چه پخپله په قانون کښی تصریح شوی وی او یائی حکمونه د عمومی نظام پوری مربوط وی.

**۱۱ ماده:**

(۱) د اهلیت پوری مربوط حکمونه په ټولو هغو اشخاصو چه د دی قانون د درج شوو شرطونو لرونکی وی، تطبیقیږی.
(۲) که څوک د نوی قانون د حکمونو په اساس د اهلیت نقصان لرونکی وپیژندل شی. نو دا حکمونه د هغه په پخوانیو تصرفونو تاثیر نه لری.

**۱۲ ماده:**

دزمانی د تیریدو پوری مربوط نوی حکمونه د هغی د نافذیدو سره سم د تطبیق وړ دی.
په ټولو مواردو کښی چه د پخوانی قانون سره سم د زمانی د تیریدلو موده نه وی پوره شوی، د نوی قانون د حکمونو تابع کیږی.

**۱۳ ماده:**

که د نوی قانون حکمونه د زمانی د تیریدلو موده نسبت د پخوانی قانون ته کمه وټاکی، که څه هم دا موده د نوی قانون د نافذیدو څخه ترمخه شروع شوی وی، د نوی قانون د حکمونو تابع دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۴ ماده:**
د هغه دلیلونو په مورد کښې چه تر مخه راتلونکي شوي، د هغه قوانینو حکمونه تطبیقیږي چه د راتلونکو په وخت کښې یا په هغه وخت کښې چه باید راتلونکي شوي وي، نافذ وه.

**۱۵ ماده:**
موده د هجري شمسي کلیزي سره سم تطبیقیږي.

**دریم قسمت– د مکان له حیثه د قانون تطبیق**

**۱۶ ماده:**
په یوي قضیه کښې چه په کښې د قوانینو تنازع موجوده وي د حقوقي رابطې د تشخیص په مورد کښې، دافغانستان د قانون حکمونه د تطبیق وړ دي.

**۱۷ ماده:**
د مدني حالونو او د اشخاصو د اهلیت د تثبیت په مورد کښې،د هغوي د متبوعه دولت قانون تطبیقیږي، او په هغه مالي تصرفونو کښې چه په افغانستان کښې عقدیږي او آثاریې هم په افغانستان کښې مرتبیږي، نو که د عقد د دواړو خواوو څخه یو د باندني هیواد تبعه وي او د اهلیت نقصان ولري، خو د اهلیت نقصان ئې پټ سبب ته راجع وي، د پوره اهلیت لرونکی ګڼل کیږي.

**۱۸ ماده:**
د باندنیو حکمي اشخاصو په مورد کښې لکه شرکتونه، جمعیتونه، مؤسسي او نور، د هغه دولت قانون اعتبار لري چه د هغوي مرکزي اداره په هغې کښې واقع وي. که د دي اشخاصو اساسي فعالیت په افغانستان کې پیل شوي وي، نو د افغانستان د قانون تابع دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۹ ماده:**

د ازدواج د صحت د موضوعی شرطونو د تحدید دپاره د دواړو زوجینو متبوع قوانین تطبیق کیږی او د ازدواج د شکلی شرطونو په مورد کښی د هغه هیواد د قانون حکمونه مراعات کیږی چه ازدواج په کښی صورت موندلی وی.

**۲۰ ماده:**

(۱) د ازدواج په عقد مرتب آثار او د هغی پوری په مربوطو مالی چارو، د هغه دولت قانون تطبیقیږی چه میړه د ازوداج د عقد په وخت کښی د هغی تابع وی.

(۲) د طلاق په باره کښی د هغه دولت د قانون حکمونه تطبیقیږی چه میړه د طلاق په وخت کښی د هغی تابع وی.

(۳) دجلاوالی او انفصال په حالونو کښی،د هغه هیواد قانون ته اعتبار ورکول کیږی چه میړه د دعوی د اقامه کیدو په وخت کښی د هغی تابع وی.

**۲۱ ماده:**

د دی قانون د (۱۹ او ۲۰) مادو په درج شوو حالونو کښی، که د زوجینو څخه یو د ازدواج د عقد په وخت کښی افغان وی، نو د اهلیت د شرطونو څخه غیر یوائی د افغانستان د قانون حکمونه تطبیقیږی.

**۲۲ ماده:**

هغه مسئلی چه د زوی ولی، ولایت او نورو وجایبو پوری د پلرونو او زامنو ترمنځ مربوطی دی د پلار د متبوع دولت د قانون حکمونه تطبیقیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۳ ماده:**

د اهلیت دنه لرونکو، د اهلیت د ناقصو او غایبو اشخاصو په مورد کښې د هغوی د متبوع دولت د قانون حکمونه تطبیقیږي. د قیم، وصی، قانوني ولي او داسې نورو د نصبولو په خصوص کې، ددې موضوعاتو پورې د مربوطو قوانینو حکمونه او د نورو قوانینو حکمونه چه د ذکر شوو اشخاصو د حمایې دپاره وضع شوي وي د تطبیق وړدي.

**۲۴ ماده:**

په نفقه باندې د مکلف کولو په باره کښې د هغه شخص د متبوع دولت د قانون حکمونه تطبیقیږي، چه د نفقې په ورکولو مکلف وي.

**۲۵ ماده:**

(۱) دمیراث، وصیت او نورو تصرفونو پورې موضوعي مربوط حکمونه چه د مرګ څخه وروسته زماني پورې مربوط وي د مورث، وصیت کوونکي یا د هغه چاچه د هغه د مرګ په وخت کې ورڅخه تصرف شوی وي، د متبوع دولت د قانون حکمونه ئې تطبیقیږي.

(۲) د وصیت د شکلي حکمونو په باره کښې، د وصیت په وخت کښې د وصی د قانون حکمونه، یا د هغه ځای د قانون حکمونه چه وصیت په کښې پوره شوی، تطبیقیږي.

همدارنګه د شکلي حکمونو نور تصرفونه چه د مرګ څخه وروسته زماني ته منسوب وي د دې حکم تابع دي.

**۲۶ ماده:**

د ملکیت د حیازت او نورو عیني حقوقو په باره کښې د هغه ځای قانون تطبیقیږي چه عقار په کښې واقع وي، د منقولو مالونو په باره کښې د هغه ځای قانون تطبیقیږي چه منقول مالونه د هغه سببونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تحقق په وخت کښې چه پرې اکتساب یا د حق د لاسه ورکول مرتب وی، په ذکر شوی ځای کښې موجود وی.

**۲۷ ماده:**

د هغه التزاماتو په باره کښې چه د عقودو څخه پیدا شوی وی، د هغه دولت قانون تطبیقیږی چه د عقد دواړو خواوو پکښې اوسیدنه غوره کړی وی، په هغه صورت کښې چه داوسیدنې ځای اختلاف ولری، د هغه دولت قانون تطبیقیږی چه عقد پکښې پوره شوی وی. په دی شرط چه د عقد دواړو خواوو د یو ټاکلی قانون د حکمونو د تطبیق په باره کښې موافقه نه وی کړی او یا دقرینو څخه معلومه نه شی چه د عقد د دواړو خواوو مرام د بل قانون تطبیق وو. د عقار پوری مربوط د پوره شوو عقودو په باره کښې،د عقار د ځای قانون تطبیقیږی.

**۲۸ ماده:**

د عقودو دشکلی شرطونو په باره کښې، د هغه هیواد د قانون حکمونه تطبیقیږی چه عقد په کښې پوره شوی وی.

**۲۹ ماده:**

(۱) د غیر تعاقدی التزامونو په باره کښې، د هغه دولت د قانون حکمونه تطبیقیږی چه په هغی کښې د التزام پیدا کوونکی حادثه واقع شوی وی.

(۲) که التزام د داسی حادثی څخه پیدا شوی وی چه د افغانستان څخه د باندی واقع شوی وی او حادثه په هغه ځای کښې قانونی نه وی او په افغانستان کښې قانونی و پیژندل شی، د دی مادی د لومړی فقری حکم نه تطبیقیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳۰ ماده:**

د اختصاصی قاعدو په باره کښی او د اجراآتو پوری د ټولو مربوطو کارونو په باره کښی، د هغه دولت د قانون حکمونه تطبیقیږی چه دعوی پکښی اقامه شوی وی یا اجراآت پکی شوی وی.

**۳۱ ماده:**

د دی قسمت پورتنی درج شوی حکمونه په هغه صورت کښی نافذ دی، چه د هغی په خلاف بل حکم په خاص قانون کښی یا بین الدول معاهده کښی چه په افغانستان کښی نافذه وی موجود نه وی.

**۳۲ ماده:**

که د قوانینو د تنازع په باره کښی د دی قانون په پورتنیو مادو کښی کوم حکم پیدا نه شی، د بین الدول خصوصی حقوقو قاعدی تطبیقیږی.

**۳۳ ماده:**

د هغه اشخاصو په باره کښی چه تابعیت ئی معلوم نه وی، د هغه قانون ټاکل چه تطبیق ئی واجب وی د محکمی په صلاحیت کی دی.

**۳۴ ماده:**

په هغی مواردو کښی چه د باندنیو هیوادونو د قانون تطبیق پیش بینی شوی دی، د ذکر شوی قانون هغه موضوعی حکمونه چه د بین الدول خصوصی قانون پوری مربوط نه وی، تطبیقیږی. که د هغه دولت په قانون کښی چه حکمونه ئی د تطبیق وړ دی، د دینونو تعدد موجود وی، نو د هغه دین حکمونه تطبیقیږی چه د هغه دولت قانون ټاکلی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳۵ ماده:**

د باندنی هیواد د قانون حکمونه لکه چه د دی قسمت په پورتنیو موادو کښی تصریح شو په هغه حدودو کښی د تطبیق وړ دی، چه په افغانستان کښی د عمومی نظام یا عمومی آدابو مخالف نه وی.

## دوه یم فصل
## اشخاص

### لومړی قسمت- حقیقی شخص

### لومړی مبحث - عمومي حکمونه

**۳۶ ماده:**

(۱) دانسان شخصیت د هغه د پوره ولادت سره په دی شرط چه ژوندی وزیږی شروع کیږی او په مرګ پای ته رسیږی.

(۲) جنین د هغه حقوقو لرونکی دی چه قانون پری صراحت لری.

**۳۷ ماده:**

د زیږیدنی او مرګ د نیټی ثابتول د رسمی مربوطو د فترونو په وسیله صورت مومی، که د زیږیدنی یا د مرګ د ثبت په باره کښی سندونه موجود نه وی یا د ثبت د صحت په باره کښی اشتباه پیدا شی، د زیږیدنی یا مرګ د ثابتولو دپاره، د ثابتولو د وسیلو د اقامه کولو څخه په داسی توګه استفاده کیږی چه په قانون کښی تصریح شوی وی.

**۳۸ ماده:**

هر شخص کولای شی چه پرته د خپل نوم، کورنی نوم هم غوره کړی، د کورنی نوم اولادونو ته نقلیږی، که څوك د چا د کورنی نوم ځان ته انتقال کی او یا ورسره په کی جګړه وکی او هغه ته د دی عمل څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضرر ورسیږی، هغه چاته چه ضرر رسیدلی کولی شی چه د تعرض په منع کیدو علاوه تعویض هم و غواړی.

**۳۹ ماده:**

د رشد عمر پوره اتلس شمسی کلونه دی، که څوك دی عمرته ورسیږی او عقلی قوه ولری د خپلو مدنی حقوقو د اجراء کولو، دپاره دپوره اهلیت خاوند ګڼل کیږی.

**۴۰ ماده:**

که څوك د عمر د کموالی، یا معتوه والی، یا لیونتوب له امله ممیزنه وی، نه شی کولی چه حقوقی معاملی تر سره کی، که څوك اوه کلنی ته نه وی رسیدلی غیر ممیز ګڼل کیږی.

**۴۱ ماده:**

ممیز شخص چه د رشد عمر ته نه وی رسیدلی یا داچه د رشد عمرته رسیدلی وی خو سفیه وی یا په غفلت مبتلاوی، د اهلیت نقصان لرونکی ګڼل کیږی.

**۴۲ ماده:**

هغه شخص چه اهلیت یی ناقص یا فاقد وی، د دی قانون د شرطونو او قاعدو سره سم د وصایت، ولایت قوامت د حکمونو تابع دی.

**۴۳ ماده:**

هیڅوك نه شی کولی چه د خپل قانونی اهلیت څخه تنازل یا د هغی په مرتبو آثارو کښی تعدیل راوړی.

**۴۴ ماده:**

آزادی دانسان طبیعی حق دی،هیڅوك نه شی کولی چه د هغې څخه تنازل وکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴۵ ماده:**
د هغه چا چه په شخصی حقوقو ئی تیری کیږی، کولی شی چه د تیری د مخنیوی په غوښتنه علاوه د هغه ضرر د تعویض غوښتنه هم وکی چه د ذکر شوی تیری څخه و رته رسیدلی دی.

**دوه یم مبحث – مدنی حالت**

**۴۶ ماده:**
کوم اشخاص چه د اتلس کلنی عمر پوره کوی، د هغوی مدنی حالت د سجلونود ثبت په مخصوصو دفترونو کښی د دی قانون د(۴۷ ، ۴۸، ۴۹، ۵۰) مادو د درج شوو حکمونو سره سم ثبتیږی.

**۴۷ ماده:**
(۱) د شخص مدنی حالت د هویت په مخصوصه پاڼه کښی درجیږی او د غوښتنی په صورت کښی ورته ورکول کیږی، د هویت پاڼه مشتمله ده په: نوم، تخلص یا د کورنی په نوم، د زیږیدنی په نیټه او ځای، وظیفی، تابعیت، د اوسیدنی په ځای، د میرمنی او اولاد په نومونو او دهغوی دزیږیدو د ځای او نیټی سره.
(۲) د ذکر شوو حالونو تغییر لکه مرګ، یا د اوسیدنی د ځای یا د وظیفی تغییر هم د هویت په پاڼه کښی درجیږی.

**۴۸ ماده:**
د ازدواج، طلاق، په ولدیت او د نسب په ثبوت د اقرار پوری مربوط سندونه چه په اختصاصی مراجعو کښی ترتیبیږی، د دی قانون د (۴۶) مادی په درج شوو دفترونو کښی ثبت ته رسیږی، ذکر شوی مراجع مکلفی د ی چه پورتنی واقعی د ثبت د پاره مربوطی اداری ته په لیکلی توګه واستوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴۹ ماده:**
څارنوال کولی شی چه د دی قانون د(۴۶) مادی د درج شوو سجلونو او مخصوصو دفترونو د ثبت په جریان اطلاع حاصله کی، که په کښی تخلف یا بداجراآت وګوری نو قانونی اقدام به کوی.

**۵۰ ماده:**
ددی قانون د(۴۶، ۴۷، ۴۸، ۴۹) مادو تـول درج شوی حالونـه چـه د سجلونو د ثبت پـه مخصوصو دفترونـو کـښی یا د نفوسو پـه تـذکره کښی درج شوی، د بـل پـه مقابـل کـښی حجت ګڼل کیږی، پـه دی سندونو اعتـراض کـول جواز نلری، مګر داچه اعتـراض د ذکـر شوو سندونو په جعل یا تزویر بناوی.

**دریم مبحث – د او سیدنی ځای**

**۵۱ ماده:**
(۱) د او سیدلو ځای هغه دی چه دی شخص په کښی په عادی توګه سکونت لری، عام له دی چه دا سکونت دایمی وی یا مؤقت.
(۲) یو شخص کولای شی چه دیوه څخه زیات د اوسیدلو ځایونه ولری.

**۵۲ ماده:**
(۱) د اهلیت نقص لرونکی، محجور، مفقود او د غایب د اوسیدلو ځای د هغوی د قانونی قایم مقام د اوسیدلو د ځای څخه عبارت دی.
(۲) هغه اشخاص چه د اهلیت نقصان ولری او د تجارت کولو اجازه ورتـه شوی وی، کـولی شـی چـه د معـاملو د اجـراء کـولـو اوجـایزو تصرفونو د پاره د اوسیدنی د خاص ځای لرونکی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵۳ ماده:**

په هغه ځای کښې چه شخص تجارت یا کسب غوره کوی، د هغی پوری د مربوطو کارونو د اداری له امله د هغه د او سیدلو ځای ګڼل کیږی.

**۵۴ ماده:**

(۱) شخص کولای شی د یو ټاکلی قانونی عمل د اجراء کولو دپاره د اوسیدلو اختیاری ځای ولری.

(۲) د اوسیدلو هغه ځای چه د یوی ټاکلی قانونی معاملی دپاره اختیاریږی، د هغی پوری د ټولو مربوطو کارونو دپاره په شمول د اجباری تنفیذ اجراآتو اعتبار لری، مګر دا چه د اوسیدلو ذکر شوی ځای په صراحت سره د مشخصو معاملو د پاره ټاکل شوی وی.

(۳) د اوسیدلو د اختیاری ځای ثابتول بی له لیکلوسندونو څخه جوازنه لری.

## څلورم مبحث – تابعیت

**۵۵ ماده:**

افغانی تابعیت د خاص قانون په وسیله تنظیمیږی.

## پنځم مبحث – کورنی

**۵۶ ماده:**

د انسان کورنی د هغه خپلوانو څخه متشکله ده چه دیوه شریک اصل په وسیله سره جمع شوی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵۷ ماده:**

مستقیمه خپلوی د اصل او فرعی د نسبت څخه عبارت ده، او غیر مستقیمه خپلوی د دوه اشخاصو د نسبت څخه عبارت ده، په داسی توگه چه یو شریک اصل ولری بی له دی چه یو د بل فرع وی.

**۵۸ ماده:**

(۱) د مستقیمی خپلوی د درجی په محاسبه کښی، د فرعی څخه اصل ته، هره فرعه یوه درجه گڼل کیږی، په خپله اصل په دی محاسبه کښی شامل نه دی.

(۲) د غیر مستقیمی خپلوی د درجی په محاسبه کښی، د فرعی څخه شریک اصل ته او د هغی عکس، هره فرعه یوه درجه شمارل کیږی، او شریک اصل په محاسبه کښی شامل نه دی.

**۵۹ماده:**

د زوجینو څخه دیوه خپلوان د بل زوج په باره کښی په عین خپلوی او درجی کښی پیژندل کیږی.

**شپږم مبحث – ازدواج**

**۶۰ ماده:**

ازدواج یو عقد دی چه د ښځی او سړی معاشرت یی د فامیل د تشکیلولو په مقصد مشروع کړی او د دواړو خواوو حقوق او واجبات تنظیموی.

**۶۱ ماده:**

(۱) د ازدواج عقد په رسمی نکاح نامی کښی د مربوطی اداری په وسیلی په دری نقلونو کښی ترتیب او ثبتیږی، اصل یی په مربوطی اداری کښی حفظ او د عقد هری خواته د هغی یونقل ورکول کیږی. د ازدواج عقد په مخصوصو دفترونو کښی د ثبتیدلو وروسته د دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



قانون د (۴۶) مادی د درج شوی سجلونو د ثبت اداری ته اطلاع ورکول کیږی.
(۲) که د ازدواج د عقد ثبتول په دی ترتیب ممکن نه وی، په بله توګه چه د رسمی سندونو د ثبتولو دپاره ټاکل شوی، صورت مومی.

**۶۲ ماده:**

کوژده د هغی ښځی سره جواز لری چه دبل شخص په نکاح او عدت کښی نه وی.

**۶۳ ماده:**

د معتدی خطبه په صراحت او کنایی سره جواز نلری، عام له دی چه ښځه د رجعی یا بائن طلاق معتده وی او صریح عبارت د وفات معتدی ته جواز نلری.

**۶۴ ماده:**

کوژده د ازدواج د وعدی څخه عبارت ده، د عقد دواړه خواوی کولی شی چه ور څخه منصرف شی.

**۶۵ ماده:**

که دکوژدی دواړه خوا یوه و بل ته تحفه ورکړی وی،تحفه ورکوونکی کولی شی د بلی خوا دعدول په صورت کښی عین تحفه که موجوده وی او که موجوده نه وی د هغی د اخیستلو د ورځنی قیمت غوښتنه وکی. که عدول د تحفی ورکوونکی له خوا صورت ومومی یا تحفه د مینځه ولاړه شی یا استهلاک شوی وی،د هغی بیرته اخیستل په هیڅ صورت سره نه شی کولی.

**۶۶ ماده:**

د ازدواج عقد په صریح ایجاب او قبول سره چه فوریت او استمرار افاده کی بی د وخت د قید څخه په یوه مجلس کښی صورت مومی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۶۷ ماده:**

ازدواج چه د غیر محقق شرط پوری معلق وی یا راتلونکی زمانی ته مضاف وی نه شی عقد کیدای.

**۶۸ ماده:**

که د ازدواج په عقد کښی داسی شرط کښیښودل شی چه د قانون او ازدواج د هدفونو څخه مخالف وی، عقد صحیح او شرط باطل ګڼل کیږی.

**۶۹ ماده:**

د بدل ازدواج په عقد کښی یوه ښځه د بلی ښځی په بدل کی نه واقع کیږی اوهری یوی ښځی ته مهر مثل لازمیږی.

**۷۰ ماده:**

د ازدواج اهلیت هغه وخت پوره کیږی چه نارینه وو د (۱۸) کلنی عمر او ښځو دشپاړس کلنی عمر پوره کړی وی.

**۷۱ ماده:**

(۱) که جلی ددی قانون د(۷۰) مادی درج شوی درشد عمر نه وی پوره کړی دهغی د ازدواج عقد یوائی دپلار په وسیله چه د صحیح تصرف لرونکی وی یا دصلاحیت لرونکی محکمی په وسیلی صورت موندلی شی.

(۲) دصغیره جلی دنکاح عقد چه عمریی د(۱۵) کلونوڅخه کم وی په هیڅ صورت جواز نه لری.

**۷۲ ماده:**

(۱) د ازدواج د عقد دپاره د وکیل نیول جواز لری.

(۲) وکیل نه شی کولی چه خپله مؤکله د خپلی نکاح په عقد کښی راوړی، مګر دا چه د وکالت په عقد کښی پری تصریح شوی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۷۳ ماده:**

وکیل نه شي کولی چه د ازدواج په عقد کښې بې د صلاحیت د تفویض څخه یا دخپل وکیل یا مؤکلي د اجازې په غیر، بل شخص د وکیل په صفت انتخاب کې.

**۷۴ ماده:**

وکیل نه شي کولی داسي کار وکې چه د هغه د وکالت د حدودو څخه خارج وی،د وکالت د حدودو څخه بیرون یو کار دفضولي عمل حکم لری، د مؤکل یا مؤکلي د اجازې پورې موقوف دی.

**۷۵ ماده:**

وکیل میړه ته د ښځې په تسلیمولو او د مهر په ورکولو مکلف نه دی، مګر په هغه صورت کښې چه د مهر د ورکولو ضمانت یې کړی وی. په دی صورت کښې وکیل نه شي کولی چه ورکول شوی مهر د میړه څخه و غواړی، مګر په هغه حالت کښې چه د وکیل ضمانت دمیړه په اجازې صورت موندلی وي.

**۷۶ ماده:**

په هغه صورت کښې چه د عقد دواړه خواوی اصالتاً، شرعاً یا د وکالت په توګه، دیوه شخص د ولایت لاندی واقع وی، شخص کولی شي په یواځنی ډول د عقد د دواړو خواوو له پلوه، ایجاب او قبول وکی، خو په دی شرط چه د عقد قانوني شرطونه مراعات شوی وی.

**۷۷ ماده:**

د نکاح د عقد د صحت د پاره او د هغې د نافذیدو دپاره لاندیني شرطونه لازم دی:

۱ - د عقد د دواړو خواوو یا د هغوی دولیانو یا وکیلانو په وسیله د صحیح ایجاب او قبول ترسره کول.

۲ - د اهلیت لرونکو دوه شاهدانو حضور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ - د نکاح کوونکی او نکاح کیدونکی ترمنځ د دایمی یا مؤقتی حرمت نشتوالی.

**۷۸ ماده:**

قاضی د هغه اشخاصو ولی دی چی ولی نه لری.

**۷۹ ماده:**

هغه اشخاص چه د دی قانون د (۷۸) مادی د درج شوی حکم سره سم د قاضی د ولایت لاندی واقع کیږی، قاضی حق نه لری چه هغوی د خپل ازدواج د عقد لاندی یا د خپلو اصولو یا فروعو د ازدواج د عقد لاندی راوړی.

**۸۰ ماده:**

که عاقله او رشیده بی د ولی د موافقی څخه ازدواج وکی، د نکاح عقد نافذ او لازم دی.

**۸۱ ماده:**

د شخص ازدواج د خپلو اصولو او فروعو سره، د پلار او مور د فروعو سره او دنیکونو د لومړی طبقی د فروعو سره په دایمی ډول حرام دی.

**۸۲ ماده:**

د شخص ازدواج د خپلی ښځی د اصولو سره په مطلق صورت او د خپلی ښځی د فروعو سره د دخول په صورت کښی په دایمی ډول حرام دی.

**۸۳ ماده:**

د زنا کوونکی ازدواج د زناکړی شوی د اصل او فرعی سره همدارنګه د زنا کړی شوی ازدواج د زناکوونکی د اصولو او فروعو سره حرام

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی. د زنـا کـړې شـوی د اصـولو او فروعـو ازدواج د زنـا کـوونکی د اصولو او فروعو سـره د دی حکـم څخـه مستثنی دی.

**۸۴ ماده:**

دلاندنیو حالونو په استثنی، رضاعی حرمت د نـسبی حرمت پـه څیـر دی:

۱ – د رضاعی زوی، خور.

۲– د رضاعی خوریا ورور، مور.

۳– د رضاعی زوی یا لـورنیـا .

۴ – د رضاعی ورور، خور.

**۸۵ ماده:**

په لاندنیو حالونو کښی مؤقتی حرمت پیدا کیږی:

۱ – د دوه داسی ښځو تـرمنځ پـه نکـاح کښی یـو ځـای کیـدل، چـه کـه دهغوی څخـه یـو نارینـه فـرض کـړی شـی، نـو دهغـوی تـرمنځ د ازدواج حرمت منځته راشی.

۲ – د دری طلاقو مطلقه تر څو چه دبل شخص سره ازدواج وکی.

۳ – دبل نکاح کړی او معتده.

۴ – هغه ښځه چه لعان شوی وی، ترڅو چـه میـړه خـپل ځـان دروغجـن کی.

۵ – هغه ښځه چه کتابی نه وی.

**۸۶ ماده:**

د یـوی څخـه د زیـاتو ښـځو ازدواج دراتلونکـو حـالونو دتحقـق څخـه وروسته صورت نیولی شی:

۱ – په هغه حالت کښی چه د ښځو ترمینځ د بی عدالتی ویره موجوده نه وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ - په هغه حالت کښې چه شخص د ښځو دنفقې د تأمین د پاره لکه غذا، کالی، د اوسیدلو د ځای او د مناسبې معالجې مالی توان ولری.
۳ - د مشروعې ښیگڼې په حالت کښې لکه د لمړنۍ ښځې شنډوالی او یا د هغې په داسی رنځونو مبتلا کیدل، چه علاج یې ډیر سخت وی.

**۸۷ ماده:**

د کومې ښځې میړه چه د دې قانون د (۸۶) مادې د حکم په خلاف ازدواج کړی وی، کولی شی چه د دې قانون د (۱۸۳) مادې د درج شوو حکمونو سره سم، د ضرر په سبب د جدایی په اساس د محکمې څخه د طلاق غوښتنه وکی.

**۸۸ ماده:**

ښځه کولی شی چه د ازدواج د عقد په وخت کښې دا شرط کښیږدی چه که میړه یې د دې قانون د (۸۶) مادې د درج شوو حکمونو په خلاف د بلې ښځې سره ازدواج وکی، نو د طلاق واک به هغې ته نقلیږی. دا شرط هغه وخت اعتبار لری چه د نکاح په وثیقې کښې درج شوی وی.

**۸۹ ماده:**

که څوک د یوی ښځې څخه په زیات ازدواج کښې د دې قانون د (۸۶) مادې د حکم سره سم، خپل متاهل والی پټ کی او د هغې ښځې چه نوی یې نکاح کړی د هغې صریحه رضاء او موافقه په دې باره کښې نه وی ترلاسه کړی، په دې صورت کښې نوی ښځه کولی شی که د میړه سره د معاشرت په دوام راضی نه وی، د دې قانون د (۱۸۳) مادې د درج شوو حکمونو سره سم د ضررپه سبب د جدایی په اساس د محکمې څخه د طلاق غوښتنه وکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اووم مبحث – د ازدواج آثار**
**لومړی فرعه – عمومی حکمونه**

**۹۰ ماده:**
په صحیحی او نافذی نکاح د هغی ټول آثار لکه د ښځی نفقه، د میراث حقوق، د نسب ثبوت او د مصاهرت حرمت مرتبیږی.

**۹۱ ماده:**
د ټول مهر د لزوم په باره کښی، که نکاح صحیح وی، نو صحیحه خلوت د دخول حکم لری، که څه هم میړه عنین وی. همدارنګه د نسب د ثابتولو، نفقی، د ښځی د خور د نکاح حرمت په باره کښی د صحیح خلوت حکم لکه په صحیحی نکاح کښی عیناً د دخول حکم لری.

**۹۲ ماده:**
(۱)د مسلمانی ښځی نکاح د نا مسلمان سړی سره باطله ده. مسلمان سړی کولی شی چه د کتابی ښځی سره ازدواج وکی.
(۲) د کتابی ښځی ازدواج د هغی د کتابی ولی په وسیله د دوه کتابی شاهدانو په حضور صورت موندلی شی. د دی مادی په درج شوو مواردو کښی اولاد د پلار د دین تابع ګڼل کیږی.

**۹۳ ماده:**
دکتابی ښځی نکاح په مسلمانی ښځی او عکس یی جواز لری.

**۹۴ ماده:**
که په نا صحیح نکاح کښی دمیړه او ښځې ترمنځ، د دخول او د هغی د مقدمو ترمخه جدایی صورت ومومی، د مصاهرت د حرمت موجب نه ګرځی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۹۵ ماده:**

په باطل ازدواج که څه هم دخول په کښې صورت موندلی وی، د صحیح ازوداج د آثارو څخه هیڅ یو پری نه مرتبیږی.

**۹۶ ماده:**

که ازدواج په ایجاب او قبول صورت موندلی وی خو بعضی شرطونه یی نه وی پوره شوی، فاسد گڼل کیږی او د ازدواج حکمونه پری نه مرتب کیږی.

**۹۷ ماده:**

(۱) فاسد ازدواج د دخول ترمخه دباطلی نکاح حکم لری.
(۲) که د فاسد ازدواج څخه وروسته د خول صورت و مومی نو مهر، نسب، د مصاهرت حرمت، عدت، جدایی او نفقه ثابتیږی.

**دوه یمه فرعه – مهر**

**۹۸ ماده:**

په دخول، صحیح خلوت یا د زوجینو څخه دیوه په مرگ که څه هم دا مرگ د دخول یا صحیح خلوت ترمخه صورت موندلی وی، ټول مهر لازمیږي.

**۹۹ ماده:**

ښځه د مسمی مهر مستحقه گڼل کیږی. که مهر د عقد په وخت کښی نه وی ټاکل شوی او یا نفی شوی وی، نو مهر مثل لازمیږي.

**۱۰۰ ماده:**

مال چه د تملک قابلیت ولری، مهر ټاکل کیدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۰۱ ماده:**

(۱) ټول مهر یا یوه حصه یې په معجله یا مؤجله ډول ټاکل کېدای شي.

(۲) په هغه صورت کښې چه په تعجیل یا تأجیل تصریح نه وي شوی، عرف ته رجوع کیږي.د جدایی او وفات په صورت کښې د مؤجل مهر ورکول د لنډی مودی تابع دی، مګر داچه د عقد په وخت کښې په ټاکلی مودی تصریح شوی وی.

**۱۰۲ ماده:**

(۱) میړه کولی شی چه د عقد څخه وروسته د مهر اندازه زیاته کی.

(۲) په پورتنی حالت کښې د مهر زیاتوالی د لاندنیو شرطونو تابع دی:

۱ - دمهردزیاتوالی اندازه دی معلومه وی.

۲ - ښځه یا دهغی ولی دی دا زیاتوالی قبول کی.

۳ - د زوجیت رابطه دی باقی وی.

**۱۰۳ ماده:**

(۱) بالغه ښځه چه د قانونی ازدواج عمر یې پوره کړی وی د صحت په حالت کښې او پخپله رضا کولی شی، هغه مهر چه ورته نقد ټاکل شوی، ټول او یا یوه حصه یې د میړه د ذمی څخه ساقط کی.

(۲) ښځې چه د دی قانون د (۷۰) مادی درج شوی عمر یې نه وی پوره کړی د هغی پلار په هیڅ صورت نه شی کولی چه مهر د میړه د ذمی څخه ساقط کی.

**۱۰۴ ماده:**

کومی ښځې چه د مهر د ټاکلو اختیار میړه ته سپارلی وی او مهر یې نه وی مسمی شوی، کولی شی چه د عقد څخه وروسته او د دخول ترمخه د مهر ټاکل وغواړی، میړه مکلف دی چه مهر یې وټاکی، که

(c) ketabton.com: The Digital Library



میره د مهر د ټاکلو څخه ځان وژغوره، ښځه کولی شی چه د صلاحیت لرونکی محکمی څخه د مهر مثل ټاکل وغواړی.

**۱۰۵ ماده:**

که جدایی د دخول یا صحیح خلوت څخه ترمخه واقع شی نوکه مهر مسمی شوی وو، نو ښځه د نیمایی مسمی شوی مهر او که نه وو،مسمی شوی دنیمایی مهرمثل مستحقه ده.*

**۱۰۶ ماده:**

که جدایی د صحیح خلوت یا دخول ترمخه د ښځی له خوا صورت ونیسی، ټول مهر یی ساقطیږی.

**۱۰۷ ماده:**

که د زوجینو ترمنځ جدایی د دخول یا صحیح خلوت ترمخه واقع شی،د ښځی دپاره متعه چه د معمولو کالو او امثالو څخه عبارت ده، لازمیږی. د متعی په ټاکلو کښی د میړه مالی قدرت په نظر کښی نیول کیږی خو په هیڅ صورت د هغی قیمت دنیمایی مهر مثل څخه نه شی زیاتیدای.

**۱۰۸ ماده:**

(۱) که طلاق د دخول څخه ترمخه واقع شی او مهر مسمی وی او یا میره مړ شی، ښځی ته متعه نه لازمیږی.

(۲) په هغه صورت کښی چه طلاق د دخول څخه وروسته واقع شی، که مهر مسمی شوی وی او که نه وی مسمی شوی، ښځی ته دمتعی ورکول جواز لری.

---

* **۱۰۵** ماده تعدیل شوې ده، د تعدیلاتو برخې ته دې مراجعه وشی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۰۹ ماده:**

که یو سړی د مرګ د مرض په وخت کښې ازدواج وکې او د خپلې ښځې مهریې د مهر مثل څخه زیات ټاکلی وی، دا زیاتوالی د وصیت د حکمونو تابع ګرځی.

**۱۱۰ ماده:**

مهر، د ښځې ملکیت دی. ښځه کولی شی پخپل مهر کښې هر نوع مالکانه تصرف وکی.

**۱۱۱ ماده:**

که ښځه ټول مهر او یایې یوه حصه د قبض څخه ترمخه یاوروسته خپل میړه ته هبه کی او د دخول څخه ترمخه طلاق واقع شی، میړه نه شی کولی نیمایی مهر وغواړی.

**۱۱۲ ماده:**

که مهر نقدی پیسی یا مثلی شی نه وی، او ښځې د هغې نیمایی یا ټول میړه ته هبه کړی، نوکه طلاق د دخول څخه ترمخه واقع شو، میړه نه شی کولی چه د مهر په نامه څه شی وغواړی.

**۱۱۳ ماده:**

پلار نه شی کولی چه د خپلی لور ټول یا یوه حصه مهر هبه کی.

**۱۱۴ ماده:**

هیڅوك نه شی کولی چه ښځه مجبوره کی چه خپل ټول مهر اویایې یوه حصه، میړه ته یا بل چاته پریږدی. په هغه صورت کښې چه ښځه د ټول مهر د قبضولو ترمخه مړه شی، ورثه یې کولی شی چه دمیړه څخه یې او که میړه یې مړ وو د میړه دورثې څخه یې، د ښځې د میراث د حق د وضع کیدو وروسته، پاتې مهر وغواړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### درېیمه فرعه – داوسیدلو ځای

**۱۱۵ ماده:**
مېړه به د خپل مالی قدرت سره سم د خپلی ښځی دپاره د اوسیدلو مناسب ځای برابروی.

**۱۱۶ ماده:**
که یوسړی دیوی څخه زیاتی ښځی ولری، نه شی کولی چه د هغوی د رضا په غیر د اوسیدلو په یوه ځای کښی هغوی اوسیدو ته مجبور کی.

### څلورمه فرعه – نفقه

**۱۱۷ ماده:**
(۱) د صحیحی او نافذی نکاح په عقد، د ښځی نفقه په مېړه لازمیږی که څه هم ښځه د خپلوانو په کورکښی ژوند کوی، که ښځه ناحقه دمېړه کورته د تللو څخه ځان وژغوری نو نفقه یی په مېړه نه لازمیږی.
(۲) ښځه هغه وخت حق لری چه د مېړه کورته د تللو څخه ځان وژغوری، چه ددی قانون د (۱۱۵-۱۱۶) مادو دحکمونو سره سم ورته د مېړه له خوا د اوسیدلو مناسب ځای نه وی برابر شوی، او یایی معجل مهر نه وی ورکول شوی.

**۱۱۸ ماده:**
د ښځی نفقه مشتمله ده په خوراک، لباس، داوسیدلو په ځای او د ښځی په دارو کولو. خو د مېړه د مالی قدرت په تناسب.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۱۹ ماده:**

که میړه د نفقې د ورکولو څخه ځان وژغوري یا یې په نفقه کښې تقصیر ثابت شي، صلاحیت لرونکې محکمه به میړه د نفقې په ورکولو مکلفوي.

**۱۲۰ ماده:**

د ښځې نفقه د میړه د بندي کیدو له امله که څه هم د نفقې د ورکولو قدرت ونه لري، د میړه د ذمې څخه نه ساقطیږي.

**۱۲۱ ماده:**

که میړه غایب وي د ښځې نفقه د میړه د مالونو څخه چه په نفقه کښې شاملیدای شي او د هغې په تصرف کې وي، تأمینیږي.
د هغې په غیر د هغه مالونو څخه چه د بل چا سره یې د ودیعت یا قرض په توګه لري، ټاکل کیږي.

**۱۲۲ ماده:**

په لاندنیو حالونو کښې ښځه د نفقې حق نه لري:
۱ – که ښځه بې دمیړه د اجازې یا د جایزو مقصدونو په غیر داوسیدلو د ځای څخه ووځي.
۲ – که ښځه د زوجیت په امورو کښې اطاعت ونه لري.
۳ – که د میړه کورته د ښځې د نقلولو مانع موجودي وي.

**۱۲۳ ماده:**

د ښځې نفقه د میړه د مالي قدرت سره سم تأمینیږي،خو په دې شرط چه نفقه د ښځې د کمې اندازې دکفایت څخه لږ نه وي.

**۱۲۴ ماده:**

د نفقې کموالي او زیاتوالي دمیړه د مالي قدرت د تحول او په محل کښې د شیانو د قیمت د تغییر، تابع دی. د ټاکل شوی نفقې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیا توالی یا کموالی دعوی، ترڅو چه د نفقی د تاکلو په نېټه شپږ میاشتی نه وی تیری، نه اوریدله کیږی.

**۱۲۵ ماده:**

که میړه د واجبی نفقی د ورکولو څخه ځان وژغوری، د ځان ژغورلو د نېټی څخه د نفقی په ورکولو مکلف کیږی.

**۱۲۶ ماده:**

طلاقه شوی د طلاق د نېټی څخه د عدت د پای ته رسیدو پوری د نفقی حق لری.

**۱۲۷ ماده:**

د عدت د ورځو د نفقی په باره کښی دطلاقی شوی ښځی دعوی که د طلاق د نېټی څخه تر یو کال زیاته موده تیره شوی وی، نه اوریدل کیږی.

**۱۲۸ ماده:**

واجبه شوی نفقه بی له اداء کولو یا دهغی څخه په ابراء کولو نه ساقطیږی.

**۱۲۹ ماده:**

پخوا له دی چه نفقه و ټاکل شی د هغی څخه ابراء کول باطل دی، عام له دی چه د نفقی تعیین رضایی وی او که قضایی، خو د نفقی د ټاکلو وروسته د هغی څخه ابراء کول هغه وخت صحیح کیږی چه ابراء دتیرو ورځو د نفقی څخه وی دراتلونکی ورځی، هفتی، میاشتی او کال د نفقی ابراء کول هغه وخت صحیح کیږی چه نفقه په ترتیب سره په ورځنی، هفته ایزی، میاشتنی اوکلنی توګه ټاکل شوی وی.

**۱۳۰ ماده:**

د نفقی پور چه ښځه پر خپل میړه اویا میړه پر خپله ښځه لری د زوجینو څخه دهر یوه په غوښتنه مجرا کیدای شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### اتم مبحث - د ازدواج منحل کيدل

### لومړی فرعه - عمومي حکمونه

**۱۳۱ ماده:**

د دی قانون د درج شوو حکمونو سره سم د ازدواج عقد په فسخ، طلاق، خلع اويا جدايی سره منحل کيږی.

### دوه يمه فرعه - فسخ

**۱۳۲ ماده:**

فسخ عبارت ده د ازدواج د عقد د ماتولو څخه د عقد په وخت کی د خلل د واقع کيدو په سبب يا تر هغی وروسته، په داسی توګه چه د ازدواج د دوام منع کيدونکی وګرځی.

**۱۳۳ ماده:**

د دی قانون د (۱۳۲) مادی درج شوی حالونه چه د ازدواج د عقد د فسخ کيدو موجب ګڼل کيږی په لاندينی ډول دی:

۱ - د عقد په وخت کښی خلل دلاندنيو سببونو څخه پيدا کيږی:

الف - د عقد د صحت د شرطونو څخه ديوه نشتوالی.

ب - د ادراک خيار، دليونتوب او معتوهيت زوال.

ج - د ښځی د مهر مثل د اندازی څخه د مهر کموالی.

۲ - د عقد څخه وروسته کوم خلل چه د ازدواج د دوام منع کيدونکی ګرځی، د لاندنيو سببونو څخه پيدا کيږی:.

الف - د مصاهرت حرمت.

ب - لعان.

ج - د غير کتابی ښځی د مسلمانی څخه ځان ژغورل که يی ميړه مسلمان شوی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۳۴ ماده:**

(۱) ددی قانون د (۱۳۳) مادی په دوارو درج شوو حالونو کښې، د ازدواج د عقد فسخ کیدل، د صلاحیت لرونکی محکمی په قطعی حکم صورت مومی.

(۲) د دی قانون د (۱۳۳) مادی د (دوه یمې) فقری د درج شوو سببونو څخه پیدا شوی فسخ د زوجینو په رضا، بی د محکمی د حکم نه هم جواز لری.

**دریمه فرعه - طلاق**

**۱۳۵ ماده:**

(۱) طلاق عبارت دی صحیح زوجیت د رابطی د منحل کولو څخه په حال یا راتلونکی وخت کښې د میړه او ښځی ترمنځ، په داسی الفاظو سره چه په صریحه توګه ورڅخه طلاق افاده شی.

(۲) د دی قانون د حکمونو سره سم، طلاق د میړه له خوا یا د صلاحیت لرونکی محکمی له خوا د ښځی په غوښتنه صادریږی.*

**۱۳۶ ماده:**

طلاق یوائې په هغه ښځه واقع کیږی، چه په صحیحی نکاح یا د رجعی طلاقو په عدت کښې وی.

**۱۳۷ ماده:**

د هر عاقل بالغ میړه طلاق واقع کیږی، که څه هم میړه سفیه یا داسی مریض وی چه عقل یی اختلال نه وی پیدا کړی.

---

* په ۱۳۵ ماده کې ایزاد د تعدیلاتو په برخه کې راغلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۳۸ ماده:**

د نیشي په حالت کښې طلاق نه واقع کیږي.

**۱۳۹ ماده:**

(۱) میړه کولی شي چه خپله ښځه په شفوي یا لیکلی توګه طلاقه کي، که میړه دا دواړه وسیلې ونه لري نو طلاق په معمولو اشارو چه په صراحت سره د طلاق معنی افاده کي، صورت نیولی شي.
(۲) طلاق په صریحو لفظونو سره چه په عرف کښې د طلاق معنی افاده کي، بې له نیته واقع کیږي.

**۱۴۰ ماده:**

د قاصر ښځه، د میړه له خوا یا د میړه د پلار له خوا نه شي طلاقیدلی.

**۱۴۱ ماده:**

دلاندنیو اشخاصو طلاق اعتبار نه لري:
۱ - دلیوني، مګر په هغه صورت کښې چه طلاق یې دلیونتوب څخه ترمخه دیوه شرط پوري معلق کړی وي او شرط دلیونتوب په حالت کښې موجود شي.
۲ - د معتوه.
۳ - دهغه چاچه زور پرې شوی وي.
۴ - دویده.
۵ - دهغه چاچه عقل یې د ډیر عمر یا مرض له امله مختل شوی وي.
۶ - د هغه مدهوش چه خپله ممیزه قوه یې د غضب په علت یا دنوروعواملو له امله دلاسه ورکړې وي اونه پوهیږي چه څه وایي.

**۱۴۲ ماده:**

میړه کولی شي چه خپلې ښځې ته د قانوني وکیل په وسیله طلاق ورکي یا دا چه د طلاق صلاحیت پخپله ښځې ته وسپاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۴۳ ماده:**

که سړی خپلی ښځی ته د طلاق صلاحیت وسپاری نونشی کولی چه ورڅخه بیرته وګرځی، مګرپه هغه صورت کښی چه ښځه ورسپارل شوی صلاحیت قبول نه کی.

**۱۴۴ ماده:**

میړه د ښځی په مقابل کښی د دری طلاقو صلاحیت لری.

**۱۴۵ ماده:**

طلاق د عدد سره یوځای عام له دی چه په لفظونو یا اشاری یی صورت موندلی وی، یو طلاق ګڼل کیږی.

**۱۴۶ ماده:**

طلاق په عمومی صورت رجعی او په لاندنیو مواردو کښی باین وی:

۱ - دریم طلاق.

۲ - د دخول څخه ترمخه طلاق.

۳ - طلاق دیو شی په عوض.

۴ - هغه طلاق چه په دی قانون کښی د بائن په لفظ ذکر شوی.

**۱۴۷ ماده:**

میړه نه شی کولی چه د خپلی په دری طلاقو، طلاقی شوی ښځی سره بیا ازدواج وکی، مګر داچه په دری طلاقو، طلاقه شوی دبل سړی سره ازدواج وکی او ددوه یم ازدواج د دخول څخه وروسته طلاقه شی او عدت پوره کی.

**۱۴۸ ماده:**

د دخول څخه ترمخه دښځی هر نوع طلاق همدارنګه یو یا دوه رجعی طلاقونه چه رجوع پکښی صورت نه وی نیولی، بائن صغری طلاق ورته ویل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۴۹ ماده:**

د ازدواج آثار او دمیرہ صلاحیت په یوه یا دوه رجعي طلاقونو د طلاق د عدت دمودې پورې له منځه نه ځي، پخپل حال باقي پاتې کیږي.

**۱۵۰ ماده:**

راتلونکې زمانې ته د رجوع کولو تعلیق یا بل کوم شرط ته جواز نه لري.د رجوع د صحت دپاره د شاهدانو حضور شرط نه دی.

**۱۵۱ ماده:**

په رجعي طلاقو کښې د زوجیت رابطه د دریم حیض ښځه د پاکوالي وروسته قطع کیږي او د میره د رجوع کولوحق ساقطیږي.

**۱۵۲ ماده:**

د باین صغرې طلاق د ازدواج عقد منحلوي او په هغې مرتب آثار د منځه وړي، دمیرہ صلاحیت او د عدت ښځه په غیر د زوجیت ټولې رابطې د واقع کیدو سره یو ځای ساقطوي.

**۱۵۳ ماده:**

(۱) د باین صغرې طلاق دمیرہ سره د طلاقې شوې ښځې د ازدواج مانع نه ګرځي.

(۲) میرہ کولی شي د باین صغرې طلاقې شوې ښځې سره دعدت په وخت کښې یا دهغې ښځه وروسته بیا ازدواج وکې،خو په دې شرط چه دا ازدواج دښځې په رضا او په نوي عقد او مهر صورت ونیسي.

**۱۵۴ ماده:**

که طلاقه شوې دبل چا سره ازدواج وکې او ددخول ښځه وروسته طلاقه شي، کولی شي چه دلومړني میره سره ازدواج وکې، په دې صورت کښې مخکنې طلاقونه ساقط او میره بیا د درې طلاقو صلاحیت پیدا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۵۵ ماده:**

که میړه د مرګ د مرض په حالت کښې خپله ښځه په باین طلاق، طلاقه کې دا طلاق که د ښځې عدت د مرګ ترمخه پوره شوی نه وی د هغې د میراث د حق نه مانع کیږی، خوپه دی شرط چه طلاقه شوی د مرګ تروختـه پوری په بل سبب د میراث له حقه نـه وی محرومه شوی.

## څلورمه فرعه - خلع

**۱۵۶ ماده:**

(۱) خلع عبارت ده د ازدواج د عقد د منحلولو څخه د هغه مال په بدل کښې چه ښځه یی میړه ته ورکوی.

(۲) خلع د هغې په صریح لفظ یا بل هر لفظ چه د خلعی مفهوم افاده کی، صورت نیسی.

**۱۵۷ ماده:**

خلع هغه وخت صحیح کیږی چه میړه د طلاق ورکولو صلاحیت ولری او ښځه د هغې محل وی.

**۱۵۸ ماده:**

کوم مال چه د مهر په صفت قبلیدای شی، د خلعی بدل کیدای هم شی.

**۱۵۹ ماده:**

د هغې ښځې خلع چه اهلیت نه لری جواز لری، مګر ښځه بی د هغې د مال د ولی د موافقی څخه د خلعی د بدل په ورکولو مجبوره کولی نه شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۶۰ ماده:**

خلع د باین طلاق حکم لري، د محکمی دحکم پوري موقوفه نه ده.

**۱۶۱ ماده:**

د زوجینو څخه هریو کولی شي چې د مقابل خوا د قبلولو ترمخه د خپل ایجاب څخه رجوع وکی.

**۱۶۲ ماده:**

که خلع د مهر څخه په غیر دیو ټاکلی مال په بدل کښې صورت ونیسي، ښځه د هغې په ور کولو مکلفه ده، د زوجیت د حقوقو څخه بله پیدا شوی غوښتنه لکه مهر،یا دتیرو ورځو نفقه چه یویی دبل په ذمه ولري، صورت نه شي نیولی.

**۱۶۳ ماده:**

که خلع د ټول مهر په بدل کښې شوی وی په هغه صورت کښې چه ښځه ټول مهر یایوه حصه ئی تسلیم شوی وی، مکلفه ده چه تسلیم شوی اندازه بیرته ورکی، او که ښځی ته هیڅ مهر نه وی ورکول شوی نو دمیړه د ذمی څخه ساقطیږی، عام له دی چه خلع د دخول څخه ترمخه یا دهغی څخه وروسته شوی وی.

**۱۶۴ ماده:**

که د خلعی په وخت کښې بدل نه وی ټاکل شوی، د زوجیت ټول حقوق د زوجینو د ذمی څخه ساقطیږی، میړه نه شي کولی هغه څه چه یی ښځی ته ورکړی ورڅخه یی بیرته واخلی، یا که ښځه دمیړه په ذمه څه شي باقی ولري هغه وغواړی، عام له دی چه دا خلع د دخول څخه ترمخه شوی وی یا دهغی څخه وروسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۶۵ ماده:**

که د خلعی په وخت کښې د خلعی بدل نفی شوی وی، باین طلاق واقع کیږی خو د زوجیت دحقوقو دساقطیدو موجب نه ګرځی.

**۱۶۶ ماده:**

که میره د خلعی بدل ناحقه واخلی، په هغه صورت کښې چه نکاح فاسده وی، خلع نه صحیح کیږی، ښځه کولی شی چه بدل یی هم بیرته واخلی.

**۱۶۷ ماده:**

که د خلعی بدل میره ته د تسلیمیدو څخه ترمخه د مینځه لاړشی یا په استحقاق ویوړ شی، ښځه د مثل په ورکولو یا د هغی په قیمت مکلفه ده.

**۱۶۸ ماده:**

په خلع کښې د عدت نفقه نه ساقطیږی، مګر دا چه زوجینوپه صریح ډول د هغی په ساقطیدوموافقه کړی وی.

**۱۶۹ ماده:**

که د طفل د شیدو ورکولو یا ساتنی اجوره د نفقی په شمول په یوی ټاکلی مودی کښې د ښځی له خوا د خلعی بدل قبول شی، ښځه د خپل تعهد په ترسره کولو مکلفه ده.

**۱۷۰ ماده:**

که ښځه په یوه علت لکه دبل سړی سره ازدواج، فرار، یا د طفل مرګ یا پخپله د هغی مرګ خپل تعهد دشیدو ورکولو، ساتنی او د طفل د نفقی په باره کښې پوره ترسره نه کی، میره کولی شی د رضاع د مودی اجوره او پاتی نفقه وغواړی، مګر دا چه د خلعی په وخت کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښځې سره، د طفل یا د ښځې د وفات په صورت کښې د نه غوښتنې موافقه شوې وي.

**۱۷۱ ماده:**

که د زیږیدو ترمخه طفل ته د شیدو ورکول د خلعې بدل ټاکل شوی وي، ترهغې وروسته ثابته شي چه حمل موجود نه وو یاسقط شوی دی یا داچه طفل د دوه کلونو د شیدو خوړلو د پوره کیدو ترمخه مړشي، میړه کولی شي چه دشیدو ورکولو د ټولې مودې یا دپاتې مودې د اجورې معادل وغواړي.

**۱۷۲ ماده:**

ښځه هغه وخت کولی شي چه د طفل ساتنه د بلوغ تر عمره پورې د خلعې بدل وټاکي چه طفل، جلې وي، که ښځه د دې مودې په اوږدو کښې د بل سړي سره ازدواج وکي، دجلې پلار کولی شي چه خپله لور د ښځې څخه تسلیم شي، او دساتنې د پاتې مودې داجورې معادل وغواړي، که څه هم ترمخه موافقه شوې وي چه طفل دې دمور سره وي.

**۱۷۳ ماده:**

(۱) که دخلعې په وخت کښې، شرط شوی وي چه طفل دې د حضانت په دوره کښې د میړه سره وي، د خلعې عقد صحیح او شرط باطل دی. ښځه کولی شي چه طفل د حضانت د دورې دپوره کیدو پورې د خپل ځان سره وساتي، خوپه دې شرط چه دا حق په بل علت نه وي ساقط شوی.

(۲) که طفل فقیر وي نو د حضانت اجوره او د هغه نفقه د پلار په غاړه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۷۴ ماده:**
میړه نه شي کولی کوم پور چه یې د خپلې ښځې په ذمې لري هغه د طفل د نفقې په عوض مجري کړي، اوکه د طفل نفقه د خلعې بدل و ټاکل شي، که ښځه خواره وي، میړه د طفل د نفقې په ورکولو مکلف دی، که ښځه غني وي، میړه کولی شي چه ورکړ شوې پیسې ورڅخه و غواړي.

**۱۷۵ ماده:**
(۱) که ښځه د مرګ د مرض په حالت کښې د میړه سره خلع وکي، خلع صحیح ده او دهغې په اثر بائن طلاق واقع کیږي، که ښځه د عدت په وخت کښې مړه شي، پرې د خلعې بدل لازمیږي خو میړه د میراث د حق د جملې څخه د خلعې د بدل څخه اود ترکې ددریمې حصې څخه کوم یو چه کم وي د هغې مستحق ګرځي.که ښځه د عدت څخه وروسته مړه شوه، د ترکې د دریمې حصې او د خلعې د بدل څخه چه هریوکم وو د هغې مستحق کیږي.
(۲) که ښځه جوړه شوه، میړه د خلعې د ټول ټاکلي بدل مستحق کیږي.

**پنځمه فرعه – جدائی**
**لومړی جزء –دعیب په سبب جدائی**

**۱۷۶ ماده:**
ښځه هغه وخت کولی شي چه د جداوالي غوښتنه وکي،چه میړه یې په داسې مرض اخته وي چه بیرته جوړیدل یې ممکن نه وي یا د هغه د معالجې د پاره اوږده موده لازمه وي، په داسې توګه چه یوځای اوسیدل ورسره بې له کلې ضرر څخه نا ممکن وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۷۷ ماده:**

که ښځه د ازدواج د عقد په وخت کښي یا دهغی ترمخه د دی قانون د (۱۷۶) مادی د درج شوو عیبونو څخه خبره وی یا د عقد څخه وروسته د عیب د واقع کیدو په صورت کښی په صریح یا ضمنی ډول په هغی رضائیت ښکاره کی، نو دجداوالی غوښتنه نه شی کولی.

**۱۷۸ ماده:**

ددی قانون د (۱۷۶) مادی د درج شوو عیبونو د تثبیت په باره کښی د اهل خبره د نظریو څخه استفاده کیږی.

**۱۷۹ ماده:**

که عیب له داسی نوعی څخه تثبیت شی چه جوړیدل ورڅخه ناممکن وی، محکمه به بی د درنګه د زوجینو په جدائی حکم کوی، که عیب د علاج وړ وو خو د معالجی د پاره یی اوږده موده لاژم وه، محکمه به د جدائی غوښتنه چه د یوه کال څخه زیاته نه وی په ځنډ کښی اچوی.

**۱۸۰ ماده:**

د عیب په سبب جدائی، بائن طلاق دی.

**۱۸۱ ماده:**

د عیب په سبب جدایی د دایمی حرمت موجب نه ګرځی، زوجین کولی شی د جدائی وروسته یوتر بله ازدواج وکی، عام له دی چه په عدت کښی وی یا ترهغی وروسته.

**۱۸۲ ماده:**

که دهغه زوجینو څخه چه د عیب په سبب د هغوی ترمنځ جدایی واقع شوی وی یو مړ شی بل طرف دهغه څخه دمیراث وړلو حق نه لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه یم جزء -دضرر په سبب جدائی**

**۱۸۳ ماده:**

که ښځه د میړه دیو ځای اوسیدلو ځخه دداسی ضرر دعوی وکی چه دیو ځای اوسیدلو دوام په داسی حالت کښی د زوجینو د امثالو ترمنځ ناممکن کی، کولی شی چه د محکمی ځخه د جداوالی غوښتنه وکی.

**۱۸۴ ماده:**

(۱) که د دعوی د مورد ضرر ثابت شی او د زوجینو ترمنځ اصلاح صورت ونه نیسی، محکمه به په جدائی حکم کوی.
(۲) جدائی، دیوه بائن طلاق حکم لری.

**۱۸۵ ماده:**

که هغه ضرر چه پری دعوه ده ثابته نه شی او ښځه پخپله دعوی اصرار لری، محکمه به دوه نفره د حکم په حیث د زوجینو ترمنځ د صلحی د پاره ټاکی.

**۱۸۶ ماده:**

(۱) حکم باید چه عادل شخص وی، یودی دمیړه د خپلوانو او بل دی د ښځی د خپلوانو ځخه وی، که د زوجینو خپلوان موجود نه وی، نو حکم به د داسی اشخاصو د جملی ځخه ټاکل کیږی چه د زوجینو په حالونو پوره خبر وی یا دزوجینو ترمنځ په صلح کولو قادر وی.
(۲) حکم بایدپه محکمه کښی قسم وکی چه خپله وظیفه به په عدل کولو او امانت لرلو ترسره کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۸۷ ماده:**

کوم اشخاص چه د حکم په حیث ټاکل کیږی باید د زوجینو ترمنځ د اختلاف په سببونو ځان خبر کی او د زوجینو ترمنځ د اصلاح کولو لاری تشخیص کی، او په اصلاح کولوکی دی کوشش وکی.

**۱۸۸ ماده:**

(۱) که حکم د زوجینو ترمنځ په اصلاح کولو موفق نه شی او د اختلاف منشاء میړه یا زوجین وی یا د اختلاف منشاء بیخی معلومه نه وی، محکمه د هغوی ترمنځ د جدایی حکم کوی.*

(۲) که ښځه د اختلاف منشاء وی حکم به د ټول مهر یا د هغی دیوی حصی په بدل کښی تصمیم نیسی.

**۱۸۹ ماده:**

(۱) هغه اشخاص چه د حکم په حیث ټاکل شوی دی که د هغوی په نظریو کښی اختلاف موجود شی، د محکمی له خوا به د نظریو په تجدید مکلف کیږی.

(۲) که اختلاف دوام وکه، محکمه به نور اشخاص ددی قانون د (۱۸۶) مادی د درج شوی حکم سره سم د حکم په حیث ټاکی.

**۱۹۰ ماده:**

حکم به خپل تصمیمونه محکمی ته وړاندی کوی او محکمه به د هغی سره سم حکم صادروی.

---

* د ۱۸۸ مادی (۱) فقره تعدیل شوې، د تعدیلاتو برخې ته يې مراجعه وشی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**درېیم جزء – د نفقې دنه ورکولو په سبب جدائي**

**۱۹۱ ماده:**
که مېړه د نفقې د ورکولو څخه ځان وژغوري، که په ظاهر کښې دشتمنۍ مالک نه وي او د نفقې د ورکولو څخه یې بې وسي هم ثابته نه شي، ښځه کولی شي چه د جدایي غوښتنه وکي.

**۱۹۲ ماده:**
که مېړه د نفقې د ورکولو څخه خپله بې وسي ثابته کي، محکمه به یوه مناسبه موده چه د درې میاشتو څخه زیاته نه وي، هغه ته مهلت ورکوي. که بیا هم د نفقې په ورکولو قادر نه شي، محکمه به د زوجینو په جدایي حکم کوي.

**۱۹۳ ماده:**
جدایي چه د زوجینو ترمنځ د نفقې دنه ورکولو په سبب د محکمې په حکم صورت مومي، د رجعي طلاقو حکم لري، مېړه کولی شي چه خپلې ښځې ته د عدت د مودې په اوږدو کښې رجوع وکي خو په دې شرط چه مېړه د نفقې د ورکولو دپاره خپل مالي قدرت او تیاري ثابت کي.

**څلورم جزء–دغیابتپه سبب جدائي**

**۱۹۴ ماده:**
که مېړه درې کاله یاتر هغې څخه زیات بې له معقول عذر څخه غایب شي، په هغه صورت کښې چه ښځه د هغه دغیابت څخه ضرر وګوري، کولی شي چه د محکمې څخه جدائي وغواړي، که څه هم مېړه دشتمنۍ خاوند وي او ښځه ورڅخه خپله نفقه پوره کولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۹۵ ماده:**

(۱) دمیړه د غیابت په صورت کښې وروسته له دې چه محکمه د ښځې له خوا د جدایې غوښتنه واوري، موضوع به غایب میړه ته په لیکلې توګه اعلاموي، او په هغې کښې به یوه موده ټاکي چه میړه د هغې په اوږدو کښې د خپل فامیل د اوسیدو ځای ته بیرته راشي یا خپله ښځه د خپلې اوسیدنې ځای ته وغواړي.

(۲) په هغه صورت کښې چه غایب میړه دمحکمې داعلام سره سره بې د معقول عذر څخه خپل غیابت ته دوام ورکې یا دا چه د اعلام رسیدل میړه ته بیخي ممکن نه وي، په داسې حالونو کښې به محکمه دزوجینو ترمنځ دجدایې حکم کوي.

**۱۹۶ ماده:**

که میړه د محکمې په قطعي حکم په لس کلن یا ترهغې زیات حبس باندې محکوم شوی وي، ښځه کولی شي چه د پنځو کلونو د مودې څخه وروسته د جدایې غوښتنه وکې.

که څه هم حبس شوی میړه د نفقې د ورکولو قدرت ولري.

**۱۹۷ ماده:**

(۱) د غیابت په سبب جدایې د رجعي طلاق حکم لري.

(۲) که غایب میړه حاضر یا بندي شوی میړه خلاص شي، کولی شي چه د عدت د پوره کیدو ترمخه خپلې ښځې ته رجوع وکې.

**نهم مبحث - د ازدواج د منحلیدلو آثار**

**لومړی فرعه - عدت**

**۱۹۸ ماده:**

عدت دیوی ټاکل شوې مودې څخه عبارت دی چه د هغې په تیریدو سره د ازدواج ټول مرتب آثار د منځه ځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۹۹ ماده:**

(۱) دعدت دپوره کیدو ترمخه هیڅوک‌بې دمیړه ښځه نه شي کولی چه د معتدې سره ازدواج وکی.

(۲) په لاندنیو مواردو کښې په ښځه عدت لازمیږی:

۱-په هغه حالت کښې چه د زوجینو ترمنځ جدایي په صحیحې نکاح یا فاسدې نکاح کښې د دخول یا صحیح خلوت یا فاسد خلوت څخه وروسته په صحیحې نکاح کښې صورت موندلی وی،عام له دی چه دا جدایي د رجعي، یا بائن صغری یا باین کبری طلاق په اساس صورت موندلی وی.

۲ - په هغه حالت کښې چه جدایي د لعان، عیب، دمهر دکموالی،دبلوغ دخیار،دنفقې د نه ورکولو، فسخ، په فاسدې نکاح کښې د متارکې یا په شبهې سره د وطې په سبب صورت موندلی وی.

**۲۰۰ ماده:**

که میړه په صحیحې نکاح کښې د دخول څخه ترمخه یا د هغې څخه وروسته مړشي، پر ښځه عدت لازمیږی.

**۲۰۱ ماده:**

(۱) دطلاق عدت او دفسخې دټولو انواعو عدت د داسې ښځې د پاره چه د صحیحې نکاح کې پرې په حقیقي یا حکمي توګه دخول شوی وی او حامله نه وی، دری پوره حیضونه دی، که حایضه کیږی.

(۲) په هغه حیض کښې چه طلاق یا جدائي صورت موندلی، نه حسابیږی.

**۲۰۲ ماده:**

د هغې ښځې دپاره چه صغیره وی یایې حیض قطع شوی وی یا منکوحه چه د بلوغ عمرته رسیدلې وی خو نه حایضه کیږی، په طلاق یا فسخ کښې یې عدت پوره دری میاشتې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۰۳ ماده:**

که مراهقی او هغی ښځی چه حیض یی قطع شوی وی او خپل عدت یی د میاشتی په حساب شروع کړی وی او د دری میاشتو دپوره کیدو ترمخه حایضی شی، دهغوی عدت پوره دری حیضه دی.

**۲۰۴ ماده:**

(۱) دعادی ښځی عدت چه دوام لرونکی پاکی ولری اونه حایضه کیږی پوره یو کال دی، په دی شرط چه معتده د دی مودی په اوږدو کښی حایضه نه شی. په هغه صورت کی چه په لومړنی کال کښی حایضه شی، نوعدت د دوه یم کال په پای کښی چه معتده په کښی حایضه نه شی، پوره کیږی.

(۲) که په دوه یم کال کښی هم حایضه شی، نوعدت په دریم کال کښی د وینو دلیدو سره سم او که په دریم کال کښی یی وینه ونه لیده، دهغی کال په پای کښی یی عدت پوره کیږی.

**۲۰۵ ماده:**

که ښځی په دوام لرونکی وینی توئید و داسی عادت پیدا کړی وی چه خپل میاشتنی عادت یی هیرکړی وی، نو د داسی ښځی عدت د طلاق یا فسخ کیدو وروسته، پوره اووه میاشتی دی.

**۲۰۶ ماده:**

د حاملی ښځی عدت د حمل د پوره زیږیدو سره پوره کیږی، په دی شرط چه د حمل د اعضا وو تشکل پوره یا یوه حصه یی ظاهر شوی وی.

**۲۰۷ ماده:**

د مرګ عدت څلور میاشتی اولس ورځی دی، مګر داچه ښځه حامله وی، په دی صورت کښی ددی قانون د (۲۰۶) مادی درج شوی حکم تطبیقیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۰۸ ماده:**

که میرہ د خپلی ښځی د عدت دپوره کیدو ترمخه مړشو، د طلاق عدت بیخی لغو او د دی قانون د (۲۰۷) مادی د درج شوی حکم سره سم د وفات عدت لازمیږی، عام له دی چه دا طلاق د میرہ په صحت یا دمرگ په مرض کښی واقع شوی وی.

**۲۰۹ ماده:**

که میرہ د مرگ په مرض کښی خپله ښځه بی د هغی د رضا څخه په بائن طلاق، طلاقه کی او دعدت په اوږدو کښی مړ شی، ښځه د میراث حق لری، په طلاق او وفات دواړو کښی چه د هریو د عدت موده اوږده وه هغه به پوره کوی.

**۲۱۰ ماده:**

که میرہ د بائن صغری د طلاق معتدی سره دعدت په اوږدو کښی ازدواج وکی او بیایی طلاقه کی، په دی صورت کښی ښځه دپوره مهر حق لری، نوی عدت به پوره کوی که څه هم دا طلاق د دخول څخه ترمخه واقع شوی وی.

**۲۱۱ ماده:**

عدت د طلاق د واقع کیدو، وفات، فسخ، جدایی او یا په فاسده نکاح کښی د متارکی سره یو ځای پیل کیږی.

**دوه یمه فرعه – دعدت نفقه**

**۲۱۲ ماده:**

هرنوع جدایی چه دمیرہ له خوا واقع کیږی، عام له دی چه طلاق وی یا فسخ، دعدت د نفقی د ساقطیدو موجب نه گرځی، که څه هم میرہ په هغی کښی قصورونه لری د لاندنیو معتدو نفقه پر میرہ لازمه ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ - د رجعی، بائن صغری، بائن کبری معتده، عام له دی چه ښځه حامله وی او که نه وی.
۲ - د لعان، ایلاء او خلع معتده، مګر داچه د نفقی څخه یی ابراء ورکړی وی.
۳ - د هغی معتدی چه جدایی د اسلام څخه د هغی د میړه د ځان ژغورلو په سبب صورت موندلی وی.
۴ - هغه معتده چه میړه د نکاح د عقد د بلوغ د خیار او ادراک په سبب فسخ کړی وی.
۵ - هغه معتده چه دهغی جدایی دمیړه دمرتد کیدو په اثر یا د داسی فعل د ارتکاب په اثر صورت موندلی وی، چه د مصاهرت د حرمت موجب وګرځی.

**۲۱۳ ماده:**

دهغی معتدی نفقه چه دنکاح عقد یی د بلوغ دخیار، دنفقی د کموالی یا د میړه د معیوبیت په سبب فسخ شوی وی، نه ساقطیږی. خو په دی شرط چه معتده په پورتنیو مواردو کښی قصور ونه لری.

**۲۱۴ ماده:**

هرنوع جدایی چه دښځی دقصور او غوښتنی په سبب واقع شوی وی، دعدت د نفقی د سقوط موجب کیږی. په ذکر شوی صورت کښی که څه هم د جدایی سبب دعدت دپوره کیدو ترمخه له منځه تللی وی،معتده بیا دنفقی حق نه لری.

**۲۱۵ ماده:**

د میړه د وفات په صورت کښی، ښځه د نفقی حق نه لری عام له دی چه حامله وی او که نه وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۱۶ ماده:**
که د معتدی نفقه د میړه له خوا ونه ټاکل شي او معتده هم د عدت تر پای پوری د هغې غوښتنه ونه کی، د عدت نفقه ساقطیږی.

**لسم مبحث - د اولاد حقوق**

**لومړی فرعه - نسب**

**لومړی جزء - په صحیحی نکاح کی د نسب ثبوت**

**۲۱۷ ماده:**
د حمل کمه موده شپږ میاشتی او زیاته موده یی یو کال دی.

**۲۱۸ ماده:**
په صحیح ازدواج کښی دهری ښځی طفل میړه ته منسوبیږی، په دی شرط چه د ازدواج په عقد کښی د حمل کمه موده تیره شوی وی دمیړه او د ښځی ترمنځ یوځای والی او صحیح خلوت ثابت وی.

**۲۱۹ ماده:**
که ښځه د ازدواج دعقد څخه وروسته د شپږو میاشتو څخه په کمه موده کښی طفل وزیږوی، نو طفل میړه ته نه منسوبیږی. مګر داچه میړه یی د زنا د لاری څخه د طفل نسبت ځان ته وکی.

**دوه یم جزء - د جدائی او دمیړه د مرګ وروسته، د نسب ثبوت**

**۲۲۰ ماده:**
که د طلاق یا وفات معتده د میړه د طلاق یا وفات څخه وروسته د یوه کال څخه په زیاته موده کښی وزیږیږی، د داسی معتدی د نسب دعوی نه اوریدله کیږی. مګر داچه دطلاق په صورت کښی پخپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



میړه او د وفات په صورت کښې د میړه ورثه، د طفل نسبت خپل ځان ته وکی.

**۲۲۱ ماده:**

که طلاقه شوی یا ښځه د خپل میړه د مرګ څخه وروسته د خپل عدت په پوره کیدو اقرار وکی، د هغوی د طفل نسبت میړه ته هغه وخت ثابتیږی چه زیږیدنه د اقرار څخه وروسته دشپږو میاشتو څخه په کمه موده کښې یا دمیړه د طلاق یا وفات څخه دیوه کال نه په کمه موده کښې صورت موندلی وی.

**دریم جزء – په فاسده نکاح کښې او دشبهې په دخول کښې د نسب ثبوت**

**۲۲۲ ماده:**

(۱) د ښځې طفل په فاسده نکاح کښې هغه وخت میړه ته منسوبیږی چه طفل کم ترکمه شپږ میاشتې وروسته د دخول د نېټې څخه زیږیدلی وی.
(۲) د متارکې یا جدائی په حالت کښې، طفل هغه وخت میړه ته منسوبیږی چه کم ترکمه د یوه کال په اوږدو کښې زیږیدلی وی.

**۲۲۳ ماده:**

دنسب دثبوت په حالت کښې که څه هم نکاح فاسده وی یا دخول په شبهې سره صورت موندلی وی، د خپلوی مرتب آثار لکه نفقه، میراث، حرمت او داسې نور ثابتیږی.

**څلورم جزء – په نسب اقرار**

**۲۲۴ ماده:**

په نسب ثبوت د زوی ولی د اقرار په وسیله که څه هم د مرګ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرض کښې وی، هغه وخت صورت موندلی شی چه:
۱ - اقرار کوونکی په داسی عمر کښې وی چه اقرارکړه شوی د هغه زوی کیدلی شی.
۲ - اقرار کړه شوی معلوم نسب ونه لری.
۳ - ممیز اقرار کړه شوی د اقرار کوونکی د عوی تصدیق کی.

**۲۲۵ ماده:**

د نسب اقرار د ښځی یا معتدی په وسیله، هغه وخت ثابتیږی چه میړه د ښځی اقرار تصدیق یا د ښځی له خوا ثابتوونکی دلیلونه اقامه شوی وی.

**۲۲۶ ماده:**

که د چا نسب معلوم نه وی او دبل چا په پلار ولی یا مور ولی اقرار وکی، د هغه نسب هغه وخت ثابتیږی چه:
۱ - اقرار کوونکی په داسی عمر کی وی چه د اقرار کړه شوی زوی کیدلی شی.
۲ - اقرارکړه شوی داقرار کوونکی دعوی تصدیق کړی.
په دی صورت کښې د پلار ولی او زوی ولی حقوق د یو په بل ثابتیږی.

**۲۲۷ ماده:**

په نسب اقرار د زوی ولی، پلارولی او مور ولی نه بهر په بل چا تاثیر نلری، مگر داچه تصدیق یی کړی وی.

**۲۲۸ ماده:**

که دچا نسب معلوم وی او د زوی په صفت ونیول شی، د نسب د ثبوت آثار لکه نفقه، د حضانت اجوره، میراث، د مصاهرت حرمت او د طلاقی شوی ښځی حرمت پری نه مرتبیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### دوه یمه فرعه - رضاع

**۲۲۹ ماده:**

د طفل دشیدو ورکولو اجوره د هغه چا په غاړه ده چه د هغه د نفقی په ورکولو مکلف وی. دا اجوره د طفل د تغذیی په مقابل کښی ورکول کیږی.

**۲۳۰ ماده:**

مورچه ترڅو د میړه د نکاح په قید یا د رجعی طلاق په عدت کښی وی، طفل ته دشیدو دورکولو د اجوری حق نه لری.

**۲۳۱ ماده:**

که مور خپل طفل ته دبائن طلاق دعدت په اوږدو کښی یا د هغی د پوره کیدو وروسته،شیدی ورکی،د اجوری حق لری.

**۲۳۲ ماده:**

مور د دوه کلونو څخه له زیاتی مودی، طفل ته دشیدو د ورکولو د اجوری حق نه لری.

**۲۳۳ ماده:**

که بله ښځه بی له اجوری یا د هغی اجوری څخه چه د طفل مور یی غواړی، په کمه اجوره د طفل شیدو ورکولو ته حاضره شی، مور د شیدو ورکولو حق نه لری.

**۲۳۴ ماده:**

کومه اجوره چه دشیدو ورکولو له امله مورته ټاکل شوی، د طفل د پلار د مړینی له امله نه ساقطیږی او د مړی د ترکی څخه دنورو قرضونو په څیر اداء کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۳۵ ماده:**

کومه ښځه چه طفل ته د هغه د زیږیدو د نیټې څخه تردوه کلونو پوری شیدی ورکی، د طفل رضاعی مور او د کوم سړی دیوځای والی څخه چه د هغې شیدی پیدا شوی، د طفل رضاعی پلار ګڼل کیږی او د دی قانون د (۸۴) مادی درج شوی حکمونه ور باندی تطبیقیږی.

**دریمه فرعه - حضانت**

**۲۳۶ ماده:**

(۱) حضانت د طفل دساتنی او پالنی څخه په هغی مودی کښی عبارت دی، چه طفل د ښځی ساتنی او پالنی ته محتاج وی.
(۲) حضانت د هغه چا حق دی چه د دی قانون په اساس تنظیم شوی دی.

**۲۳۷ ماده:**

نسبی مور د زوجیت په اوږدوکی او د جدایی وروسته د طفل د ساتنی او پالنی په باره کښی د لومړیوالی حق لری، خو په دی شرط چه د حضانت د شرطونو لرونکی وی.

**۲۳۸ ماده:**

کومه ښځه چه د طفل حضانت په غاړه اخلی باید چه عاقله، بالغه او امینه وی چه د طفل ضایع کیدل د هغی دبی پروایی له امله متصور نه وی، او د طفل د ساتنی او پالنی توان ولری.

**۲۳۹ ماده:**

کومی ښځی چه د طفل د حضانت حق لری، د حق لرلو د درجی په ترتیب په لاندی ډول دی:

۱ - مور، د مور مور اویا ترهغی پورته.
۲ - دپلار مور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ - اعیانی خور.
۴ - اخیافی خور.
۵ - علاتی خور.
۶ - د اعیانی خورلور.
۷ - داخیافی خور لور.
۸ - دعلاتی خور لور.
۹ - اعیانی ترور.
۱۰ - اخیافی ترور.
۱۱ - علاتی ترور.
۱۲ - دپلار اعیانی ترور.
۱۳ - دپلار اخیافی ترور.
۱۴ - دپلار علاتی ترور.*
۱۵ - دمور عمه.
۱۶ - دپلار عمه.

**۲۴۰ ماده:**

که د دی قانون د (۲۳۹) مادی اشخاص موجود نه شو یا د حضانت د شرطونو اهلیت ونه لری، د حضانت حق دطفل عصبه ووته د میراث په ترتیب انتقالیږی.

**۲۴۱ ماده:**

که د دی قانون د (۲۳۹ - ۲۴۰) مادو درج شوی اشخاص موجود نه وو یا دحضانت د شرطونو اهلیت ونه لری نو طفل د ساتنی او پالنی د پاره د ذوی الارحامو دجملی څخه نږدی محرم ته د حق لرلو د درجی په ترتیب، لاندنیو اشخاصو ته سپارل کیږی:

---

* په ۲۳۹ ماده کې ایزاد د تعدیلاتو په برخه کې راغلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ - دمور پلار.
۲ - اخیافی ورور.
۳ - د اخیافی ورور ځوی.
۴ - اخیافی تره.
۵ - اعیانی ماما.
۶ - علاتی ماما.
۷ - اخیافی ماما.

دکاکا لور،د عمی لور، دماما لور او دترور لور (د خاله لور) د هلکانو د حضانت حق نه لری. د کاکا زوی، د عمی زوی، د ماما زوی،او د ترور زوی(د خاله زوی) د جنکیانو د حضانت حق نه لری.

**۲۴۲ ماده:**

که له یوه ځخه زیات اشخاص د حضانت حق ولری، قاضی کولی شی هغه شخص انتخاب کی چه د طفل په ګټه وی.

**۲۴۳ ماده:**

که د حضانت حق په یوه قانونی سبب ساقط شی، نو کله چه سبب د مینځه ولاړشی، دا حق بیرته عودت کوی.

**۲۴۴ ماده:**

د حضانت اجوره په پلار لازمه ده او دا درضاع او نفقی ځخه جدا ده، که طفل د شخصی شتمنی خاوند وی نو د حضانت اجوره د هغه دشتمنی ځخه ور کوله کیږی، مګر دا چه پلاریی په تبرعی صورت ورکی.

**۲۴۵ ماده:**

(۱) مورچه ترځو د نکاح په قید یا درجعی طلاقو په عدت کښی وی، د حضانت داجوری حق نه لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) که د طفل مور د بائن طلاق په عدت کی وی یا یی د طفل د محرم سره نکاح کړی وی او یا د هغه په عدت کښی وی، د حضانت د اجوری حق لری.

**۲۴۶ ماده:**

که څوك د حضانت د اجوري په ورکولو مکلف وي خو غریب وی او د طفل یوه محرمه د هغه حضانت بي له اجوري په غاړه واخلي، نو هغه څوك چه د حضانت حق لري، کولي شي چه دور کوټي حضانت بی له اجوری په غاړه واخلی او یا یي هغه چاته پریږدي چه اجوره نه غواړی.

**۲۴۷ ماده:**

که څوك د حضانت د اجوري په ورکولو مکلف وي او شتمن وي او طفل هم شتمن وي، طفل د مثلي اجوري په مقابل کښي مورته سپارل کیږی، که څه هم دا اجوره د طفل د شتمني څخه ور کول شی.

**۲۴۸ ماده:**

که ښځه ناشزه شي او دطفل عمر د پنځو کلونو څخه زیات وي، محکمه کولي شي چه د زوجینو څخه هریو چه د طفل په ګټه وي هغه ته یي تسلیم کي.

**۲۴۹ ماده:**

د هلک د حضانت موده پوره اووه کاله او دجلۍ پوره (۹) کاله ده.*

**۲۵۰ ماده:**

محکمه کولي شي چه د دي قانون د(۲۴۹) مادي درج شوي د حضانت موده اوږده کي. خو په دي شرط چه د دوه کلونو څخه زیاته نه وي.*

---

* د دریمې ګڼې ضمیمه د تعدیلاتو برخې ته دې مراجعه وشی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۵۱ ماده:**

که ثابته شي هغه ځوك چه دطفل حضانت په غاړه لري د طفل په ګټه نه وي، که څه هم پلار يي وي، په دي صورت کښی محکمه کولي شي چه طفل دساتني او پالني دپاره هغه چاته وسپاري چه په دوه يم درجه کښي د حضانت حق لری.*

**۲۵۲ ماده:**

مور چه ترڅو د نکاح او عدت په قيد کي وي، نه شي کولي چه طفل د ځان سره بي د هغه د پلار د اجازی سفر ته ويسی.

**۲۵۳ ماده:**

که حاضنه د مور څخه پرته بل څوك وي، نو نه شي کولي چه د طفل د ولي د اجازی په غير هغه د ځان سره سفرته ويسي.

**۲۵۴ ماده:**

دطفل پلار نه شي کولي چه د حضانت په موده کښي د حاضني د اجازي په غير، طفل د ځان سره سفر ته ويسی.

**۲۵۵ ماده:**

کومه ښځه چه ميړه نه لري او د نفقي قدرت هم نه لري، نفقه به يی محرم ولي ترهغی ورکوی چه د محرم ولي سره يو ځای اوسيږی.

---

* په ۲۵۱ ماده کې ايزاد د تعديلاتو برخې ته دې مراجعه وشی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلورمه فرعه – د نفقي ورکول

## لومړی جزء – د اولاد نفقه

### ۲۵۶ ماده:

نفقه د ټولو انواعو سره د صغیر هلک د پاره ترهغه وخته پوري چه د کسب او کار قدرت پیداکي، او دصغیري جلۍ دپاره ترهغه وخته پوري چه ازدواج وکي، دپلار په غاړه ده.

### ۲۵۷ ماده:

د بالغ زوي نفقه چه د کسب او کار قدرت نه لري او فقیروي او همدا رنګه د بالغي فقیری لور نفقه، ترڅو چه واده شي، د پلار په غاړه ده.

### ۲۵۸ ماده:

(۱) دهلک یا جلۍ د نفقي مصرف چه د کسب او کار خاوندان وي د هغوي د عایداتو څخه تأمینیږی او که عایداتو یي نفقه نه پوره کوله نو پاتي برخه نفقه یي د پلار په غاړه ده.

(۲) که دهلک او جلۍ د کسب او کار عایدات د هغوی د نفقي د اندازي څخه زیات وي، زیاته برخه عایدات د پلار له خوا ذخیره کیږی، د بلوغ څخه وروسته هغوي ته ورکول کیږی.

### ۲۵۹ ماده:

که پلارخپل اولاد ته دنفقي ورکولو قدرت و نه لري او د کسب اوکارڅخه هم عاجز وي، د نفقي د ورکولو مکلفیت هغه ولي ته انتقالیږی چه د پلار پسي درجې کښی واقع دی.

### ۲۶۰ ماده:

که پلار غریب وي او د کسب او کار قدرت ولري، داولاد د نفقي ورکول دهغه د ذمي څخه نه ساقطیږي. په دي صورت کښي هغه ولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه دپلار پسي درجي کښې واقع دی د پلار دشتمني پوری د اولاد په نفقې ورکولو مکلف دی.

**۲۶۱ ماده:**

کوم طفل چه پلار نه لري او د مشخصي شتمني مالک هم نه وي، نوکه د طفل خپلوان ځيني اصول وي او ځيني يي د اصولو حواشي وي، نفقه يي په راتلونکي ترتيب ورکول کيږي:

۱ – که يواځي اصول يا يواځي حواشي وارثان وي، د طفل نفقه په اصولو لازمه ده عام له دي چه وارثان وي او که نه وي.

۲ – که اصول او حواشي دواړه وارثان وي، د طفل د نفقي ورکول د هغوی د ميراث د حصي په اندازي لازميږي.

**۲۶۲ ماده:**

پلار د خپل زوي دښځي په نفقي ورکولو مکلف نه دی، مګر داچه ترمخه يي د هغي د ورکولووعده کړي وي،په دي صورت کښي به نفقه په زوي د هغه ترشتمني پوري پور وي.

**۲۶۳ ماده:**

زوجين کولي شي چه د خپل اولاد د نفقي د مصرف په باره کښي صلحه وکي. که صلحه د نفقي د لازمي اندازي څخه په کمه اندازه شوي وي، پلار د نفقي په پوره کولو مکلف دی، او که صلحه د نفقي د لازمي اندازی څخه په زياته اندازه وي او د فاحش تفاوت سره يي صورت موندلی وي، پلار د زياتي اندازي په ورکولو نه مکلف کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه یم جزء – د پلرونو او خپلوانو نفقه**

**۲۶۴ ماده:**
دمور، پلار،نیکونو،او نیاګانو نفقه که د کسب قدرت ولري او که یي ونه لري خو چه فقیر وي د هغه اولاد په غاړه ده چه شتمن وي عام له دي چه اولاد زوي وي یا لور، صغیر وي اوکه کبیر.

**۲۶۵ ماده:**
که څوك فقیر وي او د جسمي، عقلي او عصبی مرضونو له امله د کسب او کار قدرت ونه لري دهغه نفقه د میراث د حصي په تناسب دشتمنو خپلوانو په غاړه ده.

**۲۶۶ ماده:**
د اصولو او فروعو د نفقي څخه په غیر، نفقه د دین په اختلاف ساقطیږي.

**۲۶۷ ماده:**
د خپلوانو نفقه د هغوي د غوښتني د نېټي څخه لازمیږي.

**پنځمه فرعه – د مالونو اداره**

**لومړی جزء – ولایت**

**۲۶۸ ماده:**
(۱) د اهلیت نقصان لرونکو اولادونو د مالونو ولایت په لومړی درجه کښي د پلار بیا د صحیح نیکه دي. خو په دي شرط چه دپلار له خوا وصي نه وي ټاکل شوي.
(۲) ولي او وصي نه شي کولي چه بي د صلاحیت لرونکي محکمي له اجازي د هغه د مال د پالني او ساتني څخه ځان وژغوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۶۹ ماده:**
ولي هغه وخت کولي شي چه د ولایت پوري د مربوطو حقوقو څخه استفاده وکي چه د خپلو مالونو په باره کښي د عین حقوقو د استفادي کولو پوره اهلیت ولري.

**۲۷۰ ماده:**
ولي کولي شي چه دکومو اشخاصو مالونه د هغه د ولایت لاندي دي، د دي قانون د حکمونو سره سم د هغوي د مالونو د اداري او پالني په منظور، تصرف وکی.

**۲۷۱ ماده:**
که داهلیت ناقصو اشخاصو ته یو مال په تبرع ورکول شي او دا شرط شوي وي چه ذکر شوی مال دي د ولي د ولایت لاندي نه ابنبودل کیږی نو په استثنائي توګه دارنګه مالونه د ولي د ولایت څخه ویستل کیږی.

**۲۷۲ ماده:**
ولي نه شي کولي د هغه اشخاصو مالونه چه د ده د ولایت لاندی دي بي د صلاحیت لرونکی محکمي داجازی څخه، چاته په تبرع ورکي.

**۲۷۳ ماده:**
(۱) ولي نه شي کولي بی د صلاحیت لرونکي محکمي داجازی څخه د خپل ولایت لاندی اشخاصو په منقولو مالونو کښي داسی تصرف وکی چی په هغی کی پخپله د ولي یا د هغه دښځي یایي تر څلورمي درجي پوري د خپلوانو ګټه وي.
(۲) ولي نه شي کولي چه د خپل ولایت لاندی اشخاصو عقار د هغه دین په ګروي کښی ورکی چه د ده په ذمه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۷۴ ماده:**

پلار نه شي کولي بې د صلاحيت لرونکي محکمې د اجازې د خپل ولايت لاندي اشخاصوپه غيرمنقولو مالونو،لکه تجارتخانه او قيمتي پاڼو او مالي سندونو کښې چه دشل زروافغانيوڅخه زيات قيمت ولري، تصرف وکي.په داسي مواردو کښي به محکمه د تصرف د جواز په باره کي د حکم د صادرولو څخه ځان نه ژغوري. مګر دا چه دپلار تصرف د هغه د ولايت لاندی اشخاصو د مالونو د تلفولو يا د مال د قيمت د پنځمی حصي د قيمت څخه د زيات غبن سبب شی.

**۲۷۵ ماده:**

که د اهليت نقصان لرونکي شخص مورث وصيت کړی وي چه ولي دي په ميراثي مال کښې تصرف نه کوي، نو ولي نه شی کولي چه بې د صلاحيت لرونکي محکمې د اجازې او نظارت څخه په هغي کښي تصرف وکي.

**۲۷۶ ماده:**

ولي نه شي کولي بې د صلاحيت لرونکي محکمی د اجازی څخه د خپل ولايت لاندی اشخاصو په مالونوکښي لاندينې تصرفونه وکي:

۱ - قرض ورکول ياقرض اخيستل.

۲ - ترهغي مودي پوري په اجاره ورکول چه د رشد د عمر څخه وروسته دوام کوي.

۳ - هغه تجارت ته دوام ورکول چه د اهليت نقصان لرونکي شخص پوري مربوط وی.

۴ - د داسي هبي يا وصيت قبلول چه دټاکلو ذمه واريو سره يو ځاي وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۷۷ ماده:**

(۱) که صغیر د شپاړس کلني عمر ته رسیدلي وي، ولي کولي شي چه د تجارت د پاره څه پیسي ورکي، خو په دي شرط چه د صلاحیت لرونکي محکمي څخه یي اجازه اخیستی وي.

(۲) د تجارت اجازه مطلقه وي او که مقیده، دولی په مرګ یا عزل د مینځه نه ځی.

**۲۷۸ ماده:**

د ماذون صغیر تصرفونه په هغه حدودو کښی چه صلاحیت لرونکي محکمي ورته پخپل مال کښی اجازه ورکړی د هغه شخص په څیردی چه د رشد عمر ته رسیدلی وی.

**۲۷۹ ماده:**

پلار کولي شي یو عقد دخپل ولایت لاندي شخص په نامه په خپل حساب یا دبل شخص په حساب منعقد کي. مګر دا چه قانون د هغي په خلاف حکم کړي وي.

**۲۸۰ ماده:**

نیکه نه شی کولی بی د صلاحیت لرونکي محکمي د اجازي دخپل ولایت لاندي اشخاصو په مالونو کښی تصرف و کي یا داسي صلحه وکي چه د هغوي په ضرر وي یا د هغوی د تأميناتو څخه تنازل وکي او یا په کښی کموالي راوړی.

**۲۸۱ ماده:**

ولي مکلف دي چه د خپل ولایت لاندي اشخاصو د مالونو پوره فهرست د ولایت دپیل څخه د دوه میاشتو په اوږدو کښی یا دهغي نېټي څخه چه د ولایت لاندی شخص دشتمني مالک شوی ترتیب کي او د صلاحیت لرونکی محکمي مربوطی اداري ته یي وړاندی کی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۸۲ ماده:**

ولی کولي شی چه د خپل ولایت لاندي مالونو څخه دخپل ځان یا دبل شخص نفقه تأمین کي، خوپه دی شرط چه د هغوی نفقه د قانون له حیثه لازم ګڼل شوی وی.

**۲۸۳ ماده:**

که د ولایت لاندی شخص عمر پوره اتلسو کلونو ته ورسیږی، د ولي ولایت پاي ته رسیږی، مګر دا چه د حجر دسببونو څخه په یوه سبب صلاحیت لرونکي محکمي د ولایت په دوام باندی حکم کړی وی.

**۲۸۴ ماده:**

که دولي دبد تصرف له امله د شخص مالونو ته چه د ده د ولایت لاندی دی ضرر متوجه شی، محکمه کولی شی چه د ولی ولایت سلب او یایي واک محدود کی.

**۲۸۵ ماده:**

که ولي غایب وګڼل شی یا د یوه کال څخه په زیات حبس محکوم شی، محکمه به د هغه د ولایت په متوقف کولو حکم صادر وی.

**۲۸۶ ماده:**

که د دی قانون د (۲۸۴، ۲۸۵) مادو سره سم د ولي ولایت سلب، محدود یا متوقف شی، نو دموجبه سببونو د لیري کیدو سره او د واک لرونکي محکمي په قرار د هغه د ولایت حق بیرته اعاده کیږی.

**۲۸۷ ماده:**

که دپلار د فاحشو خطا ګانو له امله د شخص مالونو ته چه یي د ولایت لاندی دي خساره ورسیږی، مسئول دي، نیکه په دي مورد کښی دوصي په څیر مسؤلیت لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۸۸ ماده:**

ولي یا ورثه ئی مکلف دي چه د ولایت لاندی شخص مالونه چه د رشد عمر ته ورسیږی ورته یي تسلیم کی، او که یي په کښی تصرف کړی وو، نو دتصرف د ورځی د نرخ سره سم د هغی قیمت ورکی.

**دوه یم جزء – وصایت**

**اول – د وصي ټاکل**

**۲۸۹ ماده:**

وصي باید چه عادل، کفایت لرونکي او دپوره اهلیت لرونکی وی او د هغه چا سره چه د ده د وصایت لاندی واقع کیږی شریک دین ولری.

**۲۹۰ ماده:**

لاندینی اشخاص د وصی په حیث نه شی ټاکل کیدی:

۱– کـه څـوك دعـمـومي آدابـو یـا د عفـت منـافي جرمونـو کـښی د محکمی په قطعی حکم محکوم شوی وی.

۲ – که څوك بد شهرت ولری یا د خپـل ژونـد د تـأمین دپاره مشروع سبب ونه لری.

۳ – که څوك د محکمي په قطعی حکم په افلاس محکوم شوی وی او حیثیت یي نه وی اعاده شوی.

۴ – که څوك ترمخه د محکمي په قطعی حکم د ولایت یا وصایت څخه عزل شوی وی.

۵ – کـه څـوك دپـلار یـا نیکـه دمـرګ څخـه ترمخـه پـه لیکلي توګـه د وصایت له حقه محروم کړی شوی وی.

۶ – کـه څـوك پخپلـه یـا دهغـه یـو اصـل یـا فرعـه یـا ښـځه د اهلیت د نقصان لرونکي سره قـضائی جګړه او یـا کـورنی اختـلاف ولـری چـه د هغی په اثر د اهلیت د نقصان لرونکی ښیګڼو ته د ضرر ویره موجوده وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه یم - اختیاری وصی**

**۲۹۱ ماده:**

(۱) پلار کولی شی چه د خپل اهلیت نقصان لرونکی اولاد یا په ګیډه کښی ثابت حمل د پاره اختیاری وصی وټاکی،همدارنګه تبرع کوونکی کولي شی چه ددی قانون د (۲۷۱) مادي په حالت کښی اختیاری وصي وټاکی.

(۲) په داسي مواردو کښی د وصی اختیار د رسمی یا عرفی وصایت خط په وسیله کیږی چه د پلار یا تبرع کوونکی په لیک یا امضاء شوی وی یا په ذکر شوو سندونو کښی د هغوی د امضاء یا د ګوتی تصدیق شوی و ی.

**۲۹۲ ماده:**

پلار او وصی کولي شی چه د اختیاری وصی په باره کښی دخپل تصمیم څخه رجوع وکی.

**۲۹۳ ماده:**

که چا د وصیت کوونکی په ژوند کښی وصیت قبول کړی وی، نه شی کولي چه ورڅخه وګرځی مګر داچه ترمخه یي د وصایت څخه ګرځیدل د خپلی ارادی پوری مربوط کړی وی.

**۲۹۴ ماده:**

د وصایت ردول باید چه د وصایت کوونکی په ژوند کښی صورت ونیسی او هغه پري خبرشی.

**۲۹۵ ماده:**

که چا د دی قانون د (۲۹۴) مادی ددرج شوو حکمونو سره سم وصیت رد کړی وی، نه شی کولی چه د وصیت کوونکی د مرګ وروسته هغه قبول کی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۹۶ ماده:**
د وصی اختیار هغه وخت نافذ ګڼل کیږی چه دواک لرونکی محکمي له خوا تأیید شوی وی.

**دریم - قضائی وصی**

**۲۹۷ ماده:**
که د اهلیت د نقصان لرونکی شخص یا په ګیډه کښی د ثابت حمل د پاره اختیاری وصی پیدا نه شی، محکمه به وصی ټاکی، وصایت په ګیډه کښی د ثابت حمل دپاره د حمل د زیږیدو وروسته د زیږیدلي دپاره هم نافذ دی، مګر دا چه محکمي د هغه په عوض نوی وصی ټاکلی وی.

**۲۹۸ ماده:**
(۱) محکمه کولی شی د ضرورت په وخت کښی د اهلیت د نقصان لرونکی د پاره دیوه څخه زیات وصیان وټاکی، وصیان نه شی کولی دخپل وصیت لاندی شخص په مالونو کښی په ځانګړی توګه تصرف وکی مګر داچه تصرف بیخی د اهلیت د نقصان لرونکی په ګټه وی.
(۲) که د وصیانو ترمنځ اختلاف پیدا شی نو کوم تصمیم چه محکمه نیسی د عمل کولو وړ دی.

**۲۹۹ ماده:**
په لاندنیو حالونو کښی به محکمه خاص او مؤقت وصی ټاکی:
۱- که د اهلیت د نقصان لرونکی ښیګڼی او د وصی، یا د هغه دښځی یا دوصی د یوه اصل یا فرعی یا د هغه چا دښیګڼو سره چه وصی یي قانوني نماینده وی ټکر وکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ - په هغه حالت کښې چه د اهلیت نقصان دپاره مال تبرع شوی وی او داسی شرط ایښودل شوی وی چه ذکر شوی مال دی د ولی د ولایت لاندی نه ایښودل کیږی.
۳ - په هغه صورت کښې چه د وصایت اجرأ چه دایمي وصي د هغه د خاصو صفتونو فاقد دي ایجاب کړی.

**۳۰۰ ماده:**

محکمه به په لاندنیو حالونو کښې مؤقت وصي ټاکی:
۱ - په هغه حالت کښې چه محکمه دولی ولایت متوقف کی او د اهلیت نقصان لرونکی بل ولی ونه لری.
۲ - په هغه حالت کښې چه وصایت پخپله دوصی په غوښتنه متوقف شوی وی.
۳ - په هغه حالت کښې چه مؤقتي عوامل د وصیت د اجراء کولو مانع ګرځیدلی وی.

**۳۰۱ ماده:**

محکمه کولی شی د اهلیت د نقصان لرونکی د دعوو د حل او فیصلي دپاره د جکړی وصي وټاکی، که څه هم د اهلیت نقصان لرونکی د شتمني مالک نه وی.

**۳۰۲ ماده:**

وصي کولي شی په ټولو هغو مواردو کښې چه د وصیت د اجراء کولو واک لری بل څوك د وکیل په حیث وټاکی، وکیل د وصی د مرګ یا د وصایت لاندی شخص د مرګ سره یو ځای معزول کیږی.

**۳۰۳ ماده:**

د دی قانون د (۲۹۹، ۳۰۰، ۳۰۱) ما دو د درج شوو اشخاصو وظیفی چه د وصی په حیث ټاکل شوی، هغه وخت پای ته رسیږی چه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وصایت موضوع ترسره شوی وی یا د و صایت تاکل شوی موده تیره شوی وی.

**څلورم - د وصی مکلفیتونه**

**۳۰۴ ماده:**

وصـی نـه شـی کـولی د واک لرونکـی محکمـی د اجـازي پـه غیـر د وصایت لاندی شخص په مالونو کښی راتلونکی تصرفونه وکی:

۱ - اخیستل، خرڅول،مقایضه، شراکت، گروی، پور ورکول او بل هر نـوع تـصرف چـه د ملکیـت د انتـقال د عینـی حق د اثبـات موجـب وگرځی.

۲ - د هغه پور حواله ورکول چه د اهلیت نقصان لرونکی یي دبل چا په ذمه لری یا په هغه دپور د حوالی قبلول.

۳ - د مالونو اینبودل د بهره برداری په منـظور او د هغـی تصفیه یا د نـاقـص اهلیت لرونکی په حساب د پور اخیستل.

۴ - د دری کلونو څـخه د زیاتی مـودی د پاره د زراعتـی ځمکـو پـه اجاری ورکـول، او د یوه کال څـخه د زیاتی مودی د پـاره د عمـارت پـه اجاری ورکول.

۵ - د اهلیت د نقصان لرونکی د عقار تر دومره مودی پوری په اجاره ورکول چه د هغه د رشد د عمر د رسیدو وروسته یوکال دوام وکی.

۶ - د داسی تبرعاتو قبلول یا ردول چه د شرط پوری مربوط وی.

۷ - د اهلیت د نقصان لرونکی د شتمنی څخه د هغـه چا نفقه ورکـول چه په ذمه یي لازمه ده، مگر دا چه لازمی نفقـه د محکمـی پـه قطعـی حکم ثابته شوی وی.

۸ - صلحه او حکمیت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹ - د هغه التزاماتو ترسره کول چه په ترکه یا د اهلیت د نقصان لرونکی په ذمه ثابت وی، مګر داچه په دی باره کښی د محکمی قطعی حکم صادر شوی وی.
۱۰ - د دعوو اقامه کول،مګر داچه د هغی په تأخیر کښی د اهلیت د نقصان لرونکی ضرر یا د هغه دحقوقو دضایع کیدوویره وی.
۱۱ - د حقوقو او دعوو څخه تیریدل، یا د محکمي په داسی حکمونو قناعت چه د عادي اعتراض قابلیت ولری یا د دعوي د اقامه کیدو وروسته د داسی اعتراضونو څخه تیریدل، او د محکمي د حکمونو په مقابل کښی دغیر عادی اعتراضونو اقامه کول.
۱۲ - د تأميناتو څخه تیریدل یا د هغی کموالی په دی شرط چه د اهلیت د نقصان لرونکی په ضرر وی.
۱۳ - د اهلیت د نقصان لرونکی مالونو د خپل ځان یا ښځی یا د څلورمی درجی پوری د خپلوانو دپاره یا دهغه چا دپاره چه وصي د هغه نائب وی، په اجاره ورکول.
۱۴ - د اهلیت د نقصان لرونکی په واده مصرف کول.
۱۵ - د تعلیمی مصرفونو یا د داسی مصرفونو ورکول چه د اهلیت نقصان لرونکی د یو ټاکلی کسب د اجراء کولو دپاره هغی ته ضرورت لری.

**۳۰۵ ماده:**

(۱) وصی مکلف دی چه د وصایت لاندی شخص ټول عایدات د نفقی او نورو مصرفونو چه د محکمی له خوا ټاکل شوی، د وضع کیدو وروسته،د محکمی د امانت په حساب یا په هغه بانک کښی چه د محکمی له خوا معرفی کیږی د هغه په نامه په ودیعت کښیږدی.
(۲) همدارنګه وصی باید ټولی قیمت لرونکی پانړی، ګاڼی، او داسی نور چه محکمه یی لازم ګڼی په ودیعت کښیږدی، د وصی دا اجراآت

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید چه د پنځلس ورځو په اوږدو کښی د عایداتو یا د ذکر شوو شیانو دتسلیمیدو وروسته ترسره شی.

(۳) وصی نه شی کولی هغه څه چه یی په بانک کښی په ودیعت ایښی دی د محکمی د اجازی په غیر واخلی.

**۳۰۶ ماده:**

وصی مکلف دی چه کومی دعوی د اهلیت په نقصان لرونکی اقامه کیږی دهغی پوری د مربوطو اجراآتو سره یو ځای، محکمی ته اطلاع ورکی او په دی باره کښی د محکمی د امرونو پیروی وکی.

**۳۰۷ ماده:**

وصی مکلف دی دکلنی حساب صورت او دهغی پوری مربوط سندونه د نوی کال دپیل کیدو ترمخه مربوطی محکمی ته وړاندی کی.

**۳۰۸ ماده:**

که د وصایت لاندی شخص شتمنی دلس زرو افغانیو څخه زیاته نه وی، محکمه کولی شی چه وصی د لازمی حساب د صورت د ترتیب او وړاندی کولو څخه معاف کی.

**۳۰۹ ماده:**

که د وصی پر ځای بل څوك وټاکل شی، وصی مکلف دی دوصایت د پای ته رسیدو د نیټی څخه د دیرش ورځو په اوږدو کښی د خپل وصایت لاندی شخص د مالونو دحساب صورت ترتیب او محکمی ته وړاندی کی.

**۳۱۰ ماده:**

د وصایت اجراء کول اصلاً بی له اجوری دی، محکمه په استثنائی ډول کولی شی د وصی د غوښتنی په اساس دیوه ټاکلی کار په مقابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې داجوری یا مکافات دورکولو امر وکی،مګر د اجوری ورکول چه د غوښتنې د مودی ترمخه وی په هیڅ صورت جواز نه لری.

**پنځم - د وصایت پای**

**۳۱۱ ماده:**

په لاندنیو حالونو کښې د وصی وظیفه پای ته رسیږی:
۱ - د اهلیت د نقصان لرونکی مرګ.
۲ - د اهلیت د نقصان لرونکی عمر اتلسو کلونو ته رسیدل مګر دا چه د محکمې په قرار د اتلس کلنی د عمر څخه ترمخه د وصایت په دوام امر شوی وی یا داچه د اهلیت نقصان لرونکی ذکر شوی عمر ته درسیدو په وخت کښې معتوه یا لیونی وی.
۳ - د ولي د ولایت بیرته اعاده کیدل.
۴ - د هغه کار پای ته رسیدل چه خاص وصی د هغې د اجراء کولو دپاره ټاکل شوی دی.
۵ - د وصی عزل یا دهغه د استعفی قبلول.
۶ - د وصی د قانونی اهلیت نشتوالي یا د هغه غیاب یا مرګ.

**۳۱۲ ماده:**

وصی په لاندنیو حالونو کښې عزل کیږی:
۱ - کــه د دی قــانون د (۲۸۹، ۲۹۰) مــا دو د وصــیت څخــه دمحرومیدو د درج شوو سببونو څخه یو سبب پیداشی.
۲ - کـه د اهلیـت نقـصان لرونکـی شـخص د مـالونو پـه اداری کـښې اهمال یا بد تصرف وکی یا د هغـه د وصایت پـه دوام کـښې د اهلیـت نقصان لرونکی ګټو ته تاوان وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳۱۳ ماده:**

وصی مکلف دی د وصایت د پای ته رسیدو د نیټې څخه د دیرش ورځو په موده کښې د خپلې اداری لاندې مالونه سره د حساب د صورت او د هغې پوری مربوط سندونه قایم مقام یا پخپله د اهلیت نقصان لرونکی ته که د رشد عمر ته رسیدلی وو او یا که مړ شوی وو نو د هغه ورثې ته تسلیم کی دتسلیمیدو وروسته دی د حساب صورت او د مالونو تسلیمیدل د محکمې مربوطې اداری ته وړاندی کی.

**۳۱۴ ماده:**

که وصی مړ شی یا حجر کړی شوی یا غایب و پیژندل شی، د هغه ورثه یا هغه څوك چه یې قایم مقام دی د مالونو په تسلیمولو او د حساب د صورت په وړاندی کولو مکلف کیږی.

**۳۱۵ ماده:**

محکمه کولی شی چه د وصی د غوښتنی له امله د وصایت لاندی ټول یا یوه حصه مالونه د اداری کولو دپاره پخپله د اهلیت نقصان لرونکی ته چه (۱۶) کلنی عمرته رسیدلی وی اجازه ورکی، که د وصی غوښتنه رد شوه، نو د محکمې د آخرنی قرار د نیټې څخه دیوه کال دتیریدو ترمخه نه شی کولی چه خپله غوښتنه بیا محکمې ته وړاندی کی.

**۳۱۶ ماده:**

د اهلیت د نقصان لرونکی شخص تعهد یا ابراء چه د رشد عمر ته رسیدلی وی د وصی په ګټه هغه وخت اعتبارلری چه وصی د هغه د مال پوری مربوط آخرنی د حساب صورت ترتیب او وړاندی کړی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳۱۷ ماده:**

(۱) د اهلیت نقصان لرونکی شخص چه د مالونو د اداری کولو اجازه ورکړ شوی وی، مکلف دی د مالونو د کلني حساب صورت مربوطی محکمی ته وړاندی کی، کله چه محکمه په حساب غور کوی د وصی نظریه به اخلی.

(۲) محکمه کولی شی چه امر وکی د اجازی ورکړ شوی شخص کلنی خالص عایدات پخپله د محکمی د امانت په حساب یا په یوه بانک کښی د پس انداز په توګه په ودیعت کښیښودل شی. په دی صورت کښی اجازه ورکول شوی شخص نه شی کولی بی د محکمی د اجازی څخه د هغی څخه استفاده وکی.

**۳۱۸ ماده:**

که اجازه ورکول شوی شخص د مالونو په اداره کښی د دی قانون د (۳۱۷) مادی د درج شوو حکمونو په خلاف اجراآت وکی یا پخپله اداره کښی بد تصرف وکی یا داسی سببونه پیدا شی چه د اجازی ورکړ شوی شخص د تصرف د دوام له امله د هغه د اداری لاندی مالونه د ضرر سره مخامخ وی. محکمه کولی شی چه پخپل ابتکار یا د څارنوال د غوښتنی یا دیوه علاقه لرونکی شخص د غوښتنی په سبب، د اجازی ورکړ شوی شخص د دلیلونو د اوریدلو وروسته، ورکړ شوی اجازه محدوده یا سلب کړی.

**دریم جزء – حجر**

**۳۱۹ ماده:**

(۱) بالغ شخص دلیونتوب، معتوهیت، سفاهت یا غفلت په سبب په حجر محکومیږی او ترهغه و خته دوام کوی چه محکمی د هغی په لیری کولو حکم نه وی کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) محکمه به د دی قانون د درج شوو حکمونو سره سم د هغه شخص د مالونو د اداری دپاره چه حجرکړی شوی دی، قیم ټاکی.

**۳۲۰ ماده:**

د حجر کړی شوی د پالنی مصرفونه د ټولو مصرفونو څخه وړاندی ګڼل کیږی.

**۳۲۱ ماده:**

(۱) که محکمی یو شخص د سفاهت یا غفلت په سبب د مالونو په اداره کښی په حجر محکوم کړی وی، محکمه کولی شی چه دیوی حصی مالونو اداره د حجر کړی شوی په وسیله مجازکی.
(۲) په پورتنی صورت کښی د هغه اهلیت نقصان لرونکی پوری مربوط حکمونه چه د مالونو په اداره کولو کښی ورته اجازه کړه شوی وی تطبیقیږی.

**۳۲۲ ماده:**

د دی قانون د (۲۸۹، ۲۹۰) مادو درج شوی شرطونه د قیم په باره کښی اعتبار لری او همدارنګه د وصی پوری مربوط ټول حکمونه د هغه په باره کی د تطبیق وړ دی.

**څلورم جزء - غایب او ورک شوی**

**۳۲۳ ماده:**

هغه څوك چه د قانونی اهلیت لرونکی وی، که دیوه کال یا د هغی څخه د زیاتی مودی دپاره غایب شی او د دی غیابت په اثر د هغه ګټی د خطر سره مخامخ شی په راتلونکی حالونو کښی به محکمه د هغه له خوا وکیل ټاکی:
۱ - په هغه حالت کښی چه ورک وی او مړی او ژوندی ئی معلوم نه وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ – پـه هغـه حالـت کـښې چـه د افغانـستان څخـه د بانـدی د هغـه د اوسیدلو او اقامت ځای معلوم نه وی او د غایب لـه خوا د مربوطو کارونو اداره یا د قایم مقام په اجراآتو نظارت ناممکن وی.

**۳۲۴ ماده:**

که غایب شخص ترمخه د ځان دپاره عـام او تـام وکیـل ټاکلي وي او ذکر شوی وکیـل د وصـی پـوری دټولو مربوطو شرطونو لرونکی وی، محکمـه بـه د هغـه وکالـت تأییـدوي او د هغـی پـه غیـر بـه بـل څوك د وکیل په حیث ټاکی.

**۳۲۵ ماده:**

د وصـی پـوری ټول مربـوط حکمونـه د غـایب شـخص د وکیـل پـه بـاره کښې هم د تطبیق وړدی.

**۳۲۶ ماده:**

(۱) کـه څوك د څلورو کلونـو څخـه زیـات ورک شـوی وی او پـه غـالب ګمان د هغه د مرګ تصور کیدلي شی، دارنګه شخص دواک لرونکی محکمـی پـه حکـم مړ پیژنـدل کیـږی او پـه نـورو مـواردو کـښې د هغـی مـودی تـشخیص چـه ترهغـی وروسـته، ورک شـوی شـخص، مـړ شـوی پیژندل کیږی، د محکمی رای پوری مربوط دی.
(۲) محکمـه بـه د ورک شـوی شـخص د ژونـد یـا مـرګ د معلومولـو د پاره د ممکنو وسیلو څخه استفاده کوی.

**۳۲۷ ماده:**

که د دی قانون د (۳۲۶) مادی د درج شـوی حکمونـو سـره سـم د ورک شـوی شـخص پـه مـرګ حکـم شـوی وی، ښـځه یـي د مـرګ دعـدت پـه تیرولو مکلفه ده، او ټوله متروکه یي د هغه وارثینو ترمنځ تقـسیمیږی چه د مرګ د حکم د صـادریدو پـه وخـت کـښې د میـراث حق لرونکـی وپیژندل شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳۲۸ ماده:**
دغیابت حالت هغه وخت پاي ته رسیږی چه د هغی موجبه سببونه د مینځه ولاړ شی یا غایب شخص مړ شی، او یا دا چه غایب شخص د واک لرونکی محکمی په حکم مړ شوی وپیژندل شی.

## پنځم جزء – قضائی مرستی

**۳۲۹ ماده:**
که څوك کوڼ او ګنګ یا ړوند او کوڼ، یا ړوند او ګنګ وی او ونه شی کړی چه خپله اراده په صریح ډول ښکاره کی، محکمه کولی شی د داسی شخص دپاره ددی قانون د (۳۰۴) مادی د درج شوو تصرفونو د مرستی دپاره، قضائي مرستیال و ټاکی.

**۳۳۰ ماده:**
د دی قانون د (۳۰۳) مادی درج شوی حکمونه په قضائی مرستیال تطبیقیږی.

## شپږم جزء – نظارت

**۳۳۱ ماده:**
(۱) محکمه کولی شی د وصی، قیم او د غایب د وکیل د اجراآتو د مراقبت په منظور، یو څوك د ناظر په توګه وټاکی.
په هغه صورت کښی چه مصلحت ایجاب کړی، د کار د جریان څخه مربوطه محکمه او یا څارنوال خبر کړی.
(۲) نائب یا وکیل مکلف دی چه د ناظر استیضاح ته دمالونو د اداری، د سندونو د تحقق او د هغی پوری مربوطو پاڼو په باره کښی ځواب ووایی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳) که نائب یا وکیل موجود نه وی، ناظر به د مربوطی محکمی څخه د نوی نائب یا وکیل د ټاکلو غوښتنه کوی.
(۴) دنائب یا وکیل د ټاکلو د نېټې پوری به ناظر د داسی کارونو اجراء کولو ته اقدام کوی چه په تأخیر کښی یي ضرر تصور کیدای شی.

**۳۳۲ ماده:**
د ناظر د ټاکلو، عزل، استعفی اجوری او مسئولیت په باره کښی، د نائب یا وکیل پوری مربوط حکمونه تطبیقیږی.

**۳۳۳ ماده:**
که د نظارت موجبه سببونه د مینځه ولاړ شی، محکمه به د ناظر وظیفي ته خاتمه ورکوی.

**اووم جزء – جزاګانی**

**۳۳۴ ماده:**
(۱) که وصی په هغه وظیفو کښی چه د دی قانون د حکمونو سره سم د هغی په اجرا کولو مکلف وی، د قصور ارتکاب کوونکی شی یا د محکمی په صادر شوی قرار کښی اهمال وکی، محکمه کولی شی، د قانون د ټاکل شوو جزاګانو په نظر کښی نیولو سره، وصی په نقدی جریمی چه دلس زرو افغانیو څخه زیاته نه وی سره دټولی اجوری یا د هغی د یوی برخی په محرومیت او په عزل یا د ذکر شوو جزاګانو څخه په یوی محکوم کی.
(۲) په هغه صورت کښی چه وصی د جزاء ورکولو لاژمی چاری بی له دی چه د اهلیت نقصان لرونکی ته ضررورسیږی جبیره کی یا محکمی ته قانع کوونکی عذرونه ښکاره کی، محکمه کولی شی چه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه په برائت یا د دی مادی د درج شوو جزاگانو په تخفیف حکم وکی.

**۳۳۵ ماده:**

که نائب هغه وظیفی چه د دی قانون د درج شوو حکمونو سره سم د هغی په اجراء کولو مکلف دی اخلال کی او د هغی په سبب د اهلیت نقصان لرونکی شخص ته خساره ورسیږی، د هغه مسئولیت د خساری په جبیره کولو کښی، په اجوره باندی د نیول شوی وکیل د مسئولیت د حدودو تابع دی.

**۳۳۶ ماده:**

ددی قانون د (**۳۳۴، ۳۳۵**) مادو درج شوی حکمونه په قیم، په قضائی مرستیال، د غایب په وکیل، په خاص وصی، او مؤقتی وصی تطبیقیږی.

## دوه یم قسمت- حکمي اشخاص

### لومړی مبحث - عمومی حکمونه

**۳۳۷ ماده:**

حکمی شخص هغه معنوی شخص دی چه د حقوقی اهلیت لرونکی وی او د ټاکلو هدفونو په اساس د جمعیت یا مؤسسي، یا شرکت په شکل تشکیلیږی.

**۳۳۸ ماده:**

حکمی شخصیت په دوه نوعه دی:

۱ - عمومی عام شخصیت چه د دولت رکنونو، فرعی ادارو د هغی د مربوطو شعبو سره او عمومی تأسیساتو ته شامل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ - خاص حکمی شخصیت، چه د خصوصی افرادو د ارادي څخه پیدا کیږی لکه وقف، جمعیتونه، مؤسسی، مدنی یا تجارتی شرکتونه مگر دا چه قانون دارنگه شخصیتونه عام کړی وی.

**۳۳۹ ماده:**

د هغه اشخاصو مجموعه چه دیو حکمی شخصیت د شرطونو او عناصرو لرونکی دی، د قانون په وسیله د حکمی شخص په حیث پیژندل کیدای شی.

**۳۴۰ ماده:**

هر حکمی شخص دیو ممثل لرونکی وی چه د هغه د ارادی نمایندگی کوی.

**۳۴۱ ماده:**

حقیقي شخصیت د ټولو هغو حقوقو لرونکي دی چه د قانون په وسیله ټاکل شوی دی. مگر هغه حقوق چه د حقیقي شخصیت پوری منحصر وی.

۳۴۲ ماده:

(۱) حکمی شخصیت د راتلونکو خصوصیاتو لرونکی دی:

۱ - ځانگړی مالي حقوق او وجایب.

۲ - د هغه اهلیت چه په اساسنامی کښی تحدید شوی او قانون هغه مجاز گڼلي وی.

۳ - د اقامه حق او د دعوي دفع.

۴ - داوسیدلو د ځانگړی ځای لرل او هغه د هغه ځای څخه عبارت دی چه په کښی یي مرکزی اداره واقع وی.

(۲) دکومو شرکتونو چه اصلي مرکز د باندی وی او ځانگی یي په افغانستان کښی د قانون سره سم اجازه ورکول شوی وی، د هغی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرکزی اداره د افغانستان د قانون له نظره دهغه ځای څخه عبارت ده چه په افغانستان کښې يي دفعاليتونو اداره موجوده ده.

**دوه یم مبحث – وقف**

**۳۴۳ ماده:**

وقف عبارت دی د مالکانه تصرف څخه د مال بندول او دګټې ورکول يي دی د خير کارونو ته.

**۳۴۴ ماده:**

وقف، حکمی شخصیت دی او د اساسنامی په وسيله تثبيتيږی.

**۳۴۵ ماده:**

د وقف پوری د مربوطو چارو د پاملرنی د پاره د او قافو په نامه یوه دولتی اداره موجوده ده، چه د هغی عایدات او مصرفونه د وقف د لازمي شرطونو سره سم د هغی د اساسنامی په حدودو کښې اداره او مراقبت کوی. مګر دا چه خاصو قوانينو بل ډول حکم کړی وی.

**۳۴۶ ماده:**

وقف د ځانګړی حقوقو او وجايبو لرونکی دی د هغه قرضونو په ورکولو مکلف دی چه د اساسنامی دشرطونوسره سم مصرف شوی وی.

**۳۴۷ ماده:**

د وقف صحت، د هغی څخه رجوع په مصرفونو او لازمي شرطونو کښې تغيير یا د وقف کړه شوی مال بدلول، د وقف کوونکی له خوا هغه وخت اعتبار لری، چه په مربوطو دفترونو کښې ثبت شوی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳۴۸ ماده:**

د دی قـانون د (۳۴۷) مـادی درج شـوی اجـراآت پـه خاصـو دفترونـو کـښی چـه د اسنادو د ثبت پـه اداره کـښی د دی منظـور د پـاره ټاکـل شوی، ثبتیږی.

**۳۴۹ ماده:**

کـه د ثبت کوونکی سره د وقـف د سـند پـه بـاره کـښی کـومه مـانع ظاهره شی مـوضـوع د پـریکړی او تـصمیم د پـاره مـربوطی مـحکمی تـه اسـتول کیږی.

**۳۵۰ ماده:**

کـه وقـف د دی قـانون د درج شـوو حکمونـو سـره سم صـورت نـه وی موندلی، د اعتبار وړ نه ګڼل کیږی.

**۳۵۱ ماده:**

د وقـف د اسـتحقاق څخـه محرومیـدل یـا د وقـف څخـه رجوع کـول پـه مربـوطی محکمـی کـښی صـورت مـومی. هغـه اشخاصـو تـه چـه محرومیـدو یـا د اسـتحقاق څخـه یـي درجـوع کولـواراده شـوی، د موضوع څخه خبر ورکول کیږی، چه خپل دلیلونـه محکمی تـه ښکاره کی.

**۳۵۲ ماده:**

که د وقف سند په داسی تصرف چه قانوناً منع یا باطـل وی مشتمل وی یا وقف کوونکی قانونی اهلیت ونه لری، داسنادو د ثبت اداره بـه په داسی مواردو کښی د هغی ثبت کولو ته اقدام نه کوی.

**۳۵۳ ماده:**

کـه وقـف د غیـر صـحیح شـرط پـوری مـشـروط شـوی وی، وقـف صحیح او شـرط بـاطـل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳۵۴ ماده:**

(۱) وقف په دایمي یا مؤقتي توګه جواز لري.

(۲) وقف د جومات او عامه مؤسسو د پاره په مؤقتي توګه صورت نه شي موندلی.

(۳) خاص وقف مؤقتی دی او د وقف کوونکی دوو طبقو اولادی څخه زیات جواز نه لري.

**۳۵۵ ماده:**

د خیریه امورو وقف هغه وخت جواز لري چه د اسلام دسپیڅلی دین او ملی منافعو له نظره د خیر کار وګڼل شي.

**۳۵۶ ماده:**

(۱) د منقولو او نا منقولو مالونو وقف جواز لري.

(۲) په نامنقولو مالونو کښې دیو شریک جزء وقف جواز نه لري، مګر دا چه جلا او ټاکل شوی وی.

**۳۵۷ ماده:**

د هغو شرکتونو سهمونه چه مجاز فعالیت لري، وقف کیدای شي.

**۳۵۸ ماده:**

د وقف کوونکی اظهارات د وقف کړه شوی مال په باره کښې د لفظونو او معني ګانو په اساس اعتبار لري.

**۳۵۹ ماده:**

(۱) وقف کوونکی نه شي کولي چه دټول یا دیوی حصی عام وقف څخه رجوع وکی مګر د هغی د مصرفونو د لارو دپاره کولی شي چه د دی قانون د حکمونو په حدودو کښې د ثبت په وخت کښې، شرطونه ټاکلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) وقف کوونکی نه شی کولی چه د جومات او عمومی تأسیساتو په وقف کښې یا کوم شی چه ورته وقف شوی تغییر راوړی.

**۳۶۰ ماده:**

د وقف په عمومی شرطونو کښې تغییر په صریحه توګه او د دی قانون د درج شوو حکمونو سره سم صورت نیسی.

**۳۶۱ ماده:**

وقف کوونکی کولی شی چه د دی قانون د حکمونو په حدود وکښې د وقف د ثبت په وخت کښې د راتلونکو حقوقو څخه استفاده شرط کی:

۱ - ورکول او محرومول.
۲ - زیاتوالی او نقصان.
۳ - تغییر.
۴ - بدلول.

**۳۶۲ ماده:**

د وقف کړه شوی مال بدلول د اوقافو د اداری د منظوریدو وروسته په مربوط دفتر کښې ثبتیږی.

**۳۶۳ ماده:**

د وقف کوونکی اقرار یا دبل چا د شخص د نسب په باره کښې چه قرائن د اقرار په دروغو موجود وی، په وقف کړه شوو تاثیر نه لری.

**لومړی فرعه–په وقف کښې حق لرل**

**۳۶۴ ماده:**

که وقف خپلوانو ته شوی وی او د وقف کوونکی مقصد معلوم نه وی، یا یی د مصرف ځای معلوم نه وی یا ورته بیخی د مصرف کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ضرورت احساس نه وي یا دا چه د وقف حاصلات د ضرورت وړ مصرف څخه زیات وي، د وقف ټول حاصلات یا د هغې پاتې برخه د محکمې په اجازه د والدینو په اولاد او د وقف کوونکي په نږدې محتاجو خپلوانو د هریو د ضرورت په اندازې په مصرف رسیږي.

**۳۶۵ ماده:**

(۱) وقف کوونکی نه شي کولی چه د خپل مال د دریمې حصې څخه زیات غیر وارث خلکو ته یا ځینې وارثینو ته یا د خیرکارونو ته وقف کي.

(۲) دمال دریمه حصه دشخص دشتمنۍ په تناسب د هغه د مرګ په وخت کښې سنجول کیږي.

**۳۶۶ ماده:**

(۱) وقف کوونکی کولی شي چه خپل ټول مال ګردو وارثینو ته وقف کي.

(۲) که وقف کوونکي د مرګ په وخت کښې وارث ونه لري، کولی شي چه خپل ټول مال هرچاته چه یې غواړي وقف کي.

**۳۶۷ ماده:**

(۱) د وقف کوونکي اولاد، میړه یا ښځه او د هغه والدین هغه وخت د وقف څخه ددریمې حصې مال څخه زیات د حق خاوندان کیږي چه د هغوی د میراث وړلو حق په کوم سبب نه وي ساقط شوی، د استحقاق ویشل د میراث د حکمونو سره سم عملي کیږي او د هغوی د مرګ په صورت کښې اولادونو ته یې نقلیږي.

(۲) که د حق لرونکو څخه کوم یو ترمخه یوه اندازه مال بې له عوض څخه د وقف کوونکي څخه اخیستی وي، د هغه استحقاق د وقف د مال څخه ساقطیږي. که یې د خپل استحقاق څخه کم مال اخیستی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وی د هغې د تفاوت د دی قانون د (۳۶۸) مادی د حکمونو په نظر کښی نیولو سره، مستحق کیږی.

**۳۶۸ ماده:**

وقف کوونکی کولی شی دخپل اولاد وقف کړی شوی مال استحقاق چه د هغه په ژوند کښی مړه شوی وی، د مړی فرعی ته د دی قانون د (۳۶۷) مادی د حکمونو سره سم تسلیم کی، په دی شرط چه ذکر شوی فرعه د وقف کوونکی د مړینی ترمخه ژوندی وی.

**۳۶۹ ماده:**

که څوك د دی قانون د (۳۶۷) مادی د حکمونو سره سم د وقف کړی شوی مال مستحق ګرځیدلی وی، هیڅوك نه شی کولی چه هغه دټول یا دیوی برخی څخه محروم کی، او یا داسی شرط کښیښودل شی چه د استحقاق څخه د محرومیدو موجب وګرځی، مګر د دی قانون د درج شوو حکمونو سره سم.

**۳۷۰ ماده:**

کوم قتل چه میراث وړونکی د میراث څخه محرومه وی، د وقف کړی شوی مال څخه د هغه د استحقاق مانع کیدونکی هم ګرځی.

**۳۷۱ ماده:**

(۱) که وقف کوونکی داسی شخص چه د دی قانون د حکمونو سره سم ثابته حصه ولری، د وقف څخه محروم کی، د هغه ثابته شوی حصه ورکول کیږی او پاتی په نورو اشخاصو چه د وقف څخه محروم شوی نه دی په وقف کښی د هغوی د حصو په تناسب توزیع کیږی.

(۲) د ثابتی حصی دعوی د وقف کوونکی د مړینی وروسته تر یوه کال پوری د اعتبار وړده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳۷۲ ماده:**

که وقف کړې شوې دخپل استحقاق څخه تیرشي یابل چاته د ټول یا یوې برخې اقرار وکې، د هغه دا کار جواز نه لري.

**۳۷۳ ماده:**

که وقف کوونکي داسې شرط کښیږدي چه د وقف د ښیګڼو یا د حق لرونکو د ښیګڼو مخالف وي، وقف صحیح دي مګر شرط د اعتبار وړ نه دی.

**۳۷۴ ماده:**

کوم کور چه داوسیدلو دپاره وقف شوی وي د هغې څخه بې د اوسیدلو بله ګټه اخیستل یاکوم کور چه بې د اوسیدلو بل شی ته وقف شوی وي، اوسیدل په هغې کښې مجاز دي، خو په دې شرط چه محکمې د هغې په خلاف قرار نه وي صادر کړی.

**۳۷۵ ماده:**

(۱) که وقف په طبقو مرتب شوی وي، اصل د بل چا فرعه نه محجوبوي، که اصل مړ شي نو د هغه استحقاق د هغه فرعې ته انتقالیږي.
(۲) د وقف د حاصلاتو تقسیم د یوې طبقې د مینځه تللو په سبب تغییر نه کوي، په دې صورت کښې حصې د یوې فرعې څخه بلې فرعې ته د دې مادې د لومړۍ فقرې د درج شوو حکمونو سره سم نقلیږي، مګر په هغه صورت کښې چه که په کښې تغییر رانشي نو دیوه حق لرونکې دمحرومیدو موجب ګرځي.

**۳۷۶ ماده:**

(۱) که وقف په طبقو مرتب شوی وي او په یوې طبقه کښې حق لرونکي پیدانه شي، د وقف استحقاق د دې قانون د حکمونو سره سم د هغې څخه وروسته طبقې ته نقلیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) که په لومړنی طبقه کښې وروسته حق لرونکی پیدا شی د هغوی حق بیرته اعاده کیږی.

### دوه یمه فرعه – د وقف تقسیم

**۳۷۷ ماده:**
(۱) وقف کوونکی باید چه د وقف په سند کښې د حق لرونکو حصه جلا او وټاکی. که د وقف کوونکی د شرطونو سره سم، حصه د یو ځو حق لرونکی پوری تعلق ونیسي، هغوی کولي شی چه د خپلو حصو د جلا والی غوښتنه وکی.
(۲) که وقف کړه شوی مال نه شو تقسیمیدلی او یا یی په تقسیم کښی کلي ضـرر متصـور وو، د خرڅولو غوښتنه او د هغی د قیمت تقسیم دهر یو حق لرونکی د حصي په تناسب صورت موندلی شی.

**۳۷۸ ماده:**
د عمومی وقف ناظر کولی شی چه د وقف د تقسیم او د عمومی وقف پوری د مربوطی حصي جلا والي و غواړی.

**۳۷۹ ماده:**
د وقف تقسیم د هغی غوښتنی په اثر چه محکمی ته وړاندی کیږی صورت نیسي، ترسره شوی تقسیم نه فسخه کیږی.

### دریيمه فرعه – د وقف اداره

**۳۸۰ ماده:**
وقف کوونکی به د وقف په سند کښی یو شخص د وقف شوو مالونو د اداری چارو د نظارت د پاره او د هغی په دوران کي اچولو او په مستحقینو د دوي د حصو په تناسب د حاصلاتو د توزیع کولو د پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه دوقف سند په کښې تصریح شوی وی، ټاکی. د هغه د وظیفو او صلاحیتونو حدودو به دهغه چا چه وروسته نظارت کوی، ټاکی.

**۳۸۱ ماده:**
ناظر نه شي کولي بي د محکمې د اجازی د وقف په حساب دپور غوښتنه وکی، دعادي التزاماتو قبلول د دی مقصد د پاره چه د وقف اداره پري وشی او په دوران کښې واچول شی دپورتنی حکم څخه مستثنی دی.

**۳۸۲ ماده:**
که محکمه وقف کړه شوی مال تقسیم کی یا د حق لرونکو حصه په کښې ترمخه ټاکل شوی وی، نو هريو حق لرونکی چه د قانونی اهلیت لرونکی وی د محکمی له خوا د خپلی مربوطی حصي د ناظر په حیث ټاکل کیږی.

**۳۸۳ ماده:**
د عمومی وقف نظارت د اوقافو د اداری وظیفه ده. دا اداره به د وقف کړه شوو مالونو پوری مربوطی چاری د اساسنامی سره سم تنظیم، تصرف او اداره کوی.

**۳۸۴ ماده:**
محکمه نه شی کولی د وقف شوو مالونو د اداری دپاره دیوه څخه زیات ناظر وټاکی، مگر په هغه صورت کښې چه دیوه څخه په زیاتو کښې گټه متصوره وی.
په دی حالت کښې محکمه واک لری چه زیات ناظران وټاکی او کولي شی چه د هريو د پاره د وقف يوه برخه تخصیص کی، هر ناظر د خپلی اداری په ټاکلي ساحه کښې مستقل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳۸۵ ماده:**

که یوه حق لرونکی د وقف د نظارت حق ولری، نوبل شخص د وقف د ناظر په حیث نه شی ټاکل کېدای، په هغه صورت کښی چه د حق لرونکو په مینځ کې داسی څوك پیدا شی چه د نظارت اهلیت ولری محکمه به د هغه ناظر د ولایت پاي چه ترمخه ټاکل شوی اعلاموی.

**۳۸۶ ماده:**

ناظر په وقف شوو مالونو کښی امین او د حق لرونکو له خوا وکیل گڼل کیږی.

**۳۸۷ ماده:**

ناظر مکلف دي چه ټول مصرفونه د هغه طرز العمل سره سم چه محکمې ټاکلي تر سره کي مگر دا چه روان عرف دهغی مخالف وی.

**۳۸۸ ماده:**

(۱) که وقف شوو مالونو ته یا د هغی حاصلاتو ته د ناظر د کلي قصور څخه ضرر ورسیږی د رسیدلی خساري دجبیري مسئول دی.
(۲)که رسیدلې ضرر د ناظر د جزئی قصور څخه پیدا شوی وی نو هغه وخت درسیدلي ضرر ضامن گڼل کیږی چه د نظارت وظیفه د اجوري په مقابل کښی اجراء کی.

**۳۸۹ ماده:**

(۱) که د وقف د حسابونو پوري مربوطه دعوی په محکمه کښی دایره وی او ناظر د سندونو په ښکاره کولو مکلف شی نو په هغه صورت کښی چه ناظر ونه شی کولي چه خپل حسابونه په ټاکلی موده کښی په مستنده توگه ښکاره کی یا د حسابونو د تصفیي په باره کښی د محکمی دامرونو اطاعت ونکړی محکمه کولی شی چه هغه په نقدي جزاء چه د پنځو زرو افغانیو څخه زیاته نه وی محکوم کی. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تکراریدو په صورت کښې ترلس زرو افغانیو پورې محکومیدای شي.
(۲) د ناظر محرومیدل د ټولې یا یوې برخې اجورې څخه هم جواز لري.

**۳۹۰ ماده:**

که ناظر د حسابونو د تأخیر په باره کښې معقول عذر وړاندې کې، محکمه کولی شي د هغه په برائت یا د دې قانون د (۳۸۹) مادې د درج شوې مجازات په کموالي حکم وکې.

**۳۹۱ ماده:**

که د وقف پورې د مربوطې دعوې باندې د غور په وخت کښې د ناظر د عزل موجبه سببونه پیداشي، محکمه کولي شي د نظارت څخه د هغه په عزل کیدو حکم وکې.

**۳۹۲ ماده:**

ترڅو پورې چه د وقف پورې د مربوطې دعوې حکم قطعیت نه دې پیدا کړی، محکمه به په موقتې توګه بل څوك دناظر په حیث ټاکې.

**۳۹۳ ماده:**

د ناظر اقرار دبل چا په نظارت اعتبار نه لري.

**۳۹۴ ماده:**

ناظر د محکمې په اجازه کولی شي هر کال د وقف د حاصلاتو څخه دوه په سلو کښې د وقف شوې مال د مصرفونو، ترمیم او تعمیر د پاره د امانت په حساب تحویل کې یا هغه د هغه تصمیمونو سره سم چه د محکمې له خوا نیول کیږې مصرف کې او په دوران کښې یې واچوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳۹۵ ماده:**

که ناظر یا حق لرونکی په سلو کی دوه د وقف د حاصلاتو څخه تحویلول چه د دی قانون د (۳۹۴) مادی سره سم یي صورت موندلی وی، ګټور ونه ګڼی، کولی شی چه د هغه تعدیلول یا لغو کول د محکمی څخه و غواړی.

**۳۹۶ ماده:**

که د وقف شوو مالونو د تعمیر او ترمیم د پاره د هغه پیسو څخه زیات ضرورت پیداشی چه د دی قانون په (۳۹۴) مادی کښی درج شوی،ناظر به د ذکر شوو پیسو د زیاتوالي غوښتنه د محکمي څخه کوی.

**۳۹۷ ماده:**

محکمه کولي شی د ضرورت په وخت کښی د وقف شوو مالونو د تعمیر او ترمیم د پاره د وقف شوی مال یوه برخه خرڅه کی.

**څلورمه فرعه – د وقف پاي ته رسیدل**

**۳۹۸ ماده:**

مؤقتی وقف د ټاکلي مودي په پوره کیدو یا دټولو هغه خلکو د منځه تللو په نسبت چه مال ورته وقف شوی، پاي ته رسیږی.

**۳۹۹ ماده:**

وقف په هره حصه کښی دهغه د حق لرونکی په دمینځه تللو سره پاي ته رسیږی، که څه هم د ټاکلي مودي د پوره کیدو ترمخه یا د پاتی حق لرونکو د هغی طبقی په د مینځه تللو سره چه د هغه دمینځه تللو سره وقف آخر ته رسیږی، صورت موندلي وی، په دی شرط چه وقف کوونکی د حصي نقلول پاتي حق لرونکو ته نه وي تصریح کړی.

په دی صورت کښی وقف د ذکر شوی طبقی د ټولو حق لرونکو د مینځه تللو او د ټاکلي مودي په پوره کیدو سره پاي ته رسیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴۰۰ ماده:**

که وقف په ټولو ثابتو حصو کښې پاي ته ورسيږي، نو د وقف کړه شوی مال ملکيت، که وقف کوونکی ژوندی وو پخپله هغه ته او که مړ شوی وو حق لرونکو ته انتقاليږي. که حق لرونکی نه وو نو د وقف کړه شوی مال ملکيت هغه اشخاصو ته انتقاليږي چه د وقف کوونکی په ژوند کښې د وارثانو د جملي څخه پيژندل شوی وی او که هغوی هم نه وو نو د دولت مال ګڼل کيږي.

**۴۰۱ ماده:**

که وقف په ټولو ناثابتو حصو کښې پاي ته ورسيږي،نود وقف کړه شوی مال ملکيت که وقف کوونکی ژوندی وو پخپله هغه ته او که هغه ژوندی نه وو هغه چاته انتقاليږي چه د وقف کوونکی په ژوند کښې د وارثانو د جملي څخه پيژندل شوی وی،که وارث نه وو د وقف کړه شوی مال ملکيت د دولت دی.

**۴۰۲ ماده:**

(۱) که وقف کړه شوی مال داسی خراب شی چه د هغی بیا آبادول یا بدلول ممکن یا ګټور نه وی، وقف پاي ته رسيږي. همدارنګه که د هر حق لرونکی حصه چه د هغه دحاصلاتو حصه ناڅيزه اندازی ته کمه شی، وقف پای ته رسيږي.

(۲) د وقف پای د علاقي لرونکو اشخاصو په غوښتنه او د محکمی په قرار صورت مومی، د هغه وقف کړه شوی مال ملکيت چه وقف يي پاي ته رسيدلی وی، که وقف کوونکی ژوندی وو پخپله هغه ته او که مړ وو هغه چاته انتقال مومی چه د وقف د پای ته رسيدو په وخت کښې حق لرونکی پيژندل شوی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دریم مبحث – جمعیتونه**

**لومړی فرعه – عمومی حکمونه**

**۴۰۳ ماده:**

(۱) جمعیت د داسی حقیقي یا حکمی اشخاصو د مجموعی څخه عبارت دی چه د یوی ټاکلي یا نا ټاکلی مودی دپاره د خیریه عامو ښیګڼو، د اجتماعی، علمی، ادبی، فنی او د هنری هدفونو د تأمین په منظور په غیر انتفاعی توګه د دی قانون د حکمونو سره سم تشکیل شوی وی.
(۲) د دی مادی د (۱) فقری د درج شوو جمعیتونو تأسیس د دولتی واک لرونکو مراجعو د لاری صورت مومی. دا مراجع به دجمعیتونو اجراآت د قوانینو، مقرراتو او اساسنامی، دپاره مراقبت کوی.

**۴۰۴ ماده:**

کوم جمعیتونه چه د قانون د حکمونو یا عمومی آدابو په خلاف فعالیت کوی یا د داسی اعمالو پسی شی چه د ملي ګټو او دهغی د تأسیس د هدفونو په خلاف وی باطل ګڼل کیږی او هیڅ قسم اثر پری نه مرتبیږی.

**۴۰۵ ماده:**

(۱) جمعیت د داسی اساسنامي لرونکی وي چه فعالیت ئی تنظیموی او د هغی د تأسیسوونکو غړو له خوا منظوریږی.
(۲) د جمعیت اساسنامه د لاندنیو مطلبونو لرونکی دی:
۱ – د جمعیت عنوان، د هغی د تأسیس هدف او مرام، او د جمعیت د اداری مرکز. د جمعیت د اداری مرکز د افغانستان څخه د باندی جواز نه لری.
۲ – د تأسیسوونکو غړو پوره شهرت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ – د جمعیت عایدات، د هغی په دوران کښی اچول او په هغی کښی تصرف.
۴ – هغه هیئتونه چه جمعیت تمثیلوی سره د غړو او د وظیفو د ټاکلو او د هغوی د عزلولو لاری.
۵ – د تأسیسوونکو غړو حقوق او وجایب.
۶ – د جمعیت د مالونو د نظارت طرزالعمل.
۷ – د جمعیت د اساسنامي د تعدیل، زیاتیدو، تقسیم او د ځانګو طرز العمل.
۸ – د جمعیت د مالي چارو منحلیدل او تصفیه او هغه مرجع چه مالونه ورته انتقالیږی.

**۴۰۶ ماده:**

(۱) تأسیسوونکي غړی نه شي کولي چه د جمعیت په اساسنامه کښی داسی مطلبونه ځاي کي چه د جمعیت د منحلیدو وروسته د مالونو نقلول خپل ځان، کورني یا خپلو وارثانوته مجاز کی.
(۲) د تعاونی جمعیتونو سهمونه، د مرستو د مبادلي صندوق او د تقاعد صندوق له دي حکم څخه مستثنی دی.

**۴۰۷ ماده:**

د جمعیت د غړیتوب څخه و تل عام له دی چه د شخص په اراده وي یا د جمعیت، د جمعیت د مالونو څخه د محرومیدو موجب ګرځی، مګر دا چه په قانون کښی د هغی په خلاف تصریح شوی وی.

**۴۰۸ ماده:**

جمعیت نه شی کولي چه د نامنقول مال مالک شی، مګر دا چه دارنګه ملکیت د جمعیت د اساسی وظیفو د اجرا کولو د پاره ضروری وګڼل شی. تعاونی او خیریه جمعیتونه د دی حکم څخه مستثنی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴۰۹ ماده:**

د جمعیت حکمی شخصیت هغه وخت تثبیتیږی چه اساسنامه ئی د دی قانون د حکمونو سره سم ترتیب او خپره شوی وی.

**۴۱۰ ماده:**

د جمعیت د اساسنامی اعلامیدل د ټاکلي محصول د ورکولو، په مربوطو دفترونو کښی د جمعیت د ثبتولو اوپه رسمي جریدي کښی د خپریدو وروسته پوره کیږی.

**۴۱۱ ماده:**

واک لرونکی مرجع به د جمعیت اساسنامه د هغه د غوښتنی د نېټی څخه دشپیتو ورځو په اوږدو کښی اعلاموی، د هغی په غیر دشپیتو ورځو په پوره کیدو سره جمعیت حکماً اعلام شوی پیژندل کیږی، ذکر شوی مرجع مکلفه ده چه د علاقي لرونکو اشخاصو په غوښتنه د جمعیت اساسنامه د دی قانون د حکمونو سره سم اعلام کي او یایي رد کی.

**۴۱۲ ماده:**

دجمعیت د اساسنامی تعدیل د دی قانون د(۴۰۹، ۴۱۰، ۴۱۱) مادو د حکمونو د په نظر کښی نیولو سره د اعلامیدو څخه وروسته نافذ ګڼل کیږی.

**۴۱۳ ماده:**

جمعیت د لاندنیو مرا تبو مراعات کوی:

۱ - د جمعیت پوری د مربوطو دفترونو او سندونو ساتنه د هغی د اداری په مرکز کی.

۲ - د هر غړی دنوم، د پلارنوم، د کورنی نوم، عمر، دتذکری لمبر، کسب، پته او دهر غړی د جمعیت د غړیتوب د شاملیدلو د نېټی سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مخصوصو دفترونو کښې سره د هغه تغییرونو چه په پورتنیو مواردو کښې کیږي، ثبتول.
۳ - په مخصوصو دفترونو کښې دعمومي ټولنې او د اداري مجلسونو د جریانونو او تصویبونو ثبتول، هرغړی کولي شي چه د لکچرونو د محتویاتو څخه اطلاع حاصله کې.
۴ - په مخصوصو دفترونو کښې د مصرفونو، عایداتو، تبرعاتو او د هغې د مدرکونو په تفصیل سره ثبتول.واک لرونکې مراجع کولي شي د دې سندونو او لکچرونو د محتویاتو څخه اطلاع حاصله کې.
۵ - دباندنې اشخاص کولي شي په خاصو حالونو کښې د واک لرونکو مراجعو په اجازه په فرهنګي جمعیتونو کښې غړیتوب حاصل کې.

**۴۱۴ ماده:**

(۱) جمعیت مکلف دی د واک لرونکې مرجع په اجازه د جمعیت پورې مربوط نقد مالونه د جمعیت په عنوان په بانک یابل ځای کښې په ودیعت کښیږدي.
(۲) جمعیت باید د ودیعت د ځای د بدلون څخه دبدلون د نېټې څخه د یوې اوونې په اوږدو کښې واک لرونکې مرجع ته خبر ورکې.

**۴۱۵ ماده:**

د جمعیت پورې مربوط مالونه د هغې دټاکلو هدفونو د تأمین دپاره مصرفیږي، پاتې برخه یې په اطمیناني ساحو کښې په دوران اچول کیداي شي خو په دې شرط چه د هغې اصلي فعالیتونه متأثر نه کې.

**۴۱۶ ماده:**

جمعیت باید د کلني بودجې چه د عمومي ټولني له خوا تصویبیږي، لرونکې وي. د جمعیت د بودجې څخه واک لرونکې مرجع ته خبر ورکول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴۱۷ ماده:**

جمعیت نه شي کولي د هغه حدودو څخه د باندی چه په اساسنامه کښي توضیح شوي، فعالیت وکی.

**۴۱۸ ماده:**

جمعیتونه نه شي کولي چه په مالي مضاربتونو پسي هڅه وکي.

**۴۱۹ ماده:**

(۱) د جمعیت نوم، د اعلانیدو ګڼه او د هغی د فعالیتونو حدود په ټولو دفترونو، پاڼو او د هغی په خپرونو کښي درجیږی.
(۲) هیڅ جمعیت نه شي کولي داسي نوم انتخاب کي چه دبل جمعیت پوري مربوط وي که څه هم د هغوی د فعالیت ساحه شریکه وی.

**۴۲۰ ماده:**

(۱) هیڅ جمعیت نه شي کولي بي د واک لرونکی مرجع د اجازي څخه د افغانستان څخه د باندي د کوم جمعیت، هیأت یا کلپ ته منسوب، ورسره شریک او یا ورسره یو ځای شي.
(۲) هیڅ جمعیت نه شي کولي بي د صلاحیت لرونکي مرجع د اجازي څخه د افغانستان څخه د باندي شخص، د کوم جمعیت، هیأت یا کلپ څخه مالونه ترلاسه کي.
(۳) هیڅ جمعیت نه شي کولي بی دواک لرونکی مرجع د اجازی څخه د باندنیو اشخاصو یا مؤسسوته څه شي واستوی.

**۴۲۱ ماده:**

تبرعات یواځی د جمعیت په نامه او حساب دهغی مقرراتو سره سم چه د حکومت له خوا وضع شوي جمع کیداي شی.
واک لرونکی مراجع کولی شی د حالونو سره سم د هر جمعیت د تبرعاتو په باره کښی خاص شرطونه علاوه کی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴۲۲ ماده:**

(۱) جمعیت باید کم ترکمه (۱۵) ورځی ترمخه د عمومي ټولني منعقد کیدل او اجندائی واک لرونکي مرجع ته خبر ورکي. واک لرونکی مرجع کولي شي د جمعیت په عمومي ټولنه کښي د ګډون دپاره یو نماینده واستوي.

(۲) جمعیت به دعمومي ټولني کړه وړه د هغه د منعقد کیدو د نیټی څخه د (۱۵) ورځو په اوږدو کښی واک لرونکی مرجع ته خبر ورکوی.

**۴۲۳ ماده:**

(۱) جمعیت کولي شی نمایندګی تأسیس کی.

(۲) نمایندګی د اعلانیدو وروسته د حکمی شخصیت حیثیت پیدا کوی. نمایندګی نه شي کولي خپله داخلي اساسنامه په هغه موضوعاتو کښی چه د اصلي جمعیت طرز العمل او د جمعیت د عمومي سیاست په مقابل کښی د هغی د التزاماتو پوري مربوطی دی، بی د اصلي جمعیت د موافقی څخه تعدیل کی.

**دوه یمه فرعه – مدیره هیأت**

**۴۲۴ ماده:**

(۱) جمعیت به د مدیره هیئت لرونکی وی، د مدیره هیأت غړی، صلاحیت، وظیفی او د غړو د غړیتوب پاي د جمعیت په اساسنامه کښی توضیح کیږی.

(۲) مدیره هیأت د دری یا دهغی څخه زیات غړی لری او د خدمت موده یي د دری کلونو څخه نه شي زیاتیدای.

(۳) دغړیتوب نوی والي د جمعیت د اساسنامی سره سم صورت مومی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴۲۵ ماده:**
هغه څوك چه د مديره هيأت د غړيتوب په صفت ټاكل كيږی بايد چه د واک لرونکی محکمی په قطعی حکم د سياسي او مدنی حقوقو څخه په محروميت نه وی محکوم شوی.

**۴۲۶ ماده:**
(۱) مديره هيأت به دهغه واک په حدودو کښی چه په اساسنامی کښی پري تصريح شوی د جمعيت پوری مربوطی چاري اداره کوی.
(۲) مديره هيأت به کم ترکمه په مياشت کښی دوه ځله غونډه کوی.

**۴۲۷ ماده:**
مديره هيأت به يو شخص د خپلو غړو د مينځه يا د جمعيت د نورو غړو څخه د رئيس په حيث ټاکی.

**۴۲۸ ماده:**
څوك چه د مديره هيأت له خوا د رئيس په حيث ټاكل كيږی نو هغه كارونه چه د پيشنهاد، د مؤظفينو د مقرری، دتأديبي جزاګانو تطبيق، د سندونو کتنه، مصرف او د عمومی ټولني او د مديره هيأت د تصويبو د تنفيذ مراقبت، پوري مربوط دي ترسره کوي به يي. په دی شرط چه د جمعيت په اساسنامه کښی د هغی په خلاف تصريح نه وی شوی.

**درېيمه فرعه – عمومي ټولنه**

**۴۲۹ ماده:**
(۱) عمومي ټولنه د ټولو هغو غړو څخه مرکبه ده چه خپل التزامات يي د جمعيت د اساسنامي سره سم ترسره کړی وی.
(۲) د عمومي ټولني هغه تصويبونه چه د آجندي په موضوعاتو کښی شامل نه وي، اعتبار نه لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴۳۰ ماده:**

د عمومي ټولنې تصويبونه د حاضرو غړو د اکثريت په رايو د هغې د دوه ثلثو اصلي غړو د پوره کيدو وروسته صورت مومي. د عمومي ټولنې تصويبونه د جمعيت د اساسنامې د تعديل په باره کښې په مطلق اکثريت او دجمعيت د منحليدو، د مديره هيأت د غړو د عزل کيدو، د بل جمعيت سره د هغې د اتحاد يا يو ځای کيدو، په باره کښې د دوه ثلثو غړو په اکثريت صورت مومي مګر دا چه د جمعيت په اساسنامې کښې د هغې په خلاف تصريح شوی وی.

**۴۳۱ ماده:**

د عمومي ټولنې په غونډو کښې به هرغړی پخپله ګډون کوی او يا به په ليکلې توګه بل غړی دخپل نماينده په حيث ټاکی.

**۴۳۲ ماده:**

عمومي ټولنه به دهر مالي کال دپای ته رسيدو وروسته د درې مياشتو په اوږدو کښې په عادی صورت غونډه کوی، دټول کال د بودجې د حساب، د مديره هيئت د کلني راپور او د مالي چارو پورې په مربوطو کارونو به غور کوي. دعمومي ټولني د فوق العاده غونډو تشکيل د لزوم په صورت کښې هم کيدي شی. د عمومي ټولني د غونډو منعقد کيدل د مديره هيأت په غوښتنه صورت مومي.

**۴۳۳ ماده:**

که مديره هيأت د عمومي ټولني فوق العاده غونډه د ليکل شوي غوښتني د تسليميدو د نيټې څخه د پنځلس ورځو په اوږدو کښې، کم ترکمه د عمومي ټولني لس غړی جلسه دايره نه کی او د جلسې ورځ ترمخه توضيح شوی وی، غوښتونکی کولی شی چی د عمومي ټولنې غړی په مستقيم صورت د جلسي تشکيل ته راوبولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴۳۴ ماده:**

په کومه موضوع کښې چه د ټولني ديوه غړی ګټه داخله وی، د رأي ورکولو حق نه لری. د جمعيت د هيأت دغړو د ټاکل کيدو په مورد کښی راي ورکول له دي حکمه مستثنی دی.

**۴۳۵ ماده:**

(۱) که عمومي ټولنه يا مديره هيأت يا رئيس د قانون يا د جمعيت د اساسنامي په خلاف تصميمونه ونيسي، د داسي تصويبونو په مقابل کښی د باطليدلو غوښتنه کيداي شی.
د باطليدلو غوښتنه د تصويب د صادريدلو د نيټی څخه د دری مياشتو په اوږدو کښی د څارنوال له خوا يا د جمعيت ديوه غړی له خوا هغي محکمي ته کيږی چه د جمعيت مرکزی اداره د هغی د واک په حوزه کښی واقع ده.
(۲) د دی قسم تصويبونو باطليدل د هغه اشخاصو په کسب شوو حقوقو تاثيرنه لری چه د ښه نيت په اساس دحق خاوندان ګرځيدلی دی.

**۴۳۶ ماده:**

(۱) واک لرونکی مرجع کولي شی د هغه تصويبونو تصميم چه د عمومي ټولني يا مديره هيأت يا رئيس له خوا نيول شوي او د قانون، نظام او عمومي آدابو په خلاف نيول شوي وي، متوقف کي.
(۲) واک لرونکي مرجع بايد د توقف دنيټي څخه د ديرش ورځو په اوږدو کښي د ذکر شوي تصويب په مقابل کښی خپله دعوي په واک لرونکی محکمه کښی اقامه کی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلورمه فرعه - د جمعیت منحلیدل او تصفیه کول**

**۴۳۷ ماده:**

(۱) جمعیت په راتلونکو حالونو کښې منحل کیږي:
۱_ په هغه حالت کښې چه خپل التزامات ترسره کولي نه شي.
۲ - په هغه حالت کښې چه خپلو مالونو یا ګټو ته د هغه هدفونو څخه د باندي تخصیص ورکي چه په اساسامي کښې توضیح شوی.
۳ - په هغه حالت کښې چه جمعیت د اساسامي د درج شوو موادو په تخلف یا بل هر نوع اجراآتو ته چه د قانون، د تأسیس دهدفونو، نظام او عمومي آدابو مخالف وي اقدام وکی.
(۲) د منحلیدلو غوښتنه د جمعیت د هرغړی له خوا یا د علاقي لرونکی شخص له خوا یا د څارنوال له خوا هغي محکمي ته وړاندي کیداي شي چه د جمعیت مرکزي اداره د هغي د واک په حوزه کښي واقع شوي ده.

**۴۳۸ ماده:**

که محکمه د جمعیت په منحلیدلو حکم وکي، یو یاڅو کسان به د جمعیت د حسابي چارو د تصفیي او دشتمني د توزیع د پاره د مربوطي اساسامي د درج شوو حکمونو د په نظر کښي نیولو سره ټاکی، که د منحل شوي جمعیت په اساسامه کښي د شتمني د توزیع په باره کښي کوم حکم موجود نه وي، محکمه کولي شي داشتمني بل داسي جمعیت یا مؤسسي ته انتقال کي چه د منحل شوي جمعیت سره ګډ هدفونه ولري.

**۴۳۹ ماده:**

که محکمه د جمعیت دمنحلیدلو، غوښتنه رد کي، په دي صورت کښي کولي شي د هغه تصرف په باطلیدو حکم وکي چه پري اعتراض شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځلورم مبحث - دعامو ښیګڼو جمعیتونه**

**۴۴۰ ماده:**

(۱) دعامو ښیګڼو جمعیت د هغه جمعیت څخه عبارت دي چه دعمومي ښیګڼو د تأمین په منظور تاسیسیږي.
(۲) جمعیت ته دعمومي ښیګڼو په صفت د عنوان ور کول د دولت درسمي فرمان په وسیله صورت مومي. د ورکړ شوي عنوان سلبول هم د داسي فرمان په وسیله جواز لری.

**۴۴۱ ماده:**

د عمومي ښیګڼو جمعیت د منقولو اونا منقولو مالونو د تملک پوري د مربوطو اهلیت د شرطونو په مراعات کولو مقید نه دی.

**۴۴۲ ماده:**

د عمومي سلطي د صلاحیت څخه د عمومي ښیګڼو د جمعیت د استفادي حدود، د جمعیت په ټولو یا یوه برخه مالونو د حجز نار وا والي، ددي مالونو د ملکیت په باره کښي د زماني دتیریدو بي تأثیري او د استملاک جواز د جمعیت دهدفونو د تأمین دپاره د مقرراتو په وسیله توضیح کیږي.

**۴۴۳ ماده:**

د عمومي ښیګڼو جمعیت به د مربوط واک لرونکی مرجع د مراقبت لاندی فعالیت کوی. د جمعیت اجراآت به د قوانینو د تطبیق، اساسنامي او د عمومي ټولني دتصویبونو د تطبیق له نظره د ذکر شوی مرجع په وسیله پلټل کیږی او د تحقیق لاندی به نیول کیږی. د تفتیش هیأت د صلاحیت لرونکی مرجع له خوا ټاکل کیږی او د خپل کار په پاي کښی به دخپلو اجرا آتو راپور مربوطی مرجع ته وړاندی کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴۴۴ ماده:**

(۱) واک لرونکی مرجع کولي شی چه د څو عامو ښیګڼو جمعیتونو اتحاد چه ګډ هدف ولری تصویب کی، همدارنګه کولي شی د فعالیتونو د یووالي یا د مختلفو جمعیتونو دهدفونو د تعدیل په باره کښی د محیط د احتیاجاتو په اساس یا د هغه خدمتونو ترمنځ د یووالي په منظور چه د هغوي له خوا ترسره کیږی یا د نورو سببونو په منظور چه د جمعیتونو د هدفونو د تأمین د پاره ګټور وي، تصمیم ونیسي.

(۲) ذکر شوی مرجع به پخپل تصویب کښی د اتحاد سببونه او طرزالعمل او دمالونو دتسلیمیدو، پاښو او سندونو څرنګوالی نوي هیأت ته توضیح کوی.

**۴۴۵ ماده:**

(۱) واک لرونکي مرجع کولي شي هغه اشخاص چه د عامل هیأت د غړیتوب داوطلب کیږی، د شاملیدو اجازه ورنه کی.

(۲) واک لرونکی مرجع کولي شي د غړو د انتخاباتو د جریان د مراقبت د پاره د داوطلبانو څخه یو وټاکی.

(۳) که انتخاباتو د قانون یا د جمعیت د اساسنامي د حکمونو په خلاف صورت موندلي وو، واک لرونکي مرجع کولي شي د انتخاباتو دلغو کولو په باره کښي په دلیل متکي تصویب د انتخاباتو د اجراء کولو د نېټي څخه تر پنځلسو ورځو پوري صادر کي.

**۴۴۶ ماده:**

(۱) صلاحیت لرونکي مرجع کولي شي چه په دلیل باندي د متکي قرار په وسیله رئیس یا مدیره هیأت د هغه وظیفو د اجراء کولو د پاره چه د جمعیت په اساسنامه کي توضیح شوي په مؤقتي توګه و ټاکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) مؤقتي رئيس يا مديره هيأت هغه وخت ټاكل کيږي چه دجمعيت درئيس يا مديره هيأت په اجراآتو کښي داسي تخلف تبارز وکي چه په وظيفه باندي د هغوي دوام د جمعيت په ګټه نه وي او سره د دي چه د جمعيت لـه خوا اخطار ورکول شوي وي او د اخطار ورکولو دنېټې ځخه پـنځلس ورځی تيري شوي وي بيا هم د تخلفاتو د ليري والي دپاره يي اقدام نه وي کړی.

**۴۴۷ ماده:**

(۱) د جمعيت د مديره هيأت غړي او د هغي کار کوونکي مکلف دي د جمعيت پوري ټول مربوط سندونه او دفترونه د مؤقتي عامل هيأت په اختيار کښي کښيږدي.

(۲) دمـديره هيـأت د غـړو او د جمعيـت دکـار کوونکـو قـانوني مسئوليت په دي پاي ته نه رسيږي چه د جمعيت مالونه، سندونه او دفترونه مؤقتي مديره هيأت ته وسپاري.

**۴۴۸ ماده:**

رئيس يا مؤقتي مديره هيئت مکلف دي د هغي مودي په اوږدو کښي چه د هغوي دټاکلو په تصويب کښي پري تصريح شوي، عمومي ټولنه دايره کي او دخپلو اجراآتو راپور ورته وړاندي کي، عمومي ټولنه بـه د راپور د اوريدلو وروسته، نوي مديره هيأت د اساسنامي او د قانون د حکمونو سره سم انتخابوي.

**۴۴۹ ماده:**

جمعيت د مؤقتي رئيس يا مديره هيأت پـه تصويبونو چه د هغوي دټاکلو درج شوي قرار د ټاکلي مودي پـه دننه کښي صورت مونـدلي او په هغه حدودو کښي دننه چه پـه ذکر شوي قرار يا د جمعيت پـه اساسنامي کښي توضيح شوي، مکلف دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴۵۰ ماده:**

صلاحیت لرونکي مرجع کولي شي چه د پخواني مدیره هیأت غړی چه د تخلف په اثر یی مسئولیت ثابت شوي دیوي مودي د پاره چه ددري کلونو څه زیاته نه وي، د مدیره هیأت د غړیتوب په حیث دبیا داوطلب کیدو څخه محروم کی.

**پنځم مبحث – خیریه جمعیت**

**۴۵۱ ماده:**

(۱) خیریه جمعیت د هغه جمعیت څخه عبارت دي چه د خیریه هدفونو د تأمین د پاره یا دعا مو دهوسایي د پاره د جمعیت دغړو یا نورو اشخاصو د استفادي په منظور تأسیس شوي وي.
(۲) د مدیره هیأت غړی نه شي کولي په جمعیت کښي دننه د اجوري په مقابل کښي په بل شغل مشغول شي.

**۴۵۲ ماده:**

(۱) د خیریه جمعیت مدیره هیأت د کلني راپور د اجراآتو په برابرولو مکلف دي.
(۲) مدیره هیأت به د جمعیت کلني بودجه د هغي دسندونو او مدرکونو سره واک لرونکي مرجع ته وړاندي کوي او د ذکر شوي مرجع د ضرورت وړ معلومات به برابروی.

**شپږم مبحث – فرهنگی جمعیتونه**

**۴۵۳ ماده:**

فرهنگی جمعیت دهغه جمعیت څخه عبارت دي چه د هغي د تأسیس هدف د علمي، فني، ادبي او هنري چارو انکشاف وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴۵۴ ماده:**

د فرهنګي جمعیت مدیره هیأت مکلف دي چه دخپلو کلنیو اجراآتو څخه واک لرونکي مرجع ته خبر ورکي.

دا جمعیت د سندونو او لازمي معلوماتو د وړاندي کولو په هکله د دي قانون د نورو جمعیتو نو د حکمونو تابع دی.

**اووم مبحث – مؤسسې**

**۴۵۵ ماده:**

مؤسسه د یوه حکمي شخصیت څخه عبارت دي چه دبشري، دیني، علمي، فني یا دبدني روزني د خدمتونو د ترسره کولو د پاره د مالونو د تخصیص د لاري د نامعلومي مودي دپاره تأسیس شوي وي او د غیر انتفاعي هدفونو لـه مخي فعالیت کوي.

**۴۵۶ ماده:**

(۱) د مؤسسي تأسیس د رسمي سند په وسیله صورت مومي.

(۲) رسمي سند د مؤسسي د اساسنامی حیثیت لري او د لاندنیو مطلبونو لرونکي وي:

۱ – د مؤسسي عنوان او د هغي د اداري مرکز، مؤسسه نه شي کولي چه د افغانستان څخه د باندي د اداري مرکز ولري.

۲ – د هغي دتأسیس هدف او مرام.

۳ – دتأسیسوونکي یا د تأسیسوونکو غړو نومونه او د هغوي پوره شهرت.

۴ – دهغي شتمني تفصیلات چه مؤسسي ته تخصیص شوي.

۵ – د مؤسسي اداري تشکیل او د هغي د رئیس نوم.

۶ – د مؤسسي د مالي چارو د نظارت او تفتیش طرز العمل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷ - د اساسنامي د تعديل، يو ځای کيدو تجزيي او د مؤسسي د نمايندګيو د تأسيس طرز العمل د تصفيي د توضيح او د هغي مرجع د ټاکلو سره چه د مؤسسي مال ورپوري مربوط دی.

**۴۵۷ ماده:**

که تأسيسوونکي غړی پور ورکوونکي يا وارثان ولري. د هغوي د حقوقو په باره کښي د مؤسسي تأسيس د وصيت يا هبي حکم لري. په هغه صورت کښي چه د مؤسسي تأسيس د پور ورکوونکو يا وارثانو حقوقو ته ضرر ورسوي هغوي کولي شي چه د هغه قانون د احکامو سره سم چه د وصيت او هبي په باره کښي موجود دي دعوي وکي.

**۴۵۸ ماده:**

کومه مؤسسه چه د رسمي سندپه وسيله تأسيس شوي وی، د هغي مؤسس کولي شي د اعلانيدو ترمخه دبل رسمي سند په وسيله د هغي د تأسيس څخه انصراف وکي.

**۴۵۹ ماده:**

د مؤسسي حکمي شخصيت هغه وخت تثبيتيږی چه د دي قانون د حکمونو سره سم اعلان شوي وی.

**۴۶۰ ماده:**

د مؤسسي اعلانيدل د هغي د تأسيسوونکي په غوښتنه يا د هغي دلومړنی رئيس يا د هغي واک لرونکي مرجع په غوښتنه چه مؤسسه يي د نظارت لاندي واقع ده د دي قانون د جمعيتونو د اعلان پوري د مربوطو حکمونو سره سم صورت مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴۶۱ ماده:**

واک لرونکي مرجع کولي شي چه د مؤسسي د تأسيس د اداري د طرزالعمل او د اساسنامي د تعديل په باره کښي دموسسي د هدفونو د تأمين په منظور، تعديل وارد کي.

**۴۶۲ ماده:**

مؤسسه د رئيس په وسيله اداره او تمثيليږی.

**۴۶۳ ماده:**

د مؤسسي رئيس به د مؤسسي کلني بودجه او دکلنيو حسابونو صورت واک لرونکي مرجع ته ښکاره کوي او د ذکر شوي مرجع د ضرورت وړ معلومات به برابروي.

**۴۶۴ ماده:**

مؤسسه نه شي کولي بي دواک لرونکي مرجع له اجازي وصيت يا هبه قبوله کی.

**۴۶۵ ماده:**

واک لرونکي مرجع د دعوي په ضمن کښی کولي شي چه د مربوطی محکمي څخه د هغه مؤظفينو د عزل غوښتنه وکي چه په ورسپارل شوو وظيفو کښي يي اهمال کړی وي يا د داسي کارونو، ارتکاب کوونکي ګرځيدلی وی چه د قانون يا د مؤسسي د اساسنامي مخالف وي يايي د مؤسسي مالونه د هغي د تأسيسوونکي د ارادي په خلاف مصرف کړی وي او يا دا چه د فاحش قصور ارتکاب کوونکي شوي وی.

**۴۶۶ ماده:**

واک لرونکي مرجع کولي شي چه د مؤسسي د هدفونو د تأمين يا د هغي پوري د مربوطو مالونو د ساتني دپاره يا د هغه ټولو يا ځينو

(c) ketabton.com: The Digital Library



التزاماتو او شرطونو چه د مؤسسي په اساسنامه کي قید شوي د لغو کیدو غوښتنه وکي.

**۴۶۷ ماده:**

که د مؤسسي رئیس د قانون یا عمومي نظام خلاف یا دخپل واک د حدودو څخه دباندي اجراآت وکي، واک لرونکي مرجع کولي شي چه دا اجراآت متوقف او د واک لرونکی محکمي څخه د دي اجراآتو د باطلیدو غوښتنه وکی.

**۴۶۸ ماده:**

(۱) د دي قانون د (۴۶۷) مادي د درج شوي باطلیدلو غوښتنه زیاته اندازه دیوه کال په اوږدو کښی د اجراآتو د نیټی څخه محکمي ته وړاندی کیږی.

(۲) د داسي اجراآتو باطلیدل د هغه اشخاصو په کسب شوو حقوقو تاثیرنه لری چه د ښه نیت په اساس د حق خاوندان ګرځیدلی دي.

**۴۶۹ ماده:**

د جمعیتونو پوری مربوط حکمونه لکه یو ځای کیدل، تجزیه کیدل، د نمایندګیو تأسیس، دمؤقتي رئیس ټاکل، منحلیدل او تصفیه کیدل، د موسسي تبدیل عامو ښیګڼو ته همدارنګه د دي قانون د (۴۱۸) مادي درج شوي حکم په عمومو مؤسسو هم د تطبیق وړ دی.

**۴۷۰ ماده:**

په دی قانون کښی د مؤسسو پوری درج شوی مربوط حکمونه په استثنایی ډول د هغي مؤسسي په باره کښی چه د وقف په شکل تشکیل شوی وی نه تطبیقیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴۷۱ ماده:**

د جمعیتونو او مؤسسو د هغه موظفینو په مقابل کښې چه د دی قانون په موادو کښې د تدبیرونو نیول تصریح شوی د جزاء د عمومي قانون د تطبیق مانع نه ګرځی.

## دریم فصل
## مالونه

**۴۷۲ ماده:**

مال، عبارت دعین یا دهغه حق څخه دی چه د خلکوپه نزد مادي قیمت ولری.

**۴۷۳ ماده:**

کوم شیان چه د طبیعت په اقتضاء د ور کړی راکړی مورد نه ګرځی، د هغه شیانو څه عبارت دی چه هیڅوك یي حیازت ځان ته نه شي تخصیصولی.

**۴۷۴ ماده:**

کوم شیان چه د طبیعت په اقتضاء یا د قانون په حکم د ورکړی راکړی مورد ګرځی، مالي حقوق پری مرتب کیږی.

**۴۷۵ ماده:**

کوم شیان چه د قانون په حکم دور کړی راکړی مورد کیدي نه شي، عبارت د هغه شیانوڅخه دي چه د قانون له لحاظه پري مالي حقوق نه مرتب کیږی.

**۴۷۶ ماده:**

(۱) مثلی شیان هغه دي چه افراد یا اجزاء ئی یو تربله یو رنګه وي، بي دکوم کتني وړ توپیر څخه یو د بل په عوض استعمالیدای شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) قیمتي شیان هغه دی چه افراد یي یوتربله تفاوت لری او یو دبل په عوض کښی استعمالیدای نه شي.

**۴۷۷ ماده:**

(۱) استهلاکی شیان هغه دی چه ګټه اخیستل ور څخه بی د استهلاکه ممکن نه وی

(۲) استعمالي شیان هغه دی چه د مکررو ګټو اخیستلو سره د هغی عین باقی پاتی شی.

**۴۷۸ ماده:**

عقار عبارت د هغه شیانو څخه دی چه ثابت اصل لری اووړه او راوړه ئی بی د تلفیدو ممکن نه وی. کوم شیان چه دا صفت ونه لری منقول شیان ګڼل کیږی.

**۴۷۹ ماده:**

کوم منقول شیان چه مالک ئی د عقاراستفادی دپاره تخصیصوی، هغه هم عقار ګڼل کیږی.

**۴۸۰ ماده:**

د عقار پوری مربوط هر عیني حق او د هغی پوری هره مربوطه دعوي، عقار ګڼل کیږی، د هغی په غیر نور مالي حقوق د منقولو مالونو دجملی څخه ګڼل کیږی.

**۴۸۱ ماده:**

د افرادو د ملکیت پوری مربوط مالونه، خصوصي مالونه او کوم مالونه چه د افرادو د ملکیت پوری مربوط نه وي او عمومی ګټو او ښیګڼو دپاره تخصیص شوی وی د عامو خلکو مالونه ګڼل کیږی.

**۴۸۲ ماده:**

(۱) عامه مالونه عبارت دي له:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ – د دولت منقول او نا منقول مالونه.
۲ – د حکمي اشخاصو منقول او نامنقول مالونه
۳ – هغه منقول او نا منقول مالونه چه د عامو خلکو د ګټو او ښیګنو د پاره تخصیص شوي وی.
۴ – هغه منقول او نا منقول مالونه چه د قانون په حکم د عامو مالونو په پیژندل شوي وي.
(۲) په دي مالونو کښی د زماني دتیریدو په اساس تصرف، حجز او د خپل ملکیت لاندی راوړل جواز نه لری.

**۴۸۳ ماده:**

(۱) عامه مالونه هغه وخت غیر عامه پیژندل کیږی چه د عمومي ګټو دپاره د هغي د تخصیص موده پاي ته رسیدلي وی.
(۲) د تخصیص پاي د قانون په حکم یا بالفعل یا د هغه هدف په پاي ته رسیدو سره چه د هغي په اساس مالونه د عمومي ګټو د پاره تخصیص شوي وی، صورت مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مدنی  قانون تعدیلات

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د جمهوري رياست مقام**
**د۱۳۵۶کال دمرغومي**
**دمياشتي دنهه ويشتمي**
**نيټي (۲۰۰۷) ګڼه فرمان**

**ښاغلي محترم عدليه وزير!**

دوزيرانو مجلس د (۵۵۱) پريکړي لاندي د۱۳۵۶/۱۰/۲۷ نيټي په غونډي کي دعدليي دوزارت د(۴۴۱۴) ګڼې، د۱۳۵۶/۱۰/۲۶ نيټي عرض پاڼي ته په کتلوسره لاندي مراتب تصويب کړل:

«دمدني قانون يوه لمبر ضميمه په څلورو فقروکي دننه او د جزاء د قانون يوه لمبر ضميمه په اوو فقروکي دننه چي په پيشنهاد کي درج شوي او د دارالانشاء مهر پرلګيدلي دي منظور ده.»

**جمهور رئيس محمد داود**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دمدني قانون يوه لمبر ضميمه ۱- د (۱۰۵) مادي تعديل:**
"که جلا والي ددخول يا صحيحه خلوت څخه تر مخه واقع شي د تسميي په صورت کښې ښځه د نيمايي مسمی مهر مستحقه ګڼل کيږي."

**۲- د (۱۸۸) مادې د (۱) فقرې تعديل:**
" که حکم د ميړه او ښځې ترمنځ په اصلاح کولو برياللي نشي نو که د اختلاف منشاء ميړه يا ښځه وي يا داچه بيځې معلومه نه وي او محکمه په داسې حالت کې دميړه او ښځې ترمنځ يو ځاى اوسيدل ناممکن وګڼي، نو د هغوی ترمنځ به د جلا والی حکم کوی."

**۳- په (۲۳۹) مادې کې زياتوالي:**
په ۲۳۹ مادې کښې دی د (۱۴) ګڼې څخه وروسته د "عمی" کلمه ونيول شي.

**۴- د (۲۰۳۲) مادي تعديل:**
**" خويندي او وروڼه که سکنی وی يا پلارنی يا مورنی د پلار، ځوی او د ځوی د ځوی په موجوديت که څه هم د هغوی درجې ټيټې شي د ميراث څخه محروميږي.**
همدا رنګه مورنی ورونه او خويندی دنيکه په موجوديت سره دميراث څخه محروميږي. "
دا ضميمه په رسمي جريدي کي دخپريدو وروسته نافذيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(د مدنی قانون لومړی ګڼه ضمیمه د ۱۳۵۶ هـ.ش کال دسلواغی په دیرشمه نیټه (۳۹۱) ګڼه رسمی جریده کې خپره شوی ده.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دافغانستان دموکراتیك جمهوریت
د انقلابی شوری د رئیسه هیأت فرمان
کابل ښار

ګڼه: (۷۷)
نیټه: ۱۳۶۵/۴/۱۰

**په مدنی قانون کې دزیاتوالی او بشپړتیا په هکله**

د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د انقلابي شوری رئیسه هیأت د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د اساسي اصولو د (۴۴) مادې د حکم پر اساس تصویبوي:

۱- دمدني قانون (۱۳۵) ماده د لاندنیو ۳ او ۴ فقرو په زیاتولو سره بشپړیږي:

(۳) د طلاق دثبتولو مراتب دمیره او ښځی یا دهغوی دوکیلانو په حضور کې صورت نیسي.

(۴) که د ښځی حاضریدل متعذره وي یا له حاضریدو څخه ډډه وکړي د زوجیت د ړنګیدو وثیقه د هغه د استوګنې د سیمی اداری یا دهغه یو نږدی خپلوان ته دی ولیږل شي.

۲- دمدني قانون (۲۵۱) ماده د لاندینی پراګراف په زیاتولو سره بشپړیږي:

کله چه د حضانت د دوهمی درجی مستحق هم دقاضی په تشخیص سره د ماشوم د ودی او سالمی روزنی لپاره د قانونی شرطونو لرونکی نه وی، محکمه کولای شی ماشوم هغه چاته

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه موافقه وکړی او یا د ماشومانو د روزنی مؤسسی ته وسپاری.

۳- دا فرمان په رسمی جریده کی له خپریدو و روسته نافذیږي

## ببرک کارمل د افغانستان ددموکراتیک جمهوریت د انقلابي شوری درئیسه هیأت صدر

**(پورتنی فرمان د ۱۳۶۵ هـ.ش کال د وږی د میاشتي د ۱۵ نیتي په (۶۱۵) گڼه رسمي جریده کې خپور شوی دی.)**

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دافغانستان دموکراتیک جمهوریت**
**دانقلابي شوری در ئیسه هیأت فرمان**
**کابل ښار**

**ګڼه: ۲۵۵**
**نیټه : ۱۳۶۶/۸/۷**

**دمدنی قانون د درېیمی ګڼی ضمیمی په هکله**

د افغانستان د موکراتیک جمهوریت د انقلابي شوری رئیسه هیأت د افغانستان د موکراتیک جمهوریت د اساسي اصولو د (۴۴) مادې د حکم پر بنسټ تصویبوي:

لومړۍ ماده:

که هغه ماشوم چې د حضانت او دهغی د اوږدولو دوره د مدنی قانون د **۲۴۹** او **۲۵۰** مادو سره سم پوره کړی وی پلار ونلری او دودی قانونی سن ته رسیدلی نه وی محکمه د ماشوم د تمایل د په پام کې نیولو، په دقیقه او مدلله تشخیص سره او په دي باندي د محکمي د ډاډه کیدو چې د ماشوم میلان د هغه په مصلحت دي ماشوم مورته یې یا یو دمحرمو عصباتو ته یې چې د ماشوم د سالمی روزنی، د ودی د تأمینولو او مصلحت په غاړه واخیستل شي تسلیموي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوېيمه ماده:**

که ماشوم مور او پلار ونلري او په عصباتو کې له يو تن څخه زياتره ددې فرمان له لومړۍ مادې سره برابره وي محکمه کولای شي کوم يو چې د طفل له مصلحت سره زياتره نږدې وي وټاکي.

**درېيمه ماده:**

محکمه کولای شي ددی فرمان د (۱ او۲) مادو دمندرجو شرايطو د لرونکی شخص دنه ميندلو په صورت کې ماشوم دماشومانو د روزنی مؤسسی ته وسپاري.

**څلورمه ماده:**

دا فرمان په رسمي جريده کې له خپريدو وروسته نافذيږي.

**دکتور نجيب الله**
**دافغانستان دموکراتيک جمهوريت**
**د انقلابي شوری درئيسه هيأت صدر**

**(دمدنی قانون (۳) لمبر ضميمه د ۱۳۶۶ هـ.ش کال دلیندۍ د میاشتی د لومړۍ نیټی په (۶۵۲) گڼه رسمی جریده کې خپره شوی ده.)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قانون مدنی

## جلد اول

جریدهٔ رسمی شماره (۳۵۳)

مؤرخ ۱۳۵۵/۱۰/۱۵ هـ. ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فـرمان شـماره (۱۴۵۸) مـؤرخ نــهم جدی سال ۱۳۵۵ صــــدارت عظــمی

**شاغلی دوکتور عبدالمجید وزیر عدلیه!**

مجلس عـالی وزراء تحـت فیـــصله شـمـاره (۱۷۲۳) در جلسـۀ تـاریخی ۱۳۵۵/۱۰/۷ بـا ملاحظۀ ورقۀ عرض شـماره (۳۸۱۷) مـــؤرخ ۱۳۵۵/۱۰/٦ وزارت عدلیـه راجع به قـانون مـدنی مـراتب آتـی را تصویب نمود:

«قــانون مدنی مشتمل بر چهار جلد و دو هزارو چهارصدو شانزده ماده که به مهر دارالانشاء رسیده است منظــور اســت».

مراتب تصویب مجلـس عـالی وزراء کــه بـــه شـرف منظـوری حـضور رئیس دولت جمهوری افغانـستان رسـیده و بـه شـماره (۲٤۱۸) مؤرخـه ۱۳۵۵/۱۰/۸ ثبت گردیده به شما اطلاع داده شد تا در نشر آن بـه جریـده رسمی اقدام گردد.

**داکتر محمد حسن شرق**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## قانون مدنی

## باب تمهیدی

## فصل اول

## تطبیق قانون

### قسمت اول- قانون و حق

### مبحث اول – ساحه تطبیق قانون

**مادۀ ۱:**

(۱) در مواردی که حکم قانون وجود داشته باشد، اجتهاد جواز ندارد. احکام این قانون به اعتبار لفظ و یا فحوای آن، قابل تطبیق می‌باشد.

(۲) در مواردی که حکم قانون موجود نباشد، محکمه مطابق به اساسات کلی فقه حنفی شریعت اسلام حکم صادر می‌نماید که عدالت را به بهترین وجه ممکن آن تامین نماید.

**مادۀ ۲:**

در مواردی که حکمی در قانون و یا اساسات کلی فقه حنفی شریعت اسلام موجود نباشد، محکمه مطابق به عرف عمومی حکم صادر می‌نماید، مشروط بر این‌که عرف مناقص احکام قانون یا اساسات عدالت نباشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادۀ ۳:**

(۱) آنچه به زمان ثابت می‌گردد تا وقتی که دلیل مخالف آن موجود نشود، مدار اعتبار شناخته می‌شود.

(۲) الغای حکم قانون جز توسط قانون بعدی که صراحتاً به الغا یا تعدیل آن حکم نماید، صورت گرفته نمی‌تواند.

**مبحث دوم – استعمال حق**

**مادۀ ۴:**

شخصی که به اکتساب حق قبل از موعدش مبادرت ورزد، به حرمان از آن محکوم می گردد.

**مادۀ ۵:**

حالت اضطرار، موجب ابطال حق غیر نمی‌گردد.

**مادۀ ۶:**

ضرر توسط عمل بالمثل، از بین برده نمی‌شود.

**مادۀ ۷:**

دفع مفاسد بر جلب منافع مقدم می باشد.

**مادۀ ۸:**

جواز قانونی ضمان را نفی می‌کند، شخصی که از حق خود در حدود قانون استفاده می کند، مسئول خسارات ناشی از آن نمی‌باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادهٔ ۹:**

(۱) شخصی که از حق خود تجاوز نماید، ضمان بر او لازم می‌گردد.

(۲) تجاوز از حق در موارد آتی به وجود می‌آید:

۱ - اعمال مخالف عرف و عادت.

۲ - داشتن قصد تعرض بر حق غیر.

۳ - جزئی بودن مصلحت شخص نسبت به ضرری که به غیر وارد می‌سازد.

٤ - غیر مجاز بودن مصلحت.

## قسمت دوم- تطبیق قانون از حیث زمان

**مادهٔ ۱۰:**

(۱) احکام قانون بعد از نشر قابل تطبیق می‌گردد.

(۲) احکام قانون به ماقبل رجعت نمی‌کند، مگر در حالاتی که در خود قانون تصریح شده و یا احکام آن متعلق به نظام عامه باشد.

**مادهٔ ۱۱:**

(۱) احکام متعلق به اهلیت بالای جمیع اشخاص واجد شرایط مندرج این قانون تطبیق می‌گردد.

(۲) در صورتی که شخص نظر به احکام قانون جدید ناقص اهلیت شناخته شود، این احکام به تصرفات قبلی وی تاثیر ندارد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادۀ ۱۲:**

احکام جدید متعلق به مرور زمان به مجــرد انفاذ آن قابل تطبــیق است.

جمیع مواردی که مدت مرور زمــان مطابق به قانون ســابق تکمیـل نشـده باشـد، تـابع احکام قـانون جــدید مـی‌گردد.

**مادۀ ۱۳:**

هرگاه احکام قـانون جدید مدت مرور زمـان را نسبت قانون سابق کمتر تعیین نماید، گرچه این مدت قبـل از انفاذ قـانون جدیـد آغـاز یافته بـــاشد، تابع احکام قانون جدید می‌باشد.

**مادۀ ۱۴:**

در مورد ادله ای که قبلاً جمع آوری شــده، احکام قـوانینی تطبیـق می گردد که در وقت جمع آوری و یا وقتـی که باید جمـع آوری - می‌گردید، نـافذ بــوده است.

**مادۀ ۱۵:**

میعاد مطابق به تقویم هجری شمسی محاسبه می‌گردد.

**قسمت سوم- تطبیق قانون از حیث مکان**

**مادۀ ۱۶:**

در مـوارد تشـــخیص رابطه حقوقی در قضیه‌ای که تنـــازع قوانین در آن موجود گردد، احکام قانون افـغانستان قابل تطبیق می‌باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادهٔ ۱۷:**

در مـورد تثبیـت احـوا ل مـدنی و اهلیـت اشـخاص، قـانون دولـت متبوعه آنها تطبیق می‌گردد، تصرفات مالی که در افغانـستان عقـد گردیده و آثار مرتبـه آن نیـز در آن به وجود آمده باشد، در حالی که یکی از طرفین عقد تبــعه خارجی بوده و نـاقص اهلیـت باشــد طـوری که نقص اهلیت آن مبنـی بـر سـبب خفـی باشـد، بـا آنهـم واجــد اهلیت کامل شــناخته می‌شود.

**مادهٔ ۱۸:**

در مورد اشخاص حکمـی خـارجی مانند شـرکت‌هـا، جمعیـت‌هـا، مؤسسات و امثـال آن، قانون دولتی اعتبار دارد کـه ادارهٔ مرکـزی آنهـا در آن واقــع باشــد. اگـر فعالیـت عمــده ایـن اشـــخاص در افغانستان دایــر باشد قانون افــغانستان تطبیق می‌گردد.

**مادهٔ ۱۹:**

در مورد شرایط موضوعی صحت ازدواج، قوانین متبوعه هر یــک از زوجین تطبیـق مـی گـردد، و در شـرایط شـکلی ازدواج، احکـام قانون مملکتی رعایـت می‌گردد که ازدواج در آن صـورت گـــرفته است.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادهٔ ۲۰:**

(۱) در مورد آثار مرتبه بر ازدواج به شمول امور مالی، قانون دولتی تطبیق می‌گردد که زوج حین عقد ازدواج تابع آن باشد.
(۲) در خصوص طلاق، احکام قانون دولتی تطبیق می‌گردد که زوج در حین طلاق تابع آن باشد.
(۳) در حالات تفریق و انفصال قانون مملکتی اعتبار دارد که زوج حین اقامه دعوی تابع آن باشد.

**مادهٔ ۲۱:**

در حالات مندرج مواد (۱۹ و ۲۰) این قانون، اگر یکی از زوجین حین عقد ازدواج افغان باشد به استثنای شرط اهلیت، تنها احکام قانون افغانستان تطبیق می‌گردد.

**مادهٔ ۲۲:**

در مسایل متعلق به بنوت، ولایت و سایر وجایب فیمابین پدران و فرزندان، احکام قانون دولت متبوعه پدر تطبیق می‌گردد.

**مادهٔ ۲۳:**

در مورد اشخاص فاقد اهلیت، ناقص اهلیت و غایب، احکام قانون دولت متبوعه شان تطبیق می‌گردد. در خصوص نصب، قیم، وصی، ولی قانونی و امثال آن، احکام قوانین مربوط به این

(c) ketabton.com: The Digital Library



موضوعات و احکام سایر قـوانینی که به منظور حمایت اشـخاص مذکور وضـــع شـــده بـــاشد. قـــابل تطبیق میباشـد.

**مادۀ ۲۴:**

در مورد التزام به نفقه، احکام قـانون دولـت متـــبوعه شخـــصی کــه مکلـف به ادای نفقه میباشد، تطبیق میگردد.

**مادۀ ۲۵:**

(۱) در مورد احکـام موضـوعی متعلـق بـه ارث، وصـیت و سـایر تصرفات منسـوب به بعد از وفات، احکام قانــون دولــت متبوعـه مورث، وصـی یا شـــخـصی کـه حـین وفـات تـصـــرف از او بـه عـمل آمده باشد، تطبیق میگردد.

(۲) در خصوص احکام شکلی وصـــیت، احکـــام قـــانون وصـی در حین وصـــیت و یـا احکـام قـانون محلـی کـه در آن وصـیت تکمیل شده باشد، تطبیق میگردد.

همـچنان احکام شکـلی سایـر تـصـرفات منـسوب بـه بـــعد از وفـات تـابـع این حکم میبـــاشد.

**مادۀ ۲۶:**

در مورد حیازت ملکیت و سایر حقـوق عینی، قانون محلی تــطبیق مـی گردد که عقار در آن واقـع باشـد و در مـورد امــوال منقـول قـــانون محلی تطبیق میگردد که امـوال منقول حین تحقق اسـبابی

(c) ketabton.com: The Digital Library



که بر آن اکتساب و یا از دست دادن حق مرتب گردیده، در محل مذکور موجود بوده است.

**مادۀ ۲۷:**

در مورد وجائب ناشی از عقود، قانون دولتی تطبیق می‌گردد که طرفین عقد در آن اقامتگاه اختیار نموده اند. در صورت اختلاف اقامتگاه قانون دولتی تطبیق می‌گردد که عقد در آن تکمیل شده باشد. مشروط بر این‌که در خصوص تطبیق احکام کدام قانون معین، طرفین عقد موافقه ننموده باشند و یا از قرائن معلوم نگردد که مراد طرفین عقد، تطبیق قانون دیگری بوده است. در مورد عقود تکمیل شده متعلق به عقار، قانون محل عقار تطبیق می‌گردد.

**مادۀ ۲۸:**

در مورد شرایط شکلی عقود، احکام قانون دولتی تطبیق می‌گردد که عقد در آن تکمیل شده باشد.

**مادۀ ۲۹:**

(۱) درمورد وجائب غیر تعاقدی، احکام قانون دولتی تطبیق می‌گردد که در آن حادثۀ ایجاد کننده واقع شده باشد.

(۲) اگر وجیبه ناشی از حادثۀ باشد که در خارج افغانستان واقع شده و حادثه در آن محل غیر قانونی و در افغانستان قانونی شناخته شود، حکم فقرۀ(۱)این ماده تطبیق نمی‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادهٔ ۳۰:**

در مـورد قواعد اختـصاصی و تــمام امـور متــعلق بـه اجـراآت، احکام قانون دولـتی تطـبیـق می گردد که دعــوی در آن اقـامه یا اجـراآت در آن به عمل آمده بــاشد.

**مادهٔ ۳۱:**

احکام مندرج مواد قبلی این قسمت در صورتی نافـذ می‌باشــد کـه مخالف آن حکم دیگری در قــانون اخــتصاصی یـا معاهــده بـین الدول که در افغانستان نــافذ است نباشد.

**مادهٔ ۳۲:**

هرگاه در مـورد تنـازع قـوانین حکمـی در مـواد قبلـی ایـن قـانون موجود نباشد، قواعد حقوق بین الدول خصوصی تطبیق می‌گردد.

**مادهٔ ۳۳:**

تعیین قانـون واجــب التطبیق در مورد اشخاصی‌که تابعـیت شـان معلوم نباشـد، از صلاحــیت مـحــکمه اســت.

**مادهٔ ۳۴:**

در مواردی که تطبیق احکام قانون خارجی پیش بینی شـده اسـت، آن احکام موضوعی قانون مذکور که مــتعلق به قانون بین الـدول خصــوصی نباشد، تطبیق می‌گردد. اگــر درقــانون دولتی که احکام آن قابل تطبیق می‌باشد، تعـدد ادیـان وجـود داشـته باشـد احکام دینی که قانون آن دولت تعیین نموده، تطبیق می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادۀ ۳۵:**

احکام قانون خارجی به نحوی که در مواد قبلی این قسمت تصریح گردیده، در حدودی قابل تطبیق می‌باشد که مخالف نظام عامه یا آداب عمومی در افغانستان نباشد.

## فصل دوم

## اشخاص

### قسمت اول- شخص حقیقی

### مبحث اول - احکام عمومی

**مادۀ ۳۶:**

(۱) شخصیت انسان با ولادت کامل وی به شرط زنده بودن آغاز و با وفات انجام می یابد.

(۲) جنین دارای حقوقی می‌باشد که قانون بر آن تصریح نموده است.

**مادۀ ۳۷:**

تثبیت تاریخ ولادت و وفات ذریعۀ دفاتر رسمی مربوط صورت می‌گیرد. هرگاه اسناد مبنی بر ثبت ولادت و یا وفات موجود نبوده یا در مورد صحت ثبت اشتباه وارد گردد، برای اثبات ولادت و وفات از اقامه وسایل اثبات به ترتیبی استفاده می‌گردد که در قانون تصریح شده باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادهٔ ۳۸:**

هر شخص می‌تواند علاوه بر اسم خود، اسـم خـانوادگی انتخـاب نماید، اسم خانوادگی به اولاد انتقال مـی‌یابد. اگـر شـخص اسـم خانوادگی غیر را به خود انتـقال دهد و این عمل او موجب خساره به شخص اول گردد، متضرر مـی‌توانـد عـلاوه بـر مطالبهٔ منـــع، جبــران خساره را نیز از متعرض مطــالبــه نمــاید.

**مادهٔ ۳۹:**

ســن رشــد هجــده ســال مکــمل شمـسی مــی‌بــاشد. شـخص رشید در حالـت صـحت عقـل در اجـرای معامــلات، دارای اهلیـت حـقوقی کامل شناخته می‌شود.

**مادهٔ ۴۰:**

شخصی که از نگاه صغر سن، معتوه بـودن یا جنـون، غیـر ممیـز باشد، نمی‌تواند معاملات حقوقی را انجام دهـد. شـــخـصی کـه بـه سن هفت سالگی نرسیده باشد غیر ممیز محسوب می‌گردد.

**مادهٔ ۴۱:**

شـخص ممـــیزی کـه بـه ســن رشـد نرسـیده یـا اینکـه بـه ســن رشدرسیده اما سفــیه یا مبـتلا به غفلت کاری باشد، ناقص اهلیـت پنداشته می‌شود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادهٔ ۴۲:**

شخص ناقص اهلیت و فاقد آن تابع احکام وصایت، ولایت و قوامت مطابق به شرایط و قواعد پیش بینی شدهٔ این قانون می-باشد.

**مادهٔ ۴۳:**

هیچکس نمی‌تواند از اهلیت قانونی خود تنازل یا در آثار مرتبه آن تعدیلی وارد نماید.

**مادهٔ ۴۴:**

آزادی حق طبیعی انسان است، هیچکس نمی‌تواند از آن تنازل نماید.

**مادهٔ ۴۵:**

شخصی که حقوق شخصی او مورد تجاوز قرار می‌گیرد، می‌تواند علاوه بر مطالبه منع تجاوز در صورت وقوع ضرر طالب جبران خساره گردد.

**مبحث دوم - حالت مدنی**

**مادهٔ ۴۶:**

اشخاصی که سن هجده سالگی را تکمیل می‌کنند حالت مدنی شان در دفاتر مخصوص ثبت سجلات مطابق به احکام مندرج مواد (٤٧ ، ٤٨ ، ٤٩ ، ٥٠) این قانون درج می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادهٔ ۴۷:**

(۱) حالت مدنی یک شخص در ورقهٔ مخصوص هویت درج و در صورت مطالبه برایش داده می‌شود. ورقهٔ هویت محتوی: اسم، تخلص یا اسم فامیلی، تاریخ و محل تولد، وظیفه، تابعیت، محل اقامت، اسم همسر و اولاد با تاریخ و محل تولد شان می‌باشد.

(۲) تغییر حالات متذکره از قبیل وفات، تغییر محل اقامت یا وظیفه نیز در ورق هویت درج می‌گردد.

**مادهٔ ۴۸:**

اسناد مربوط به ازدواج، طلاق،اقرار به بنوت و ثبوت نسب که در مراجع اختصاصی ترتیب می‌گردد، در دفاتر مندرج مادهٔ (٤٦) این قانون به ثبت می‌رسد، مراجع موصوف مکلف اند وقایع مذکور را جهت ثبت به ادارهٔ مربوط کتباً اطلاع دهند.

**مادهٔ ۴۹:**

څارنوال می تواند از جریان ثبت سجلات، دفاتر مخصوصه مندرج مادهٔ (٤٦) این قانون اطلاع حاصل و در صورت مشاهده تخلف و سوء اجراآت به اقدامات قانونی بپردازد.

**مادهٔ ۵۰:**

جمیع حالات مندرج مواد (٤٦ ، ٤٧ ، ٤٨ ، ٤٩) این قانون که در دفتر مخصوص ثبت سجلات یا تذکره نفوس درج گردیده، در

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقابل غیر، حجت شناخته می‌شود. اعتراض در مورد همچو اسناد مجاز نیست، مگر این‌که اعتراض بر جعلیت یا تزویر اسناد مذکور بنا یافته باشد.

**مبحث سوم – اقامتگاه**

**مادهٔ ۵۱:**

(۱) اقامتگاه جایی است که شخص عادتاً در آن سکونت دارد، خواه این سکونت دایم یا مؤقت باشد.
(۲) شخص می‌تواند بیش از یک اقامتگاه داشته باشد.

**مادهٔ ۵۲:**

(۱) اقامتگاه ناقص اهلیت، محجور، مفقود و غایب عبارت از اقامتگاه قایم مقام قانونی شان می‌باشد.
(۲) اشخاص ناقص اهلیت که ماذون به تجارت باشند، می‌توانند در مورد اجرای معاملات و تصرفات مجوزه، صاحب اقامتگاه خاص شناخته شوند.

**مادهٔ ۵۳:**

جایی که شخص در آن تجارت  یا پیشه اختیار می نماید، از جهت اداره امور متعلق به آن اقامتگاه وی شناخته می‌شود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادهٔ ۵۴:**

(۱) شخص می‌تواند برای اجرای یک عمل معین قانونی اقامتگاه اختیاری داشته باشد.

(۲) اقامتگاهی که برای اجرای یک معاملهٔ معین قانونی اختیار می گردد، برای جمیع مسایل مربوط به آن به شمول اجراآت متعلق به تنفیذ اجباری اعتبار دارد، مگر این‌که اقامتگاه مذکور صراحتاً برای معاملات مشخص تعیین شده باشد.

(۳) اثبات اقامتگاه اختیاری بدون اسناد کتبی جواز ندارد.

## مبحث چهارم – تابعیت

**مادهٔ ۵۵:**

تابعیت افغانی توسط قانون خاص تنظیم می‌گردد.

## مبحث پنجم – فامیل

**مادهٔ ۵۶:**

فامیل انسان متشکل از اقاربی است که توسط یک اصل مشترک با هم جمع شده باشند.

**مادهٔ ۵۷:**

قرابت مستقیم عبارت از نسبت اصل و فرع می‌باشد و قرابت غیر مستقیم نسبت بین اشخاص است، که دارای اصل مشترک بوده بدون این‌که یکی فرع دیگری باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادهٔ ۵۸:**

(۱) در محاسبه درجه قرابت مستقـیم از فرع به اصل، هر فرع یک درجه شناخته شده و خود اصل درین محاسبه شامل نمی‌بـاشد.

(۲) در محاسبه درجه قرابت غیر مستقیم از فرع به اصـل مـشترک و عکس آن، هـر فرع یک درجـه شناختـه شــده و اصـل مـشترک درین مـحاسبه شـامل نمی‌باشد.

**مادهٔ ۵۹:**

اقــارب یکی از زوجــین در مـورد زوج دیگـر بـه عـین قرابـت و درجه شــناخته می‌شود

**مبحث ششم - ازدواج**

**مادهٔ ۶۰:**

ازدواج عقدی است که معاشرت زن و مـرد را بـه مقـصد تـشکیل فـامیل مشروع گــردانیده حقوق و واجبــات طـرفین را بـه وجـود می آورد.

**مادهٔ ۶۱:**

(۱) عقد ازدواج در نکاح نامهٔ رسـمی توسط ادارهٔ مـربوط در سـه نقل تـرتیـب و ثبـت می‌گردد، اصل آن در ادارهٔ مـربــوط حفـظ و به هر یـک از طرفیـن عقد یک نقل آن داده می شـود. عــقد ازدواج بعد از ثبت به دفاتــر مخـصوص بـه اطـلاع اداره ثبت سجــلات مــندرج مادهٔ (٤٦) ایـن قانـون رسـانیده می‌شود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) اگر ثبت عقد ازدواج به این ترتیب ممکن نباشد، به نحو دیگری که برای ثبت اسناد رسمی پیش بینی شده است، صورت می‌گیرد.

**مادهٔ ۶۲:**

نامزدی با زنی جواز دارد که در قید نکاح و عدت غیر نباشد.

**مادهٔ ۶۳:**

خواستگاری زن در عدت طلاق رجعی یا باین به عبارت صریح و کنایه و در عدت وفات به عبارت صریح جواز ندارد.

**مادهٔ ۶۴:**

نامزدی عبارت از وعده به ازدواج است، هر یک از طرفین می‌تواند از آن منصرف شود.

**مادهٔ ۶۵:**

هرگاه نامزد به نامزد خود هدیه داده باشد، هدیه دهنده می تواند در صورت انصراف جانب مقابل و موجدیت هدیه، عین یا قیمت روز خرید آن را مطالبه نماید. اگر انصراف از طرف هدیه دهنده صورت بگیرد یا هدیه هلاک و یا استهلاک گردیده باشد، رد آن را به هیچ صورت مطالبه کرده نمی‌تواند.

**مادهٔ ۶۶:**

عقد ازدواج با ایجاب و قبول صریح که فوریت و استمرار را افاده کند بدون قید وقت در مجلس واحد صورت می‌گیرد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادۀ ۶۷:**

ازدواج در صورت تعلیق آن به شرط غیر محقق یا مضاف ساختن آن به زمان آینده عقد شده نمی‌تواند.

**مادۀ ۶۸:**

هرگاه در عقد ازدواج شرطی گذاشته شود که مخالف قانون و اهداف ازدواج باشد، عقد صحیح و شرط باطل پنداشته می‌شود.

**مادۀ ۶۹:**

در عقد ازدواج بدل، زن، بدل زن دیگر قرار نگرفته و برای هریک از زوجه‌ها مهر مثل لازم می‌گردد.

**مادۀ ۷۰:**

اهلیت ازدواج وقتی کامل می گردد، که ذکور سن (۱۸) و اناث شانزده سالگی را تکمیل کرده باشند.

**مادۀ ۷۱:**

(۱) هرگاه دختر سن مندرج مادۀ (۷۰) این قانون را تکمیل نکرده باشد، عقد ازدواج وی تنها توسط پدر صحیح التصرف یا محکمۀ با صلاحیت صورت گرفته می‌تواند.

(۲) عقد نکاح صغیره کمتر از (۱۵) سال به هیچ وجه جواز ندارد.

**مادۀ ۷۲:**

(۱) گرفتن وکیل برای عقد ازدواج جواز دارد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) وکیل نمی تواند مؤکلهٔ خود را به عقد نکاح خود درآورد، مگر اینکه در عقد وکالت به آن تصریح شده باشد.

**مادهٔ ۷۳:**

وکیل نمی‌تواند در عقد ازدواج بدون تفویض صلاحیت یا اجازه مؤکل یا مؤکلهٔ خود، شخص دیگری را به صفت وکیل انتخاب نماید.

**مادهٔ ۷۴:**

وکیل نمی تواند عملی را که خارج از حدود وکالت او باشد، انجام دهد. تصرف خارج از حدود وکالت بمثابه عمل فضولی بوده و موقوف به اجازه مؤکل یا مؤکلهٔ او می‌باشد.

**مادهٔ ۷۵:**

وکیل به تسلیم زوجه به زوج و پرداخت مهر مکلف نمی‌باشد، مگر این‌که از پرداخت مهر ضمانت کرده باشد. درین صورت وکیل نمی‌تواند که مهر تادیه شده را از زوج مطالبه نماید. جز درحالتی که ضمانت وکیل به اجازهٔ زوج صورت گرفته باشد.

**مادهٔ ۷۶:**

در صورتی‌که طرفین عقد اصالتاً، شرعاً یا توکیلاً تحت ولایت شخص واحد قرار داشته باشند، شخص می‌تواند به تنهائی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ازجانب طرفین عقد ایجاب و قبول نماید، مشروط براین که شرایط قانونی عقد رعایت شده باشد.

**مادهٔ ۷۷:**

برای صحت عـقد نکاح و نـفاذ آن شـرایط آتـی لازم اسـت:

۱– انجام ایـجاب وقبـول صـحیح تـوسط عاقـدین یـا اولیـاء یـا وکلای شان.

۲ – حضور دو نفر شاهد با اهلیت.

۳– عدم موجودیت حـرمت دائمی و یا مؤقت بین ناکح و منکوحه.

**مادهٔ ۷۸:**

قاضی ولی اشخاصی است که ولی نداشته باشند.

**مادهٔ ۷۹:**

اشخاصی‌که طبق مادهٔ (۷۸) این قانـون تحـت ولایـت قاضـی قـرار می‌گیرند، قاضی نمی‌تواند آنها را به عقد ازدواج خود یـا اصـول و فروع خویش در آورد.

**مادهٔ ۸۰:**

هرگاه عاقلهٔ رشیده بدون موافقه ولی ازدواج نمـاید، عقد نکاح نافذ و لازم می‌باشد.

**مادهٔ ۸۱:**

ازدواج شخص با اصول و فروع خود و فروع پدر و مـادر و طبقـه اول فروع اجداد به طور ابـدی حرام است.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادۀ ۸۲:**

ازدواج شخص با زوجۀ اصول و زوجۀ فروع خودش به طور دایم حرام است. همچنان ازدواج شخص با اصول زوجه‌اش مطلقاً و با فروع زوجه در صورت دخول به طور دایم حرام می‌باشد.

**مادۀ ۸۳:**

ازدواج زانی با اصل و فرع مزنیه همچنان ازدواج مزنیه بااصول و فروع زانی حرام می‌باشد.
ازدواج اصول و فروع مزنیه با اصول و فروع زانی ازین امر مستثنی است.

**مادۀ ۸۴:**

حرمت رضاعی به استثنای حالات ذیل مانند حرمت نسبی است:
۱ - خواهر پسر رضاعی.
۲ - مادر خواهر یا برادر رضاعی.
۳ - مادر کلان پسر یا دختر رضاعی.
٤ - خواهر برادر رضاعی.

**مادۀ ۸۵:**

در حالات ذیل حرمت مؤقت موجود می‌گردد:
۱ - جمع در نکاح بین دو زنی‌که هرگاه یکی آن ها مرد فرض شود،
حرمت ازدواج بین شان به وجود آید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ – مطلقه ثلاثه تا زمانی‌که با شخص دیگری ازدواج نماید.

۳ – منکوحه و معتدهٔ غیر.

٤ – زنی‌که لعان شده باشد تا وقتی‌که، شوهر خود را تکذیب نماید.

٥ – زنی‌که اهل کتاب نباشد.

**مادهٔ ۸۶:**

ازدواج به بیش از یک زن بعد از تحقق حالات آتی صورت گرفته می‌تواند:

۱ – در حالتی‌که خوف عدم عدالت بین زوجات موجود نباشد.

۲ – در حالتی‌که شخص کفایت مالی برای تأمین نفقه زوجات از قبیل غذا، لباس، مسکن و تداوی مناسب را دارا باشد.

۳ – در حالتی‌که مصلحت مشروع مانند عقیم بودن زوجهٔ اولی و یا مصاب بودن وی به امراض صعب العلاج، موجود باشد.

**مادهٔ ۸۷:**

زنی‌که شوهر وی بر خلاف حکم مادهٔ (۸٦) این قانون ازدواج نموده باشد، می تواند مطابق به احکام مندرج مادهٔ (۱۸۳) این قانون، بر اساس تفریق به سبب ضرر از محکمه مطالبه طلاق نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادهٔ ۸۸:**

زن مـی‌توانـد هنگـام عقـد ازدواج شـرط گـذارد کـه اگـر زوج وی مخالف احکام منــدرج مـادهٔ (۸٦) ایـن قـانون بـا زن دیگـر ازدواج کنـد، صلاحیت طلاق بـــه او انـتقال داده می‌شود.

این شرط وقتی اعتبار دارد که در وثیقهٔ نکاح درج شده باشد.

**مادهٔ ۸۹:**

شخصی‌که در ازدواج با بیش از یک زن مطــابق حکم مندرج مادهٔ (۸٦) این قانون متاهل بودن خود را کتمـان نمایـد و رضـــائیت و موافقه صریح زنی را کـــه جــدیداً به نکاح گرفتـه اسـت در مـورد بدست نیاورده بــاشـــد، درین‌صورت زوجــه جــدید می‌تواند در صورت عـدم رضـائیت بـــه دوام مـــعاشرت بـــا زوج، مطـابق بـه احکام مــندرج مـادهٔ (۱۸۳) بـر اسـاس تفریـق بـه سـبب ضـرر از محکمه مطـــالبه طـلاق نـماید.

**مبحث هفتم – آثار ازدواج**

**فرع اول – احکام عمومی**

**مادهٔ ۹۰:**

بر نکاح صحیح و نافذ تمام آثار آن از قبیـل، نفــقهٔ زوجـه، حقـوق میراث، ثبــوت نسب و حرمت مصاهـره مرتب می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادۀ ۹۱:**

